د پوهنې وزارت

# اسلامي ښوونه او روزنه

## یوولسم ټولګی

اسلامي ښوونه او روزنه - یوولسم ټولګی



Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

# اسلامي ښوونه او روزنه

## یوولسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ .ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړتیاوې

**مضمون:** اسلامي ښوونه او روزنه

**مؤلفین:** د تعلیمي نصاب د اسلامي زده کړو برخې د درسي کتابونو مؤلفین

**اډیټ کوونکي:** د پښتو ژبې د اډیټ دیپارټمنټ غړي

**ټولګی:** یوولسم

**د متن ژبه:** پښتو

**انکشاف ورکوونکی:** د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

**خپروونکی:** د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

**د چاپ کال:** ۱۳۹۸ هجري شمسي

**د چاپ ځای:** کابل

**چاپخونه:**

**برېښنالیک پته:** curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلند کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپیڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي یې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوعاتو فهرست

لومړی لوست – آسماني کتابونه ..... ۱
دویم لوست – وحي ..... ۵
دریم لوست – پر انبیاوو او رسولانو ایمان ..... ۸
څلورم لوست – د انبیاوو او رسولانو علیهم السلام صفتونه ..... ۱۳
پنځم لوست – اولو العزمه پیغمبران ..... ۱۷
شپږم لوست – معجزه او سحر ..... ۲۰
اووم لوست – کرامت او استدراج ..... ۲۴
اتم لوست – قضاء او قدر ..... ۲۶
نهم لوست – د برزخ حالات ..... ۳۰
لسم لوست – بعث او حشر ..... ۳۵
یوولسم لوست – د پیغمبرﷺ شفاعت ..... ۳۸
د حدیثو برخه ۴۱
دولسم لوست – غیبت لویه ګناه ده ..... ۴۲
دیارلسم لوست – مسلمان د مسلمان هنداره ده ..... ۴۶
څوارلسم لوست – د مشورې اهمیت ..... ۴۹
پنځلسم لوست – د بېوزلو سره مرسته ..... ۵۲
شپاړسم لوست – د لوېو پالنه او روزنه ..... ۵۵
اوولسم لوست – د حلالې روزۍ ګټل ..... ۵۹
اته لسم لوست – په دین کې آسانتیا ..... ۶۲
نو لسم لوست – لعنت(ښېرا) وېل ..... ۶۶
شلم لوست – په چارو کې منځنی حالت غوره کول ..... ۶۹
یوویشتم لوست – په ځوانۍ کې د الله ﷻ بنده ګي ..... ۷۲
دوه ویشتم لوست – په لار کې د کېنیناستلو آداب ..... ۷۶
د فقهي برخه ۸۰
دری ویشتم لوست – کورنۍ ..... ۸۱
څلور ویشتم لوست – نکاح ..... ۸۵
پنځه ویشتم لوست – د نکاح مقدمات ..... ۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


شپږ ويشتم لوست – د نکاح ارکان او شرطونه ........ ۹۲
اوه ويشتم لوست – ولايت ........ ۹۵
اته ويشتم لوست – کفائت ........ ۹۸
نهه ويشتم لوست – د نکاح محرمات ........ ۱۰۰
دېرشم لوست – رضاعي محرمات (حراموالی) ........ ۱۰۳
يو دېرشم لوست – موقتي محرمات ........ ۱۰۵
دوه دېرشم لوست – مُتعه ........ ۱۰۹
درې دېرشم لوست – مهر ........ ۱۱۱
څلور دېرشم لوست – وليمه ........ ۱۱۵
پنځه دېرشم لوست – د ښځې او خاوند حقوق ........ ۱۱۸
شپږ دېرشم لوست – د خاوند حقوق په ښځه باندې ........ ۱۲۲
اوه دېرشم لوست – حجاب ........ ۱۲۶
اته دېرشم لوست – د ښځې او مېړه د ستونزو د حل لارې ........ ۱۳۲
نهه دېرشم لوست – طلاق ........ ۱۳۶
څلوېښتم لوست – د طلاق ډولونه ........ ۱۳۹
يو څلوېښتم لوست – د تفريق ډولونه (۱) ........ ۱۴۱
دوه څلوېښتم لوست – د تفريق پاتې ډولونه (۲) ........ ۱۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی لوست

# آسماني کتابونه

الله تعالی د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره وخت پر وخت کتابونـه را لیږلـي دي، تـر څـو دوی د هغو کتابونو له لارښوونو سره سم خپل ژونـد عیـار او د دنیـا او آخـرت نېکمرغـی خپلې کړي.

## د کتاب تعریف

کتاب په لغت کې له کتابت څخه اخیستل شوی او لیکنې ته ویل کېږي او آسماني کتاب د الله تعالی د لارښوونو هغه کلام دی چې د خپلو رسولانو څخه يې يو رسول ته ورکـوي چې خلکو ته يې ورسوي.

## د تعریف شرح

له کتاب څخه دلته د الله تعالی کلام مراد دی چې له نور او لارښوونو څخه بـرخمن دی، الله تعالی په هره زمانه کې د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره آسماني کتاب را نـازل کـړی چې هغوی دغه آسماني کتاب د خپل سپېڅلي قانون په توګه ومني او پیـروي يـې وکـړي چې د دنیا په ستونزمنو او کړکېچنو لارو کې خپله لار ورکه نه کړي.

## د آسماني کتابونو د اثبات دلایل

په آسماني کتابونو باندې د ایمان د اثبات لپاره په قرآن کریم او د نبي کریمﷺ په مبارکو احادیثو کې ډېر زیات دلایل شته چې موږ يې دلته په لنډ ډول بیانوو:

### قرآن کریم

الله تعـالی پـه قـرآن کـریم کـې فرمـایي: ﴿قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَى وَعِيسَى وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِنْ رَبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ﴾ [البقرة: ١٣٦] **ژباړه**: ووایئ چې! موږ ایمـان راوړی دی پـه الله او پر هغه هدایت چې موږ ته راغلی دی او هغه چې ابـراهیمعليه السلام، اسـماعیلعليه السلام، اسـحاق عليه السلام، یعقـوبعليه السلام او د یعقـوبعليه السلام ځوځـات تـه راغلـی و او هغـه چـې موسـیعليه السلام، عیسیعليه السلام او نورو ټولو پیغمبرانو ته د هغو د رب له لوري ورکـړی شـوی و، مـوږ د هغـو په منځ کې هېڅ توپیر نه کوو، او موږ الله ته سر ټیټوونکي یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې مبارک آیت کې الله تعالی مؤمنان مامور کړي چې په قرآن کریم او په هغو کتابونو چې له قرآن کریم څخه مخکې نازل شوي ایمان راوړي.

الله تعالی په بل آیت کې فرمایي: ﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ﴾ [البقرة: ٢٨٥]

ژباړه: پیغمبر پر هغه هدایت ایمان راوړی دی چې د هغه د رب له خوا پر هغه نازل شویدی او څوک چې د دې پیغمبر منونکي دي، هغوی هم دا هدایت د زړه په مینه منلی دی. دوی ټولو الله، د هغه پرښتې، د هغه کتابونه او د هغه پیغمبرانﷺ منلي دي او د هغو وینا دا ده چې: "موږ د الله په پیغمبرانو کې یو له بله توپیر نه کوو، موږ حکم واورېده او اطاعت مو ومانه زموږ څښتنه! موږ ستا څخه د ګناه د ببښنې غوښتونکي یو او همدا ستا لوري ته زموږ درتګ دی.

الله تعالی پدې مبارک آیت کې د نبي کریمﷺ او مؤمنانو د ایمان صفت بیان کړی او هغه څه یې پکې څرګند کړي چې دوی په ایمان راوړلو پرې مامور شوي دي چې هغه ایمان په الله تعالی، ملایکو، کتابونو، رسولانو او نورو دی.

همدارنګه الله تعالی په یو بل مبارک آیت کې داسې فرمایي:﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَى رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا﴾ [النساء: ١٣٦] **ژباړه:** اې مؤمنانو! په الله، په رسول یې او په هغه کتاب ایمان راوړئ چې الله تعالی پر خپل رسول را نازل کړی او په هغه کتاب چې لومړی یې نازل کړی او څوک چې له الله او د هغه له ملایکو، کتابونو، رسولانو او وروستۍ ورځې څخه منکر شي، نو رښتیا چې هغه په بې لارېتوب کې ډېر لرې ولاړ.

**حدیث شریف**

کله چې جبرائیلؑ له نبي کریمﷺ څخه د ایمان په هکله پوښتنه وکړه، رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ».[١]

**ژباړه:** ایمان دې ته ویل کیږي چې ته ایمان او یقین وکړې په الله تعالی او د هغه په

---

١ - صحیح مسلم - (١ / ٢٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملايکو، کتابونو، رسولانو، د قيامت په ورځ او پدې ايمان او باور ولرې چې د خير او شر ټولو اندازه د الله تعالی له لوري ده.

## په آسماني کتابونو د ايمان لرلو حکم

په ټولو آسماني کتابونو چې د الله تعالی له لوري را نازل شوي ايمان راوړل، يقين او باور کول پرې فرض دي.

## آسماني کتابونو ته د خلکو اړتيا

د بشر د تاريخ له پلټلو څخه خرګنديږي چې انسان له يو لوري ځان غوښتنه لري، ځان خوښوي او د نورو آزادي او حقوق د برلاسي توب په وخت کې اکثراً په نظر کې نه نيسي.

**فعاليت:** له پخواني او معاصر تاريخ څخه د ظالمو چارواکو او زوروررو خپلسرو قومونو د بشري ځان غوښتنې ځينې بېلګې د مثال په توګه په وار سره بيان کړئ.

او له بل پلوه د بشر پوهه نيمګړې ده، د کايناتو او د هغو د خالق په اړه له لارښوونې پرته حقيقت ته نه شي رسېدای او په همدې توګه د ټولنيزو اصولو او قوانينو په هکله يې علم نيمګړی دی، غوره او ګټورې لارې چارې په خپل سری سره نه شي پېژندلی، الله تعالی د انسان دې نيمګړتيا ته زمونږ پام را اړوي فرمايي: ﴿أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ أَنْ يُتْرَكَ سُدًى ۞ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِنْ مَنِيٍّ يُمْنَى﴾ [القيامة: ۳٦، ۳۷] آيا انسان ګومان کوي چې خپل سری دې پرېښودل شي، آيا دی د منيو نطفه نه و چې په رحم کې غورځول کېده.

**فعاليت**

زده کوونکي دې په وار سره د لاندې پوښتنو او ځوابونو په هکله خبرې اترې وکړي:

۱. هغه فيلسوفان چې په خپل عقل باندې په تکيه کولو يې د بشر د ژوند لپاره قوانين رامنځته کړي، آيا د ژوند د اصولو په هکله سره يوه خوله دي؟
۲. آيا بشر د دې وړتيا لري چې خپل سری پرېښودل شي؟
۳. د الله تعالی له لوري د شريعت راليږلو ته څه اړتيا ليدل کيږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بشر سخته اړتیا درلوده چې الله تعالی د دوی د لارښوونې او له هغه پکې کېدو څخه د ویستلو لپاره په بېلابېلو وختو کې پیغمبران را واستوي او د هغوی په لاس شریعتونه او کتابونه رانازل کړي.

الله تعالی فرمايي: ﴿رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا﴾ [نساء:۱۶۵]،

**ژباړه:** (الله تعالی) زېرى ورکوونکي او وېرونکي پیغمبران راواستول چې له هغوی وروسته د خلکو لپاره په الله تعالی کوم حجت نه وي او الله تعالی غالب او د حکمت خاوند دی.

دا خبره ضروري ده باید پرې پوه شو چې د ټولو آسماني کتابونو پیغام په قرآن کریم کې شتون لري او دغه کتاب د ټول بشریت د لارښوونې وروستنی کتاب دی. په دې سربېره د الله ﷻ په دې کتاب کې برکتونه دي، د هغه تلاوت ذکر دی او په دنیا کې د رحمتونو او په آخرت کې د ژغورنې سبب ګرځي.

## پوښتنې

۱. کتاب تعریف کړئ!
۲. په آسماني کتابونو باندې د ایمان د اثبات دلایل ووایئ!
۳. رسول الله ﷺ جبرائيل عليه السلام ته د ایمان په هکله څه وويل؟
٤. په آسماني کتابونو باندې د ایمان حکم بیان کړئ!
۵. آسماني کتابونو ته خلک څه اړتیا لري؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې آسماني کتابونو ته د خلکو د اړتیا تر سرلیک لاندې یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وحي

پدې لوست کې موږ په وحې باندې له ايمان راوړلو څخه بحث کوو.
وحې څه ته ويل کيږي؟ وحې د چا له خوا په چا باندې نازليږي؟

## د وحې تعريف

وحې په لغت کې په ډېرو معناګانو سره استعمال شوې ده لکه: اشاره، پيغام، الهام، خفي کلام، امر او کتابت.[1] او د عقايدو د علم په اصطلاح کې د الله تعالی له لوري په پټه او خارق العاده طريقې سره د نبي خبرولو ته وحې ويل کيږي.[2]

## د تعريف شرح

وحې د الله تعالی له لوري له هغه چا سره چې د پيغمبرۍ لپاره يې غوره کړی وي په هر هغه څه چې اراده يې لري، په خفي او داسې طريقو سره خبرولو ته ويل کيږي چې د بندګانو په وس او توان پوره نه وي.

## د وحې د ثبوت دليل

نقلي دليل: حضرت محمدﷺ لومړنی پيغمبر نه و او نه لومړنی انسان و چې خلکو ته يې له وحې څخه خبرې کولې او دوی يې په آسماني خبرو باندې خبرول، بلکې له آدم عليه السلام څخه پيل تر حضرت محمدﷺ پورې ډېر پيغمبران تېر شوي چې خلکو يې له وحې څخه خبرول. دوی له ځيلو ځانونو څخه خبرې نه جوړولې، بلکې د الله تعالی له لوري په راليږلې وحې به يې دوی خبرول لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَعِيسَى وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَارُونَ وَسُلَيْمَانَ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا ۞ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا﴾ [النساء: ١٦٣، ١٦٤] **ژباړه:** اې محمدهﷺ موږ تا ته په هم هغه شان وحې ليږلې ده، لکه چې نوح عليه السلام او له هغه وروسته پيغمبرانو ته مو ليږلې وه. موږ ابراهيم عليه السلام، اسماعيل عليه السلام، اسحٰق عليه السلام، يعقوب عليه السلام او د يعقوب عليه السلام اولادې، عيسٰی عليه السلام، ايوب عليه السلام، يونس عليه السلام، هارون عليه السلام او سليمان عليه السلام ته وحې وليږله او موږ داؤد عليه السلام ته زبور ورکړ او موږ پر هغو پيغمبرانو هم وحې نازله کړې چې د هغو يادونه مو

---

١ - لسان العرب، القاموس المحيط،، تفسير الرازي او تفسير البيضاوي.

٢ - مناهل العرفان - (١ / ٤٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دي نه مخکې تا ته کړېده او پر هغو پيغمبرانو هم چې د هغو يادونه مو تاته نـه ده کـړې.
الله له موسی عليه السلام سره داسې خبرې کړې دي لکه څنگه چې خبرې کيږي.
په يو بل آيت کې الله تعالی د محمد ﷺ په هکله فرمايي: ﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى۞ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى﴾ [النجم: ۳، ٤] **ژباړه:** هغه له خپل نفسي خواهش څخه نه غږېږي، دا خـو يـوه وحې ده چې پر هغه نازليږي. همدارنگه الله تعالی په يو بل آيت کې فرمايي: ﴿أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَا إِلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ أَنْ أَنْذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ قَالَ الْكَافِرُونَ إِنَّ هَذَا لَسَاحِرٌ مُبِينٌ﴾ [يونس: ۲] **ژباړه:** آيا د خلکو لپاره دا د حيرانتيا وړ خبره شوه چې موږ له همغو څخه يوه سړي ته وحې وکړه چې (پـه غفلـت کـې لوېـدلي) خلـك را ويښ کړه او څوك چې يې ومني هغو ته زېری ورکړه چې د دوی لپـاره د هغـو لـه رب سره ريښتونی عزت او سرلوړي ده؟ منکرانو وويل چې دا سړی ښکاره کوډگر دی؟.

## عقلي دليل

وحې يو ريښتونی واقعيت دی، څوك چې د الله تعـالی پـر وجـود او د هغـه د قـدرت پـه کمال ايمان لري د وحې له وجود څخه نه منکرېږي.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د وحې د دليلونو په اړه يو له بل سره خبرې وکړي.

### پر وحې د ايمان حکم

په ټولو نازل شويو کتابونو او په ټولو وحيو باندې په اجمالي توگه ايمان او باور لرل فرض دي.

### د وحې ډولونه

الله تعالی خپلو پيغمبرانو ته په درې ډوله وحې کړې ده:

۱. د الهام او خوب په توگه وحې.

أ. الهام: لکه څرنگه چې نبي کريم ﷺ فرمـايي: «إن روح القدس نفث في روعي أن نفسا لن تموت حتى تستكمل أجلها وتستوعب رزقها فأجملوا في الطلب ولا يحملن أحدكم استبطاء الرزق أن يطلبه بمعصية فإن الله لا ينال ما عنده إلا بطاعته»[1] **ژباړه:** يقيناً چې جبرائيل عليه السلام زما په زړه کې دا خبره الهام کړه چې هېڅ نفس تر هغه وخته نـه مـړ کيږي، تـر څـو خپلـه ټاکلې نېټه پوره کړي او خپل رزق پوره تمام کړي، نو رزق له روا لارو وغواړئ او د رزق ورو کېدل او کموالی دې په تاسو کې هېڅ يـو دې تـه اړ نکـړي چـې پـه نـاروا

---

۱ - حلية الأولياء - (۱۰ / ۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارو يې ولټوي، ځکه هغه څه چې د الله تعالی په وړاندې شته هغه د طاعت څخه پرته په نورو نارواوو لارو نه شي تر لاسه کېدای.

ب. **په خوب کې ليدل:** لکه څرنګه چې الله تعالی ابراهيمعليه السلام ته په خوب کې وحې وکړه چې خپل زوی اسماعيلعليه السلام ذبحه کړي او له همدې رښتينو خوبونو څخه پر حضرت محمدﷺ باندې وحې پيل شوې ده.

۲. **د پردې تر شا خبرې کول:** يعنې پدې صورت کې به د پيغمبر او الله تعالی تر منځ واسطه موجوده نه وه، بلکې پرته له واسطې به الله تعالی خپل پيغمبر ته وحې کولې لکه څرنګه چې موسیعليه السلام د الله تعالی خبرې پرته له واسطې څخه اورېدلې دي.

۳. **د ملايکې په واسطه:** يا به الله تعالی خپل پيغمبر ته ملايکه لېږله، نو دې ملائکې به هغه وحې پيغمبر ته رسوله چې دا د جبرائيلعليه السلام دنده وه.(۱)

د وحې پورتنې درې ډولونه الله تعالی پدې مبارک آيت کې داسې بيانوي: ﴿وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ﴾ [الشورى: ٥١] **ژباړه:** هېڅ بشر دا مقام نه لري چې الله له هغه سره مخامخ خبرې وکړي يا خو د هغه خبرې په وحې (اشاره) سره وي يا د پردې تر شا، يا کوم پيغام راوړونکې (پرښته) لېږي او پرښته د الله په حکم سره هر څه چې هغه غواړي وحې کوي، هغه لوړ او د حکمت خاوند دی.

**فعاليت:** زده کوونکي دې د وحې د ډولونو په اړه يو له بل سره خبرې وکړي.

**پوښتنې**

۱. وحې لغتاً او اصطلاحاً تعريف کړئ.
۲. د وحې د شتون دليلونه بيان کړئ.
۳. په وحې باندې د ايمان حکم څه دی؟
٤. د وحې ډولونه بيان کړئ.
٥. هغه مبارک آيت ذکر کړئ چې الله تعالی د وحې ډولونه په کې ذکر کړي دي.

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د وحې په اړه په خپلو کتابچو کې يوه مقاله وليکي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

---

۱ - تفسير الرازي، ج: ۲۷، ص: ۱۸٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست

# پر انبیاوو او رسولانو ایمان

۱.  نبي او رسول چا ته ویل کېږي؟
۲.  آیا نبوت او پیغمبري په کار او زیار سره ترلاسه کېدای شي؟

## ۱- د نبي او رسول تعریف

أ.  نبي: چې د الله تعالی له لوري وحې ورته راغلې وي.

ب. رسول: هغه چا ته ویل کېږي چې الله تعالی خپلو بندګانو ته د خپلو احکامو د رسولو لپاره له نوي شریعت سره استولی وي.

## ۲. د نبي او رسول تر منځ توپیر

رسول هغه چا ته ویل کېږي چې الله تعالی خپلو بندګانو ته له نوي شریعت سره را استولی وي چې هغه خلکو ته ورسوي او نبي هغه دی چې الله تعالی د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره رالېږلی وي، برابره خبره ده که د پخوانیو انبیاوو شریعت خلکو ته رسوي، نوی شریعت ورسره نه وي او یا هم نوی شریعت ورکړل شوی وي، نو هر رسول ته نبي ویل کېږي، خو هر نبي ته رسول نه ویل کېږي.

## ۳.  د انبیاوو شمېر

په قرآن کریم کې د پنځه ویشتو انبیاوو یادونه راغلې، اتلس تنه يې د الله تعالی په دې قول کې ذکر شوي: ﴿وَتِلْكَ حُجَّتُنَا آتَيْنَاهَا إِبْرَاهِيمَ عَلَى قَوْمِهِ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ۞ وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ كُلًّا هَدَيْنَا وَنُوحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَى وَهَارُونَ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ۞ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى وَعِيسَى وَإِلْيَاسَ كُلٌّ مِنَ الصَّالِحِينَ ۞ وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ﴾ (الأنعام: ۸۳ - ۸۶)

**ژباړه:** او دا زمونږ دلیل دی چې ابراهیم ته مو د قوم په مقابل کې ورکړی و، چا ته چې مو خوښه شي درجې یې لوړوو، بې شکه ستا څښتن ډېر د حکمت او علم خاوند دی او ده ته مو اسحاق او یعقوب وربښلي وو، ټولو ته مو لاره ښودلې وه او نوح ته مو پخوا لاره ښودلې وه او د ده له اولادې څخه داوود، سلیمان، ایوب، یوسف، موسی او هارون

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليهم السلام وو او مونږ نېک عمله خلکو ته همداسې غوره بدل ورکوو او زکريا، يحيی، عيسی او الياس عليهم السلام ټول له صالحانو څخه وو او اسماعيل، اليسع، يونس، لوط او نور ټول مو په نورو خلکو غوره گرځولي وو.

او اوه تنه يې په نورو ځايونو کې ذکر شوي چې هغوی عبارت دي لـه: آدَم،إِدْرِيس، هُود، صَالِح، شُعَيْب، ذُو الْكِفْل او مُحَمَّدٌ خَاتَمُ النَّبِيِّين (عَلَيْهِمْ جَمِيعًا صَلَوَاتُ اللَّهِ وَسَلاَمُهُ).

په قرآن کې راغلي چې نـور پيغمبـران هـم شـته، الله تعـالی فرمـايي: ﴿وَرُسُلاً قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْل وَرُسُلاً لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ﴾ [النساء: ۱۶۴]

او په حديثونو کې د انبياوو شـمېر يـو لـک او څلورويـشت زره او د رسـولانو شـمېر درې سوه او ديارلس تنه ښودل شوی، خو علماء وايي چې په دې حـديثونو کـې ضـعف دی[1] نو د مجموعي تعداد په هکله يې توقف غوره دی.

## ٤. په رسولانو باندې د ايمان د اثبات دليل

الله تعالی په خپل کتاب قرآن کريم کې فرمايي: ﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرِ﴾ [البقره: ۱۸۵] ژباړه: پيغمبر پر هغه هـدايت ايمـان راوړيـدی، چـې د هغـه د رب له خوا پر هغه نازل شويدي او څوک چې د دې پيغمبـر منـونکي دي، هغـوی هـم دا هدايت د زړه په مينـه منلـی دی. دوی ټولـو الله، د هغـه پرښـتې، د هغـه کتابونـه او د هغـه پيغمبران عليهم السلام منلي دي او د هغو وينا دا ده چې: «موږ د الله پـه پيغمبرانـو کـې يـو لـه بلـه توپير نه کوو، موږ حکم واورېده او اطاعت مو ومانه زموږ څښتنه! موږ ستا څخه د گنـاه د ښښنې غوښتونکي يو او همدا ستا لوري ته زموږ درتگ دی.»

**فعاليت:** زده کوونکي دې په خپلو منځونو کې د نبي او رسول تر منځ پر توپير خبرې وکړي.

## ٥. په انبياوو او رسولانو باندې د ايمان حکم

په ټولو انبياوو او رسولانو عليهم السلام باندې ايمـان لـرل فـرض او د اسـلامي عقيـدې لـه ارکانو څخه شمېرل کيږي، نو له يوه نبي او رسول څخه انکـار د ټولـو انبيـاوو او رسـولانو

---

۱ . د ابن کثير تفسير د دې آيت لاندې (وَرُسُلاً لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه انکار بلل کیږي، له همدې امله مسلمان د تل لپاره له خپلې عقیدې سره سم دا ګواهي ورکوي چې د هېڅ نبي تر منځ په ایمان کې توپیر نه کوي، په ټولو رسولانو او نبیانو باندې پرته له کوم توپیره یو ډول ایمان لري، ځکه دوی ټول د الله تعالی له لوري را استول شوي دي.

### ۶. نبوت الهي ورکړه ده

نبوت یوه الهي ورکړه ده. هر هغه چا ته چې الله تعالی وغواړي نبوت او رسالت ورکوي، په ذوق، کوښښ او خپله خوښه هېچا ته نه ورکول کېږي، یعني دا چې په عبادت، ریاضت او زیار نه تر لاسه کیږي، الله تعالی د انبیاوو ستاینه او توصیف په قرآن کریم کې داسې کړی دی: ﴿وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ﴾ [ص: ۴۷]

**ژباړه:** په یقیني توګه زموږ په نزد هغوی په غوره شویو نېکو کسانو کې شمار دي له دې.

آیت څخه دا څرګنده شوه چې انبیاء د الله ﷻ د لوري غوره شوي کسان دي.

**فعالیت:** زده کوونکي دې پر انبیاوو او رسولانو باندې د ایمان د حکم په اړه یو له بل سره خبرې وکړي.

### ۷. په نبیانو او رسولانو باندې د ایمان تفصیل

په انبیاوو او رسولانو باندې ایمان درلودل د قرآن او سنتو په رڼا کې تفصیل لري چې په لاندې کرښو کې ورته اشاره کوو:

۱. پر هغو انبیاوو او رسولانو باندې ایمان لرل چې الله تعالی په قرآن کریم کې ذکر کړي دي او ټول شمېر یې پنځه ویشت تنه دي، همدارنګه پدې باندې هم ایمان لرل چې الله تعالی له دې ذکر شویو پیغمبرانو څخه پرته نور پیغمران هم را استولي دي.

۲. پدې ټینګ باور او ایمان لرل چې د ټولو انبیاوو د بلنې محور د الله تعالی د یووالي منل او د هغه عبادت و.

۳. پرته له توپیره په ټولو انبیاوو باندې ایمان لرل، د دوی د نبوت او رسالت تصدیق کول، سره له دې پدې باور لرل چې ځینې یې له ځینو نورو څخه غوره او محمدﷺ تر ټولو پیغمبرانو غوره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤. پــدې بانــدې ايمــان او بــاور لــرل چــې دوی ټــول انــسانان دي او د الوهيــت هــېڅ ډول خصوصيات نه لري.
٥. پدې باندې ايمان لرل چې انبياء او رسولان له ټولو خلکو څخه د علم، عمل او اخلاقو له پلوه کامل دي، دوی خپل امانت پوره کړی او رسالت يې په پـوره امانـت داری سـر تـه رسولی دی.
٦. پدې باندې ايمان لرل چې الله تعـالی د خپلـو انبيـاوو د تـصديق لپـاره دوی تـه معجـزې ورکړې دي.
٧. پدې باندې ايمان لرل چې د نبوت لړی په محمدﷺ پـای تـه رسـېدلې او محمـدﷺ ټولـو خلکو ته استول شوی دی او د ده له رحلت څخه وروسته بل نبي يا رسـول د قيامـت تـر ورځې پورې نه راځي او د وحې لړۍ پای ته رسېدلې ده.

**فعاليت:** په قرآن کريم کې د څو پيغمبرانو نومونه ذکر شوي دي؟

## ٨ په انبياوو او رسولانو باندې د ايمان معنا

الله تعالی په خپل کتاب قرآن کريم کې فرمـايلي دي: ﴿قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَى وَعِيسَى وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِنْ رَبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ﴾ [البقرة: ١٣٦] ژباړه: ووايئ چې! مونږ ايمان راوړيدی په الله او پر هغه هدايت چې مونږ ته راغلی دی او هغه چې ابراهيم‌؈، اسماعيل‌؈، اسحاق‌؈، يعقوب او د يعقوب‌؈ ځوځات ته راغلی و او هغه چې موسیٰ ؈، عيسی‌؈ او نـورو ټولو پيغمبرانو ته د هغو د رب له لوري ورکړی شوی و، مـونږ د هغـو پـه مـنځ کـې هـېڅ توپير نه کوو، او مونږ الله ته سر ټيټوونکي يو.

په انبياوو او رسولانو باندې ايمان او ټينګ باور لرل دې ته وايـي چـې الله تعـالی خپلـو ځينـو بنده ګانو ته وحې کوي، تر څو خلکو ته د الله تعالی د نعمتونـو زېـری ورکـړي او د هغـه لـه عذاب څخه يې وويروي، خو دا هر څه يوې موخې ته د رسېدو لپاره تر سره کوي چې هغه د الله تعالی عبادت، د دين اقامت او الله تعالی په ربوبيت، الوهيت، نومونـو او صـفاتو کـې يـو ګڼل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

۱. نبي او رسول تعریف کړئ.
۲. نبي او رسول څه توپیر لري.؟ په لنډو ټکو کې یې بیان کړئ.
۳. آیا نبوت په زیار او عبادت سره تر لاسه کیږي؟
٤. په انبیاوو او رسولانو باندې د ایمان د وجوب دلایل ذکر کړئ.
٥. په قرآن کریم کې د څو پیغمبرانو نومونه راغلي دي؟ کوم چې درته یاد دي ویې لیکئ.
٦. په انبیاوو او رسولانو باندې ایمان څه حکم لري؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د نبي او رسول په اړه په خپلو کتابچو کې یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د انبیاوو او رسولانو علیهم السلام صفتونه

الله تعالی پیغمبران د ښو، غوره او نېکو صفتونو خاوندان ګرځولي دي، تر څو په ښه توګه خلك سمې او نېکې لارې ته دعوت کړي. همدارنګه الله تعالی دوی له ټولو هغو خویونو او کړنو څخه چې د نبوت له منصب سره مناسب نه دي، پاك او سپېڅلي کړي دي.

## د انبیاوو صفتونه

د انبیاوو علیهم السلام ځینې صفتونه په قرآن کریم کې ذکر شوي دي چې په لاندې ډول بیانیږي:

### ۱. عصمت

د عصمت تعریف: عصمت په لغت کې حفظ او ساتلو ته وایي او د عقایدو د علم په اصطلاح کې عصمت (پاکوالي) د الله تعالی هغه لطف دی چې پیغمبرﷺ د نېکو کارونو کولو ته هڅوي او د بدو کارونو له کولو څخه یې ساتي، له انسان څخه اختیار نه ساقطوي، تر څو د ازمایښت او امتحان حقیقت باقي وي.(۱)

## د تعریف شرح

الله تعالی خپل ټول انبیاء په خپل فضل او کرم سره له نبوت څخه مخکې او وروسته له ټولو ګناهونو څخه پاک ساتلي دي، داسې ځواک یې ورکړی دی چې د نېکو کارونو کولو ته یې هڅوي او د ناوړه کارونو له کولو څخه یې منع کوي، خو له دوی څخه اختیار نه ساقطوي.

## له ګناهونو څخه د انبیاوو علیهم السلام عصمت

د ښه وضاحت لپاره د انبیاوو عصمت په لاندې ډول شرح کوو:

أ. کبائر ګناهونه: کبیره ګناه هغې ګناه ته ویل کیږي چې یا په دنیا کې حد ورته ټاکل شوی وي او یا د جهنم په اور باندې وعده ورکړل شوې وي او یا لعنت او یا غضب ورباندې ویل شوی وي.

ب. صغائر ګناهونه: صغیره ګناه هغې ګناه ته ویل کیږي چې په دنیا کې حد ونه لري او په آخرت کې ورته عذاب نه وي ټاکل شوی.

---

۱ – المسامرة. ص: ۲۲۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی: له لويو ګناهونو څخه د انبياوو عليهم السلام عصمت (پاکي)

ټول انبياء کرام له بعثت څخه مخکې او وروسته له ټولو لويو ګناهونو لکه: کفر، دروغ ويل او داسې نورو څخه پاک او سپېڅلي دي، له دوی څخه قصداً او يا سهواً هېڅ وخت لويه ګناه نه پېښيږي، بلکې له دې ټولو ګناهونو څخه معصوم دي.

## د دې عصمت دلايل

څرنګه چې د انبياوو له ټولو ستره او مهمه دنده خلکو ته د الله ﷻ پيغام رسول دي، نو قرآن کريم په څرګندو ټکو کې په دې هکله د هغوی په صدق ګواهي ورکړې، الله تعالى فرمايلي دي: ﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى ۞ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى﴾ [النجم:٣، ٤] ژباړه: هغه له خپل نفسي خواهش څخه نه غږيږي، دا خو يوه وحې ده چې پر هغه نازليږي.

همدارنګه نبي کريمﷺ په خپل يوه مبارک حديث شريف کې فرمايي: عن أبي هريرة ﷺ قال: قالوا: يا رسول الله إِنَّك تُدَاعِبُنا. قال: (إِنِّي لا أَقُولُ إِلا حَقًّا) [1]

**ژباړه:** له حضرت ابو هريره رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چې اصحابو کرامو وويل: اې د الله تعالى رسوله! ته له موږ سره ټوکې کوې. رسول اللهﷺ وفرمايل: زه له حق څخه پرته بل څه نه وايم.

همدارنګه د دوی په هکله الله تعالى فرمايي: ﴿وَاجْتَبَيْنَاهُمْ وَهَدَيْنَاهُمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴾ (الانعام: ٨٧) **ژباړه:** او دوی مو خوښ کړي او نېغه لاره مو ورته ښودلې ده.

## دويم: له صغائرو (کوچنيو) ګناهونو څخه د انبياوو عليهم السلام عصمت

د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد پيغمبران عليهم الصلاة والسلام لکه څرنګه چې له لويو ګناهونو څخه پاک او معصوم دي همدارنګه له صغائرو (کوچنيو) ګناهونو څخه هم پاک او معصوم دي.

الله تعالى په قرآن کريم کې فرمايي: ﴿وَإِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ﴾ [ص: ٤٧].

ژباړه: په يقيني توګه زموږ په نزد هغوی په غوره شويو نېکو کسانو کې شمار دي.

٢. **بشريت:** انبياء او رسولان ټول بشر دي، خوراک، څښاک کوي، ويده کيږي، ناروغه کيږي، وږي کيږي، تږي کيږي، نکاح کوي په غيبو باندې نه پوهيږي او د داسې نورو ټولو بشري صفتونو خاوندان دي، تر څو له خلکو سره صله رحمي وکړي، د

---

١ – سنن الترمذي – (٤ / ٣٥٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی له احساس څخه خبر وي او د مستقیمې لارې په ښودلو کې الله تعالی په دوی باندې قوي حجت قائم کړی، الله تعالی په دې اړه فرمایلي دي: ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾ [التوبة: ١٢٨]. ژباړه: وګورئ تاسې ته یو پیغمبر راغلی دی چې په خپله له همدا تاسې څخه دی، په زیان کې ستاسې لوېدل پر هغه ګران تماميږي، هغه ستاسې د رغېدنې حرصناك دی. د مؤمنانو لپاره هغه خواخوږی او زړه سواندی دی.

٣. **تبلیغ:** خلکو ته د هغو احکامو رسول چې په رسولو یې مامور شوی وي تبلیغ بلل کېږي، تر څو هغوی ته د دنیا او آخرت د نېکمرغیو لارښوونه وکړي چې دا کار ټولو پیغمبرانو تر سره کړی او هېڅ شی یې نه دی ورڅخه پټ کړی، الله تعالی پدې اړه فرمایلي دي: ﴿يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ﴾ [المائدة: ٦٧] ژباړه: اې پیغمبره! څه چې ستا د رب له لوري پر تا نازل کړی شویدي هغه خلکو ته ورسوه. که داسې دې ونه کړل، نو د هغه د پیغمبرۍ حق دې ادا نه کړ.

٤. **زیرکتیا:** هر نبي د زیرکتیا او لوړ فهم څخه برخمن وي، الله تعالی پدې اړه فرمايي: ﴿فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ وَكُلًّا آتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُودَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ وَكُنَّا فَاعِلِينَ﴾ [الأنبياء: ٧٩] ژباړه: نو په هغه وخت کې موږ د فیصلې صحیح صورت سلیمان ته وښوده پداسې حال کې چې موږ حکم او علم دواړو ته ورکړی و، له داؤد سره موږ غرونه او الوتونکي ایل کړي وو چې پاکي یې بیانوله، د دغه کار کوونکي همدا موږ وو.

٥. **نارینتوب:** ټول علماء پدې اتفاق دي چې الله تعالی ټول انبیاء نارینه رالیږلي دي هېڅ ښځې ته د نبوت منصب نه دی ورکړای شوی، آن تر دې چې ځینو علماوو په دې خبره اجماع هم نقل کړې ده، ځکه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِي إِلَيْهِمْ﴾ [یوسف: ١٠٩] ژباړه: اې محمده(ﷺ) له تا نه مخکې چې موږ کوم پیغمبران لیږلي وو هغوی هم ټول سړي وو، همغو لوري ته موږ وحي لیږو. په پورتنې آیت کې د رجل لفظ ذکر شوی دی او په عربي ژبه کې«رجل» نارینه ته ویل کیږي.

٦. **له عیبونو څخه پاکوالی:** پیغمبران علیهم السلام له لاندې عیبونو څخه پاك او سپېڅلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

أ. هر پیغمبر د بعثت په وخت کې د خپلې زمانې له ټولو خلکو څخه د خلقت له مخې غوره وي.

ب. هر نبي له داسې عیبونو څخه چې طبیعت ورڅخه کرکه او نفرت کوي، پاك او سپېڅلی دی، لکه: پیس، جذام او داسې نور.

ج. نبي د داسې کسب خاوند نه وي چې عرف یې بد وګڼي، لکه: ښکر لګول او داسې نور.

د. نبي د زړه له سختوالي څخه پاك وي، ځکه که چېرې نبي بې رحمه او د سخت زړه خاوند وي. نو بیا خلك ورڅخه نفرت کوي، الله تعالی پدې اړه داسې فرمایلي دي: ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ﴾ [آل عمران: ١٥٩] ژباړه: اې پیغمبره (ﷺ) دا د الله لوی رحمت دی چې ته د دې خلکو لپاره ډېر نرم خویه جوړ شوی یې، که داسې نه وای او ته تونډ خویه او سخت زړی وای، نو دا ټول به ستا له شاوخوا نه خواره شوي وو.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د انبیاوو علیهم السلام د صفتونو په اړه یو له بل سره خبرې وکړي.

## پوښتنې

١. عصمت تعریف کړئ.

٢. د انبیاوو د عصمت دلایل بیان کړئ.

٣. د بشریت د صفت دلایل ووایئ.

٤. د تبلیغ د صفت دلایل ووایئ.

٥. د زیرکتیا د صفت دلایل ووایئ.

٦. د نارینتوب د صفت دلایل بیان کړئ.

٧. له کومو عیبونو څخه د انبیاوو پاکوالی لازمي دی؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د انبیاوو د صفتونو په اړه یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست

# اولو العزمه پیغمبران

ټول پیغمبران د الله تعالی په وړاندې معزز او د عـزت خاونـدان دي، ټـول پیغمبـران د ډېـر زيات عزم، صبر اوحوصلې خاوندان وو، خو ځيني پيغمبران الله تعالی په عزم سره سـتايلي دي دا په دې دلالت کوي چې دوی د نورو انبياووعليهم السلام په پرتله د ډېر قوي عزم او د الله تعالی په وړاندې د ډېر لوړ مقام او لوړې درجې خاوندان دي.

## د عزم تعريف

عزم صبر، ثبات او د يو کار د کولو لپاره قوي هوډ ته ويل کيږي.

## ولې ځينو پيغمبرانو ته اولو العزم ويل کيږي؟

ځينو پيغمبرانو ته ځکه اولو العزم ويل کيږي چې دوی د دعوت او رسالت په کار کې لـه صبر، ډېر زغم او حوصلې څخه کار اخيستی دی، نو الله تعـالی پـه اولـوالعزم صـفت سـره ستايلي دي او فرمايي: ﴿فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ﴾ [الاحقاف، ٣٥] **ژباړه:** نو صبر کوه لکه چې همتناکو رسولانو صبر کولو.

## د اولو العزمه پيغمبرانو شمېر

د اولو العزمه پيغمبرانو د شمېر په اړه له علماوو څخه ډېـر قولونـه نقـل شـوي دي، خـو د جمهورو علماوو په نزد اولو العزم پيغمبران پنځه کسان دي، حـضرت نـوحعليه السلام، حـضرت ابراهيم عليه السلام، حضرت موسیعليه السلام، حضرت عيسیعليه السلام او حضرت محمد صلی الله عليه وسلم.

چې الله تعالی يدې قول کې راټول کړي دي:﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا﴾ [الأحزاب: ٧] ژباړه: او هغـه مهالـ چې موږ له (ټولو) انبياوو او (خصوصاً) له تا، نوح، ابراهيم، موسی او د مريمې زوی عيسی نه ژمنه واخيسته او ښه پخه ژمنه مو ترې واخيـسته او همدارنگـه الله تعـالی پـه دې مبـارک آيت کې هم ذکر کړي دي: ﴿شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ﴾ [الشورى: ١٣] ژباړه: تاسو ته يې هماغه دين ټاکلی (بيان کړی) چې په هغه سـره يـې نوح ته سپارښتنه کړې وه او هغه چې تا ته مو وحې کـړې او پـه هغـه سـره مـوږ ابـراهيم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسی او عیسی ته سپارښتنه کړې وه چې (همدغه) دین تر سره کړئ او اختلاف مه پکې اچوئ. مشرکانو باندې هغه خبره ډېره درنه ده چې ته یې وربلې.

### د اولوالعزمه پیغمبرانو نومونه

١. حضرت نوح ﷺ
٢. حضرت ابراهیم ﷺ
٣. حضرت موسی ﷺ
٤. حضرت عیسی ﷺ
٥. حضرت محمد ﷺ

**فعالیت:** زده کوونکي دې د اولوالعزمه پیغمبرانو د شمېر په اړه په خپلو کې سره خبرې اترې وکړي.

### د اولو العزمه پیغمبرانو فضیلت

دغه اولو العزمه پیغمبران له نورو ټولو پیغمبرانو څخه د زیات فضیلت خاوندان دي او په دوی کې د ډېر زیات فضیلت خاوند حضرت محمد ﷺ دی.

له ابي هريره رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «خِيَارُ وُلْدِ آدَمَ نُوحٌ وَإِبْرَاهِيمُ وَعِيسَى وَمُوسَى وَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ اَجْمَعِيْن»، **ژباړه:** د آدم ﷺ د اولادې تر ټولو غوره حضرت نوح ﷺ، حضرت ابراهیم ﷺ، حضرت عیسی ﷺ، حضرت موسی ﷺ او حضرت محمد ﷺ دی.

همدارنگه امام بخاري له ابي هريره رضي الله تعالی عنه څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «أَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ».(١)

**ژباړه:** زه د قیامت په ورځ د آدم ﷺ د اولادې سید او مشر یم، لومړی به له ما څخه قبر شق او څېرې کېږي، زه لومړی شفاعت کوونکی یم او لومړی به زما شفاعت قبلیږي.

---

١ - أصول الإيمان في ضوء الكتاب والسنة - (١ / ٢٢١)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فعالیت:** زده کوونکي دې د اولو العزمه پیغمبرانو نور فضیلتونه هم بیان کړي.

## پوښتنې

۱. آسماني کتابونه څو او په چا نازل شوي دي؟
۲. عزم تعریف کړئ.
۳. اولو العزمه پیغمبرانو ته ولې اولو العزمه ویل کیږي؟
٤. اولو العزمه پیغمبران څو دي؟
۵. د اولو العزمه پیغمبرانو د فضیلت په اړه یو حدیث شریف ووایئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معجزه او سحر

## ۱. معجزه

### د معجزې تعریف

معجزه په لغت کې له عجز څخه اخیستل شوې چې ببوسې کوونکي او عاجز کوونکي ته وېل کیږي او په اصطلاح کې د هغه ننګوونکي، خارق العادة کار او وینا څخه عبارت ده چې الله تعالی یې د نبوت او رسالت د دعوا لرونکو د ریښتینولی په قصد له دوی څخه صادروي چې نور انسانان ورڅخه عاجز وي.

### د معجزې تعریف شرحه

معجزه داسې کار او وینا ته ویل کېږي چې د نبوت او رسالت له دعوا لرونکو څخه صادرېږي چې لاندې شرطونه لري:

۱. معجزه به ننګوونکې وي، که چېرې ننګونه ونه لري معجزه نه بلل کیږي.
۲. د رسالت او یا نبوت د دعوا د ریښتینولی په خاطر یې ښکاره کوي که څوک خارق العادة کار تر سره کوي مګر د نبوت یا رسالت دعوا ونه لري معجزه نه بلل کیږي.
۳. خارق العاده کار به له دعوا سره برابر وي.
٤. مقابل لوری به د دغه خارق العاده کار له سر ته رسولو څخه عاجز وي. که چېرې مقابل لوری هم د داسې خارق العاده کار په تر سره کولو قادر وي، معجزه نه بلل کیږي.

### د معجزې ډولونه

د انبیاوو او رسولانو علیهم السلام معجزې په دوه ډوله دي:

۱. محسوسې معجزې.
۲. غیر محسوسې معجزې.

لومړی محسوسې معجزې: له هغو معجزو څخه عبارت دي چې انسانان یې په پنځه ګونو حواسو درک کوي، لکه د صالح عليه السلام په دعاء سره له غره څخه د بلاربې اوښې را ایستل، د عیسی عليه السلام په دعاء سره د مور زاديړوند او د برص (برګي) ناروغ روغېدل، د موسی عليه السلام امسا په مار باندې بدلېدل، او د نیل بحر دوه ځایه کېدل، د پیغمبر ﷺ اسراء او

(c) ketabton.com: The Digital Library

معراج، د سپوږمۍ دوه ټوټې کېدل، د پیغمبرﷺ لـه مبـارکو گوتـو څخـه د اوبـو بهېـدل او داسې نور.

**دویم** غیر محسوسي معجزې: دا هغه معجزې دي چې د عقل په وسیله درک کېږي، لکـه د راتلونکو غائبو پېښو او حوادثو په اړه معلومات ورکول او پر محمدﷺ نازل شوی کتـاب (قرآن کریم) چې د محمدﷺ تر ټولو ستره معجزه ده.

## د معجزې حکم

د پیغمبرانو علیهم السلام پر معجزاتو ایمـان درلـودل فـرض دي، ځکـه چې د هـر پیغمبـر معجزه په حقیقت کې د الله تعالی وحې ده چې د پیغمبـر ریـښتینولي ثـابتوي لکـه څرنگـه چې پر پیغمبر ایمان درلودل فرض دي، همدا راز د هغوی پـر معجـزو هـم ایمـان درلـودل فرض دي.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د معجزې په اړه یو له بل سره بحث وکړي.

## ۲. سحر

## د سحر تعریف

سحر په لغت کې دوکې، باریکۍ، د یوه شي شکل بدلولو او هغه کارته وایي چې ظاهري سبب ونه لري او په اصـطلاح کـې لـه هغـه خـارق العـاده کـار څخـه عبـارت دی چـې د شیطانانو په مرسته له ناوړه او خبیثو نفسونو له خوا ترسره کیږي.

## د تعریف شرحه

سحر په عربي کې دوکې او هغه نازکه کړنې ته وایي چې ظاهري سبب یې په سـترگو نـه ښکاري او په اصطلاح کې هغه نا آشنا کار ته ویل کیږي چې د دین څخه لېـرې او د بـد عمله اشخاصو له خوا ترسره کیږي، د کفري الفاظو پـه ویلـو او د شـیطانانو پـه ملتیـا تـرې صادریږي چې د ښوونې او زده کړې له لارې ورته لاس رسی پیدا کوي.

که چیرې څوک داسې نا آشنا او خارق العاده کار ترسره کړي چې په هغه کې د لاسونو او حرکاتو چالاکي او یا د خاصو دواگانو استعمال رول ولري حقیقي سحر نه بلل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سحر حقيقت

د سحر حقيقت په قرآن کريم او نبوي احاديثو او د امت پـه اجمـاع سـره ثابـت دی چـې واقعيت لري.

الله ﷻ د موسـی ؑ د سـاحرانو پـه اړه فرمـايي: ﴿قَالَ أَلْقُوا فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ﴾[الأعراف: ۱۱۶] **ژباړه:** موسی ؑ ورته وويـل: تاسـې يـې وغورځوئ کله چې هغوی (پړي او همساګانې) واچولې او (په خپلو منترونو ويلو سره يـې) د خلکو سترګې مسحورې کړې او په وېره کې يې واچول او ډېر غټ سحر يې وکړ.

په حديث شريف کې راځي يوکس چې لبيد بن اعـصم نوميـده پـر پيغمبـر ﷺ يـې سحر کړی و.

د ټول اسلامي امت په دې اجماع ده چې سحر حقيقت لري.

## د سحر زده کړه

د سحر ښوونه او زده کړه حرام کار دی او که سحر په کفري عقيده بناوي، نوبيا يې زده کړه کفر دی او زده کوونکی يې واجب القتل دی.

## د سحر او معجزې تر منځ توپير

د سحر او معجزې تر منځ ډېر توپيرونه شته چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

۱. سحر له شريرو او پليتو نفسونو څخه صادرېږي، خو معجزه د پاکو، عزتمندو او الله ﷻ ته له ډېرو نژدې نفسونو څخه صادرېږي.

۲. معجزه په ننګونې بناء وي، خو په سحر کې ننګونه نه وي.

۳. د سحر په سر ته رسولو کې د ناروا اعمالو انجامول او له شيطانانو څخه په کې مرسـته غوښتل کيږي او معجزه د الله ﷻ په مرسته او ارادې صورت مومي.

٤. سحر د ښوونې او زده کړې له لارې ممکن وي، خو په معجزه کې پيغمبر يـوازې لـه الله ﷻ څخه د هغې د ايجادولو غوښتنه کوي.

٥. معجزه د شي حقيقت بدلوي، خو سحر يوازې د شي ظاهري شکل بدلوي.

٦. په معجزې سره د پيغمبر رېښتينولي ثابتيږي، خو سحر لويه ګنـاه او د خلکـو د ګمـراه کولو او په ځمکه کې له فساد خپرولو څخه پرته بله هيڅ ګټه نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷. سحرپه خاصو شرطونو، ځایونو او وختونو پورې تړلی وي، خو معجزه هېڅ شرط او کوم تاکلی ځای او وخت پورې مربوطه نه وي.

۸. د سحرمعارضه او مقابله کېدای شي، خو د معجزې مقابله محاله ده.(۱)

**فعالیت:** د لوست په رڼاکې د ساحر او نجومي تر منځ څه توپیر معلومیږي؟

**پوښتنې:**

۱. معجزه او سحر تعریف کړئ.
۲. د معجزې او سحر تر منځ توپیر واضح کړئ.
۳. د معجزې ډولونه بیان کړئ.
٤. د معجزې حکم بیان کړئ.
۵. د سحر د اثبات دلایل بیان کړئ.
٦. د سحر زده کړه څه حکم لري؟

**کورنی دنده**

زده کوونکي دې د معجزې او سحر په اړه یوه مقاله ولیکي چې له اتو کرښو کمه نه وي.

---

١ــ جامع العلوم في اصطلاحات الفنون - (٢ / ١٢٠)، مذكرة التوحيد - (١ / ٦١)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرامت او استدراج

آیا پوهېږئ چې کرامت څه ته وایي؟
کرامت او استدراج څه توپیر لري؟

## ١. کرامت

### د کرامت تعریف

کرامت په لغت کې عـزت او درنـاوي تـه وایـي، الله تعـالی فرمـایي: ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾ [الإسراء: ٧٠] **ژباړه:** بې شکه د آدم اولاد ته مې عزت ورکړی او په اصطلاح کې لـه هغـه خارق العاده کار څخه عبارت دی چې له ولي څخه صادرېږي.(١)

### د تعریف شرح

عادتاً د ناشوني کار صادرېدل که له داسې شخص څخه سرته ورسېږي چې عقیـده او عمـل یـې د اسلام په تله برابر وي کرامت بلل کېږي او که د شخص عقیده یا عمل له اسلام سره برابـر نـه وي، نو د ده خارق العاده کار کرامت نه دی، بلکې استدراج ګڼل کېږي.

### دکرامت د اثبات دلیل

د اولیاووکرامت په زیاتو دلایلو ثابت دی، لکه چې الله تعالی د مریم علیها السلام په هکلـه فرمايلي دي: ﴿كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ﴾ [آل عمران: ٣٧] **ژباړه:** هرکله به چې زکریاعليه السلام د هغې عبـادت خـانې تـه ورننوتلو له هغې سره به یې څه ناڅه د خوراک او څښاک څه میندل، پوښتنه به یـې ترینـه کوله اې مریمې! دا تا ته له کومه راځي؟ هغـې بـه ځـواب ورکـاوه د الله تعـالی لـه لـوري راغلي دي.

او لکه د اصحاب کهف قصه چې په قرآن کریم کې ذکر شوې ده.

همدا رنګه د صحابه وو په دورکې له بې شمېره صحابه وو څخه ډول ډول کرامات صـادر شوي دي چې تفصیل یې د حدیثو او تاریخ په کتابونو کې بیان شوی دی.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د اصحاب کهف قصه په وار سره بیان کړي.

---

١ـ التعريفات - (١ / ٢٣٥)، إتحاف السائل بما في الطحاوية من مسائل - (٣٠ / ٢١)

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د کرامت حکم

د اولیاوو کرامت د هغوی د تایید، مرستې او د دین د اوچتوالي په خاطر حق او ثابت دی، خو کرامت د ولي په اختیار کې نه وي، نو دا ضروري نه ده چې له هر ولي څخه دې کرامت صادر شي، ځکه چې کرامت د الله تعالی په ارادې او خوښې پورې تړاو لري. په کرامت باندې کوم نوی حکم نه ثابتیږي.

### ۲. استدراج

### د استدراج تعریف

استدراج په لغت کې قدم په قدم پورته ختلو ته وایي په اصطلاح کې هر هغه خارق العاده کار چې له کافر یا فاسق شخص څخه صادریږي استدراج بلل کیږي.

### د تعریف شرح

که چیرې کوم خارق العاده کار د کافر، فاسق،کاهن، نجومي، ساحر او یا کوډګر شخص څخه صادر شي، استدراج ورته ویل کیږي.

هر څومره چې د دوی سرکشي زیاتیږي په هماغه اندازه ورته الله تعالی خپل نعمتونه پراخوي تر څو قدم په قدم د هلاکت لوري ته نژدې او د الله تعالی تر حجت لاندې راشي، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [الأعراف: ۱۸۲]. **ژباړه:** او هغه کسان چې زمونږ آیتونه یې دروغ ګڼلي دي، نو هغوی به مونږ په داسې تدریجي ډول هلاک کړو چې هغوی به خبر هم نه وي.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د کرامت او استدراج تر منځ پر توپیر یو له بل سره بحث وکړي.

**پوښتنې:**

۱. ولي چاته ویل کیږي؟
۲. د کرامت د اثبات دلیل ووایاست.
۳. الله تعالی کرامت د څه لپاره له ولي څخه صادروي؟
۴. استدراج څه ته وایي؟ تعریف یې کړئ.

**کورنۍ دنده**

د قرآن کریم د نصوصو په رڼا کې د استدراج څو مثالونه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قضاء او قدر

د ایمان له ارکانو څخه یو رکن په قضاء او قدر باندې عقیده درلودل دي.

په قضاء او قدر ایمان درلودل هغه موضوع ده چې د مسلمان په عقیده، کړنو، افعالو او د ژوندانه په ښو او بدو حالاتو ژوره اغېزه لري.

## د قضاء او قدر تعریف

أ. قضاء: په عربي ژبه کې فیصلې، پوره کولو او حتمي والي ته ویل کیږي.

ب. قدر: په عربي ژبه کې حکم، فیصلې او اندازې ته ویل کیږي.

او په اصطلاح کې قضاء او قدر له هغه تقدیر او اندازې څخه عبارت دی چې الله ﷻ د خپل علم په بناء د کایناتو لپاره ټاکلی دی په هغه شان چې د هغه د حکمت غوښتنه وه.

## د تعریف شرح

په عربي ژبه کې قضاء او قدر لفظونه د مختلفو معناګانو لپاره کارول شوي دي، خو د عقایدو په علم کې دواړه هغه مترادف لفظونه دي چې له یو مقصد څخه پرې تعبیر شوی دی.

د قضاء او قدر پر موضوع د ښه پوهېدلو په خاطر د څلورو خبرو پېژندل ډېر اړین دي چې په لاندې توګه بیانیږي:

**۱ـ د الله ﷻ ازلي علم:** په دې خبره ایمان درلودل چې الله ﷻ د هرشي په اجمالي او تفصیلي، ماضي او مستقبل پر ټولو حالاتو عالم او پوه دی، لکه څرنګه چې په خپلو کړنو پوره عالم دی، د خپلو بندګانو په کړنو او افعالو هم پوره علم لري. په تېرو او را تلونکو ټولو واقع کېدونکو پېښو او بدلونونو داسې علم لري چې هېڅ شی یې له علم څخه پټ ندی.

الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿عَالِمِ الْغَيْبِ لا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلا فِي الأَرْضِ وَلا أَصْغَرُ مِنْ ذَلِكَ وَلا أَكْبَرُ إِلا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ﴾ [السبأ: ۳]

**ژباړه:** هغه (الله ﷻ)په ټولو پټو پوه دی، له هغه نه د یو بخري په اندازه کوم شی نه په آسمانونو کې پټ دی اونه په ځمکه کې نه له بخري څخه غټ او نه له بخري کوچنی، خو هرڅه په یو څرګند دفتر کې درج دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ﷻ د مخلوقاتو له پيدايښت څخه لا ډېر مخکې په دې پوره عالم و چې مخلوقات څرنګه اوکله يې پيداکړي او هم د مخلوقاتو د ارزاقو، عملونو لويو، او وړو حرکتونو، خوځښتونو او د هغوی پر اجلونو پوره عالم دی.

**۲ـ په لوح محفوظ کې هر څه ليکل شوي دي:** په دې هم ايمان لرل فرض دي چې الله ﷻ ټول هغه څه چې د مخلوقاتو په اړه ورته معلوم وو په لوح محفوظ کې يې ليکلي دي، او د مخلوقاتو ټول هغه تقديرونه يې کښلي چې دوی ته پېښيدونکي دي، او يا يې دوی انجاموونکي وي. الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُسْتَطَرٌ﴾.[القمر: ۵۲، ۵۳]

**ژباړه:** او هر څه چې دوی يې کوي په لوح محفوظ کې ليکل شوي دي او هره کوچنۍ او لويه خبره ليکل شوې ده.[۱]

پيغمبرﷺ فرمايلي دي: «كَتَبَ اللَّهُ مَقَادِيرَ الْخَلاَئِقِ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ...»[۲]

**ژباړه:** الله تعالی دمخلوقاتو تقديرونه د آسمانونو او ځمکو له پيدايښت څخه پنځوس زره کاله مخکې ليکلي دي.

**۳ـد الله ﷻ خوښه او مشيئت:** په دې ايمان لرل فرض دي چې هيڅ څيز د الله ﷻ د خوښې،ارادې، او مشيئت څخه پرته له عدم څخه وجود ته نشي را تلای، نو څه چې الله ﷻ وغواړي هغه کيږي، او څه چې ونه غواړي، نه کيږي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ﴾ [القصص: ۶۸]

**ژباړه:** ستا رب پيدا کوي هر څه چې وغواړي او(هغه په خپله د خپل کار لپاره چاته يې چې خوښه شي) غوره کوي يې.

همدا راز فرمايي: ﴿وَمَا تَشَاءُونَ إِلا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ﴾ [التکوير: ۲۹]

**ژباړه:** اوستاسې په غوښتنه هيڅ نه کيږي ترڅو پورې چې د الله (رب العالمين) خوښه نه وي.

---

۱ــ تفسير القرطبي – (۱۷ / ۱۴۹)

۲ – صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**٤ـ د الله ﷻ تخليق:** د الله ﷻ له ذات او صفاتو څخه پرته نور هر څه مخلوق او الله ﷻ يې خالق دی. الله تعالی فرمايلي دي: ﴿اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ﴾ [الرعد: ١٦]

**ژباړه:** الله ﷻ د هرشي خالق او پيداکوونکی دی.

د ټولو افعالو خالق الله ﷻ دی او بنده يې کاسب دی. د خير او شر دواړو خالق الله تعالی دی. الله تعالی د خير په کولو خوښيږي، د خير کسب کوونکو سره مرسته کوي او ورسره مينه لري، بالعکس شر بد ګڼي انسانان يې ورڅخه منع کړي دي او د شر کسب کوونکو سره نه مرسته کوي او نه ورسره مينه لري.

## په قضاء او قدر د اثبات دليل

د قضاء او قدر موضوع په بې شمېره آيتونو او احاديثو سره ثابته ده:

الله ﷻ فرمايي: ﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ﴾ [القمر: ٤٩] **ژباړه:** موږ هر څه په اندازه او تقدير سره پيدا کړي دي.

په بل آيت کې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا﴾ [الفرقان: ٢] **ژباړه:** او (الله) هغه ذات دی چې ټول شيان يې پيدا کړي دي او ورته يې اندازه ټاکلې ده.

همدارنګه الله تعالی فرمايي: ﴿لِيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا﴾ [الأنفال: ٤٢] **ژباړه:** د دې لپاره چې فيصله کړي الله تعالی هغه کار چې کېدونکی و.

په حديث شريف کې راځي: «وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ»[1] **ژباړه:** جبرائيل عليه السلام پيغمبر ﷺ ته وويل: او دا چې ته ايمان ولرې د خير او شر په تقدير باندې.

په بل حديث شريف کې راځي: «لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ حَتَّى يَعْلَمَ أَنَّ مَا أَصَابَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَهُ وَأَنَّ مَا أَخْطَأَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَهُ»[2]

**ژباړه:** هېڅکله يو بنده د ايمان خاوند کېدای نه شي، تر څو چې د تقدير په خير او شر ايمان ونه لري او، تر څو چې په دې ايمان ونه لري، هغه څه چې ده ته رسېدونکي دي هېڅکله نه خطا کيږي او هغه څه چې ده ته رسېدونکي نه دي هېڅکله نه ورته رسيږي.

---

١ - صحيح مسلم - (١ / ٢٨)

٢ - رواه الترمذي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په قضاء او قدر باندې د ایمان درلودلو حکم

په قضاء او قدر ایمان درلودل فرض دي.

موږ په دې ټینګ باور لرو چې الله ﷻ د مخلوقاتو له پیدایښت څخه مخکې د مخلوقاتو په اړه پوره علم درلود او په دې هم عقیده لرو چې الله ﷻ د ټولو انسانانو پوره احوال په لوح محفوظ کې لیکلي دي او په دې هم باوري یو چې هېڅ شی د الله ﷻ له علم او ارادې څخه پرته وجود ته نه شي راتلای. همدارنګه الله ﷻ د خیر او شر دواړو خالق او پیدا کوونکی دی او انسان ته یې د خیر او شر په کولو کې اختیار ورکړی دی. که یې خیر وکړ ورسره مرسته او محبت کوي او که یې په شر لاس پورې کړ، الله ﷻ ورسره مرسته او محبت نه کوي. پیغمبر ﷺ فرمايي: «والذي نفسي بيده، لو جاءت الأمة لتنفعك بغير ما كتب الله لك ما استطاعت ذلك، ولو أرادت أن تضرك بغير ما كتب الله لك ما استطاعت ذلك»[1] **ژباړه:** زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح د ده په واک کې دی، که چېرې ټول امت را ټول شي د دې لپاره چې تاته ګټه ورسوي او هغه ګټه الله تعالی تاته نه وي لیکلې، نو دا کار د دوی په وس کې نه دی پوره او که چېرې دوی اراده وکړي چې تاته څه زیان ورسوي او هغه زیان الله تعالی تاته نه وي لیکلی، نو دا کار هم د دوی په توان کې نه دی پوره.

### پوښتنې

۱. قضاء او قدر تعریف کړئ.
۲. د قضاء او قدر د اثبات دلایل ووایئ.
۳. په قضاء او قدر باندې د ایمان حکم واضح کړئ.
٤. که څوک له قضاء او قدر څخه منکر شي څه حکم لري؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د قضاء او قدر په اړه یوه مقاله ولیکي چې له اتو کرښو څخه کمه نه وي.

---

۳- القدر للفريابي - (۱ / ۱۳۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست

# د برزخ حالات

هر انسان له مرگ څخه وروسته د ژوند دوه مرحلې لري له مرگ څخه وروسته د قیامت تر ورځې پورې چې دې مرحلې ته د برزخ ژوند وایي او بیا له قیامت څخه وروسته چې اوږد او ابدي ژوند پیل شي، په دې لوست کې به د برزخ د حالاتو په هکله معلومات لاس ته راوړئ.

## ۱. د برزخ تعریف

برزخ په لغت کې پردې او حائل ته وایي او د عقایدو د علم په اصطلاح کې د دنیوي او اخروي ژوند تر منځ (له مرگه وروسته تر بیا ژوندي کېدو پورې) مرحلې ته برزخ ویل کېږي.

## د تعریف شرح

له نبوي احادیثو څخه دا جوتیږي: انسان چې له دې نړۍ څخه سترگې پټې کړي هغه گړۍ بېرته ژوندی شي که نېکو کاره مؤمن وي، د خوښۍ د حالاتو احساس کوي او په قبر کې هم په ډول ډول نعمتونو سره نازول کیږي او که بد کرداره او کافر وي د غم او خواشینۍ احساس کوي او په قبر کې په ډول ډول عذابونو سره سزا ورکول کیږي چې د قبر همدې حالاتو ته برزخ ویل کیږي.

**فعالیت:** زده کوونکي دې د برزخ د لغوي او اصطلاحي تعریفونو تر منځ اړیکه ووایِي.

## د برزخ د اثبات دلیل

د برزخ پړاو د قرآن کریم په مبارکو آیتونو او د نبي کریمﷺ په مبارکو احادیثو باندې ثابت دی.

الله تعالی د المؤمنون په سورت کې فرمایلي دي:﴿وَمِنْ وَرَائِهِمْ بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ﴾ [المؤمنون: ۱۰۰] **ژباړه:** او په مخ کې د دوی د برزخ (قبر) پرده ده (چې دوی نه پرېږدي دنیا ته رجوع وکړي) تر هغې ورځې پورې چې هغوی په قیامت کې را پاڅول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲. نکِیْر او مُنْکَرْ

**د نکِیْر او مُنْکَرْ پېژندنه**

نکير او منکر د الله تعالی دوه ملکې دي، الله تعالی دا دوه ملکې له مړو څخه په قبر کې په پوښتنه کولو گمارلې دي، د نبي کريمﷺ د حديث له مخې يې رنگونه تور او سترگې يې شنې دي.

### له مړي څخه په قبر کې پوښتنې کول

کله چې مړی په قبر کې ښخ کړل شي او خلك ورڅخه بېرته وگرځي، نو ده ته نوموړې دوې ملکې راځي(مکلف مړی د الله تعالی په امر سره بېرته را ژوندی کيږي، خپل عقل او پوهه يې بېرته ورته را گرځي) او له ده څخه د رب، دين او نبي په هکله پوښتنې کوي، که چېرې مړي د دغو پوښتنو صحيح ځواب ورکړ او برياليی شو، نو د الله تعالی لـه خوا ورتـه نعمتونه ورکول کيږي او وروستي پړاوونه پرې آسانيږي او كه ناكام شو، نو عذاب ورکـول کيږي او وروستي پړاوونه يې هم سختيږي.

### په قبر کې د پوښتنو کولو د اثبات دليل

په قبر کې له مړي څخه د نکير او منکر سوال کول په قرآن کريم او د نبي کريمﷺ په مبارکو احاديثو سره ثابت دی.

**قرآن کريم:** الله تعالی په دې اړه په قرآن کريم کې فرمايلي دي: ﴿يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ﴾ [إبراهيم: ۲۷] ] **ژباړه:** الله تعالی بـه مؤمنان پـه نـژدې ژوند او په آخرت کې په ثابته (د توحيد کلمه ورڅخه مراد ده) وينا کلك او ثابت قدمه کړي. نبي کريمﷺ څرگنده کړې ده چې دلته له آخرت څخه مراد قبر دی، ځکه قبر د آخرت له منازلو څخه لومړنی منزل دی.

**حديث شريف:** حضرت ابو هريره رضی الله تعالی عنه روايت کوي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: «إِذَا أُقْبِرَالْمَيِّتُ أَتَاهُ مَلَكَانِ أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا الْمُنْكَرُ وَالْآخَرُ النَّكِيرُ فَيَقُولَانِ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ فَيَقُولُ: هُوَ عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ فَيَقُولَانِ قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ هَذَا ثُمَّ يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِينَ ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيهِ ثُمَّ يُقَالُ لَهُ نَمْ فَيَقُولُ أَرْجِعُ إِلَى أَهْلِي فَأُخْبِرُهُمْ فَيَقُولَانِ نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوسِ الَّذِي لَا يُوقِظُهُ إِلَّا أَحَبُّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ وَإِنْ كَانَ مُنَافِقًا قَالَ سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ فَقُلْتُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مِثْلَهُ لَا أَدْرِي فَيَقُولَانِ قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ ذَلِكَ فَيُقَالُ لِلْأَرْضِ الْتَئِمِي عَلَيْهِ فَتَلْتَئِمُ عَلَيْهِ فَتَخْتَلِفُ فِيهَا أَضْلَاعُهُ فَلَا يَزَالُ فِيهَا مُعَذَّبًا حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ»[١] **ژباړه:** کله چې مړی په قبر کې کېښودل شي، نو دوې ملکې ورته راشي چې تورې څېرې او شنې سترګې لري، يوې ته نکير او بلې ته منکر ويل کيږي، هغوی به پوښتنه وکړي: تا ددې سړي په شان کې څه ويل؟ نو هغه به ځواب ورکړي، دا د الله تعالی بنده او د هغه رسول دی. زه شاهدي وايم چې له الله تعالی نه پرته بل بر حق معبود نشته او شاهدي وايم په دې چې محمدﷺ د هغه بنده او د هغه رسول دی، نو پرښتې به ووايي موږ پوهېدو چې ته به همدا وايې. له هغه وروسته به د هغه قبر اويا ګزه په اويا ګزو کې پراخه او ورته رڼا کړای شي، بيا به ورته ووايي چې ويده شه، نو دی به ووايي زه ځم خپلې کورنۍ ته چې د خپل حال زيری ورکړم، نو پرښتې به ورته ووايي: ته د هغې ناوې غوندې ويده شه چې د خپلې کورنۍ د ډېر ګران فرد نه پرته بل څوک يې نه شي ويښولای. (د دغه مړي به همدغسې حالت وي) تر هغه وخته چې الله تعالی يې له دغه آرامځي څخه پاڅوي او که دا مړی منافق وي نو په ځواب کې به وايي چې له خلکو مې اورېدل چې هغوی ويل ما هم همغسې ويل. نه پوهېدم چې څوک دی، نو پرښتې به وايي موږ پوهېدو چې ته به همداسې وايې. بيا به ځمکې ته وويل شي پر ده باندې را تنګه او راجوخته شه. نو داسې به پرې راتنګه شي چې د ده پښتۍ به سره تېرې ببرې شي، په همدې عذاب کې به تر هغې پورې اخته وي چې الله تعالی يې له دغه استوګنځي نه را پاڅوي.

### ۳. د قبر نعمتونه او عذاب

### د قبر پېژندنه

سره له دې چې قبر په مشهوره اصطلاح کې د ځمکې هغې برخې ته ويل کيږي چې مړی پکې ښخ شوی وي، خو د نعمتونو او عذابونو د اثبات په بحث کې قبر له مرګ څخه وروسته د مړي د شتون ځای ته ويل کيږي، که هغه ريښتينی قبر وي او که بل ځای وي، لکه چې څوک په اوبو کې مړ شي او اوبه يې يوسي او يا څوک له مرګه وروسته ځناور وخوري، ياېې څوک وسوځوي او داسې نور.

---

١ - رواه الترمذي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی فرمايي: ﴿وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُورِ﴾ [الحج: ۷] **ژباړه:** او الله تعالی د قبرونو والا خامخا راپاڅوي.

په دې آيت کې له قبرونو څخه عامه معنا مراد ده، په دې توګه چې الله تعالی مړي هرو مرو راپاڅوي که هغه په ځمکه کې ښخ وي، که سوځېدلي وي او که ځناورو خوړلی وي.

## د قبر د نعمتونو او عذابونو د اثبات دليل

د قبر نعمتونه د قرآن کريم په مبارکو آيتونو او د نبي کريمﷺ په مبارکو احاديثو باندې ثابت شوي دي.

۱ـ الله تعالی په قرآن کريم کې د قبر د نعمتونو په اړه فرمايلي دي: ﴿يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ﴾ [إبراهيم: ۲۷] **ژباړه:** الله تعالی به مؤمنان په نړدې ژوند او په آخرت کې په ثابته وينا کلک او ثابت قدمه کړي.

۲ـ نبي کريمﷺ د قبر په اړه فرمايلي دي: «اِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ، أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ»[۱] **ژباړه:** په يقيني توګه قبر يا د جنت له باغچو څخه يوه باغچه ده او يا د دوزخ له کندو څخه يوه کنده ده.

۳ـ نبي کريمﷺ په دوو قبرونو تېرېده، نو وېې فرمايل: «إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ وَأَمَّا الْآخَرُ فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ»[۲] **ژباړه:** دغه دواړه (مړي) په عذاب کې دي د داسې لويې ګناه له امله ورته عذاب نه ورکول کېږي؛ يوه به د خپلو تشو متيازو (له څاڅکو) څخه ځان نه ساته او بل به چغلي کوله.

## په برزخ، نکير او منکر او د قبر په نعمتونو او عذاب د ايمان حکم

په برزخ او ټولو هغو شيانو چې په برزخ کې واقع کيږي او نبي کريمﷺ مونږ پرې خبر کړي يو لکه په قبر کې د نکير او منکر له خوا له مړي څخه پوښتنې کول، د قبر عذاب او نعمتونه په دې ټولو ايمان راوړل فرض دي.

---

۱ – رواه الترمذي.

۲ – صحيح البخاري ت – (۱ / ۲۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

### پوښتنې:

۱. برزخ تعریف کړئ.
۲. د برزخ د اثبات لپاره دلایل ذکر کړئ.
۳. په قبر کې د پوښتنې کوونکو ملایکو نومونه څه دي؟
٤. له مړي څخه په قبر کې ملایکې د څه شي پوښتنې کوي؟
٥. د قبر د سوال په هکله یو نقلي دلیل بیان کړئ.
٦. قبر تعریف کړئ.
۷. د قبر د نعمتونو په هکله یو نقلي دلیل ووایئ.
۸. د قبر د عذاب په هکله یو نقلي دلیل ووایئ.
۹. په پورتنیو موضوعاتو د ایمان حکم بیان کړئ.

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د برزخ د حالاتو په اړه یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښـو کمه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لسم لوست**

# بعث او حشر

مسلمانان ټول په دې کلکك ایمان لري، هغه غیبي حالات چې الله ﷻ په قرآن کریم کې او پیغمبر ﷺ په احادیثو کې بیان کړي حق دي، لکه: بعث، حشر، د اعمالو تلل، جنت، دوزخ او داسې نور.

## ۱. بعث

**د بعث تعریف:** په لغت کې لیږلو، راپاڅولو او ژوندي کولو ته وایي او په شرع کې جسدونو ته د ارواحو بېرته راګرځولو او له قبرونو څخه انسانان راپاڅولو ته بعث ویل کیږي.

### د تعریف شرح

بعث، نشور، نشأة ثانية او معاد مترادف الفاظ دي چې د یوه حالت لپاره په قرآن کریم کې ذکر شوي او هغه پس له مرګه د مړو را ژوندي کېدل دي، ټول مړي به د الله ﷻ په امر له قبرونو څخه راولاړیږي او ارواح به یې له خپلو جسدونو سره بیا یو ځای کېږي چې له دغه حالت څخه په قرآن کریم او احادیثو کې کله د بعث، کله د نشر او نشور او کله هم ورڅخه د نشأة ثانية (دویم ځل ژوندون) په لفظ تعبیر شوي دي.

### د بعث د اثبات دلیل

الله ﷻ فرمایي: ﴿ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ﴾ [المؤمنون: ١٦] **ژباړه:** بیا به تاسې د قیامت په ورځ راپاڅول شئ.

په بل آیت کې الله ﷻ فرمایي: ﴿وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُورِ﴾ [الحج: ٧] **ژباړه:** او بېشکه الله ﷻ راپاڅوي هغه خلك چې په قبرونو کې دي.

### په بعث ایمان درلودل

په بعث ایمان درلودل د ایمان اساسي رکن دی، نو له مرګ څخه وروسته په بیا ژوندي کیدو ایمان درلودل فرض دي، هر څوك چې له بعث څخه منکر وي کافر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲. حشر

**د حشر تعریف:** حشر په لغت کې د قیامت په ورځ د فیصلې او حساب لپاره د انسانانو راټولېدلو ته ویل کېږي.

### د تعریف شرح

د قیامت په ورځ د انسانانو موقف او د محشر میدان ته راټولولو او راجمع کولو ته حشر ویل کېږي، انسانان به ټول د محشر په میدان کې د دې لپاره راجمع کېږي، تر څو له دوی سره د دوی د اعمالو حساب وشي، د نیکانو نیکي و تلل شي او د بدانو بدي او هغوی ته خپلې عملنامې په ښي یا کیڼ لاس کې ورکړل شي.

د دوی تر منځ به د دې فیصله او پریکړه وشي چې څوک د جنت مستحق دي او څوک د جهنم چې دې ته لوی حشر هم ویل کېږي.

### د حشر د اثبات دلیل

د قیامت په ورځ حشر په بې شمېره دلایلو ثابت دی.

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾ [البقرة: ۲۰۳] **ژباړه:** او ښه پوه شئ بېشکه تاسې به د الله ﷻ حضور ته راټولیږئ.

په بل آیت کې فرمايي: ﴿وَهُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ فِي الْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾ [المؤمنون: ۷۹]

**ژباړه:** او الله ﷻ هغه ذات دی چې تاسې یې په ځمکه کې خواره واره پیدا کړي یاستئ، بیا به همده ته راجمع کیږئ.

رسول الله ﷺ په خپل یو مبارک حدیث کې فرمایلي دي: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ إِلَى اللَّهِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا»[1] **ژباړه:** اې خلکو بېشکه تاسې به په داسې حال کې چې پښې به مو لوڅې وي، په بدن باندې به مو کالي نه وي، سنت شوي به نه یاست الله تعالی ته به راټولیږئ.

### حشر به د چا کیږي؟

حشر به له انسانانو، پیریانو او له ټولو ژوندیو مخلوقاتو سره سر ته رسیږي، کله چې څاروي او نور ژوي یو له بل څخه د خپلو ظلمونو غچ واخلي، نو دوی به بیا مړه شي او یوازې انسانان به په محشر کې پاتې شي لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ﴾ [التکویر: ۵] **ژباړه:** او (یاد کړه هغه ورځ) کله چې وحشي ژوي راجمع کړل شي. په بل آیت کې فرمایي: ﴿وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي

---

۱ - صحیح البخاري ت - (۱۱ / ۲٤۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ﴾ [الأنعام: ٣٨] **ژباړه:** په ځمکه کې خوځېدونکي کوم ساکښ او په هوا کې په وزرونو سره الوتونکي کوم مرغه ته وګورئ، دا ټول همدا ستاسې په څېر انواع او ډولونه دي، موږ د هغو د تقدير په ليکنه کې څه نيمګړتيا نده پرې ايښې. بيا به دا ټول د خپل رب لوري ته راغونډېږي.

**حديث:** په حديث شريف کې راځي: د ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبرﷺ دوه پسونه وليدل چې يو بل يې په ښکرو ووهل. پيغمبرﷺ و فرمايل: اې أبو ذره ته پوهېږې چې دوی ولې يو بل په ښکرو وهي؟ ما وويل نه پوهېږم. پيغمبرﷺ وفرمايل: خو الله ﷻ پوهېږي چې ولې دوی يو بل په ښکرونو وهي او نژدې ده چې د دوی تر منځ فيصله وکړي.[1] په بل حديث کې د هغه چا په حق کې راځي چې د خپلو څارويو څخه زکات نه ورکوي: اوښان به خپل مالکان د پښو لاندې کوي او وزې به خپل مالکان په پښو او ښکرو باندې وهي.[2] په بل روايت کې راځي: کله چې الله ﷻ وحشي حيوانات راټول کړي او دوی يو له بل څخه خپلې بدلې او غچ واخلي بيا به ورته الله تعالی امر وکړي چې خاورې شئ، هغوی به خاورې شي، نو په دغه وخت کې به کافر د دې ارمان وکړي چې کاش زه هم خاورې شوی وای.[3]

## پوښتني

١. بعث تعريف کړئ.
٢. حشر تعريف کړئ.
٣. د بعث او حشر د اثبات دليلونه ووايئ.
٤. د بعث او حشر تر منځ توپير واضح کړئ.
٥. الله تعالی به د قيامت په ورځ څوک حشر کوي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د بعث او حشر په اړه له قرآن کريم څخه نور دلايل ووايي چې په کتاب کې نه دي ذکر شوي.

١ – مسند احمد.
٢ – متفق عليه.
٣ – تفسير بحر العلوم د ابو الليث السمرقندي. کتاب ١/ ٤٦٧ تفسير طبري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یوولسم لوست**

# د پیغمبرﷺ شفاعت

آیا پوهیږئ چې شفاعت څه ته وایي؟ او شفاعت په څو ډوله دی؟ او پیغمبرﷺ به شفاعت څه وخت او د چا لپاره کوي؟

د دې لپاره چې په پورتنیو مطلبونو ښه پوه شو، لاندې لوست لولو.

## د شفاعت تعریف

شفاعت په لغت کې له چا څخه د بل لپاره د نېکۍ کولو او جرم او خطا د ښلو غوښتلو ته وایي.

او د عقایدو د علم په اصطلاح کې له الله تعالی څخه د قیامت په ورځ غوښتنه ده، څو د یوه چا له خطاوو څخه تېر شي او ښېګڼه ورته وکړي

په دې ځای کې له شفاعت څخه مرا د زموږ د خوږ پیغمبر حضرت محمدﷺ شفاعت مراد دی چې د قیامت په ورځ به یې د ټولو خلکو لپاره په عامه توګه او د خپلو امتیانو لپاره په خاصه توګه د الله تعالی په دربار کې تر سره کوي او الله تعالی به د خپلې مهربانی له مخې او د پیغمبرﷺ د اعزاز په موخه د هغه سفارش قبلوي.

## د شفاعت د اثبات دلیل

د پیغمبرﷺ شفاعت په قرآن کریم، نبوي احادیثو او د امت په اجماع سره ثابت دی.

الله ﷻ فرمایي: ﴿عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا﴾ [الإسراء: ۷۹] **ژباړه**: نږدې ده چې ستا څښتن به تا ستایل شوې ځای ته ورسوي.

حضرت عبدالله بن مسعود، حذیفة بن الیمان، عبدالله بن عمر، سلمان فارسي او جابر بن عبدالله رضی الله عنهم ویلي چې له ((مقام محمود)) څخه د پیغمبرﷺ شفاعت کبری مراد دی.

د پیغمبرﷺ د شفاعت په باره کې دومره زیات احادیث راغلي چې د تواتر اندازې ته رسیږي، لکه چې پیغمبرﷺ فرمایلي دي: «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ».[1]

ژباړه: زه به د قیامت په ورځ د آدمعليه السلام په اولاده کې سردار یم او زه به لومړی هغه څوک یم چې له قبر څخه راپاڅیږي[2] او زه به لومړی هغه څوک یم چې شفاعت به کوم او لومړی هغه څوک به یم چې شفاعت یې قبلیږي.

---

۱ - صحیح مسلم - ۷ / ۵۹

۲ـــ تفسیر زاد المسیر للامام ابن الجوزی رح- (۵ / ۷۶) و تفسیر النکت والعیون للامام الماوردي البصري (۳ / ۲٦۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د پیغمبرﷺ د شفاعت ډولونه

الله تعالی حضرت محمدﷺ ته د دوه ډوله شفاعتونو اعزاز ور په برخه کړی دی:

۱. شفاعت کبری.
۲. شفاعت صغری.

### ۱. شفاعت کبری

کله چې ټول انسانان د محشر په میدان کې د خپلو اعمالو د حساب لپاره راټول شي، په دې انتظار کې وي چې کله به الله تعالی له دوی سره د اعمالو محاسبه شروع کوي او له ډېرې ویرې او هیبت څخه به په ډېر لوی مشقت او غم کې پراته وي، آن تر دې چې د دوی انتظار به تر ځلوېښتو کلونو پورې وغځېدل شي، دوی به په دې هڅه کې شي چې څوک داسې پیداکړي چې الله تعالی ته د دوی په هکله شفاعت وکړي، نو له نورو ټولو هڅو وروسته به انسانان د پیغمبرﷺ حضور ته راشي او ورڅخه به وغواړي څو له الله تعالی څخه غوښتنه وکړي چې له دوی سره محاسبه شروع کړي، بیا به پیغمبرﷺ الله تعالی ته په سجده پرېوځي او الله تعالی ته به دومره عذر او زاری وکړي چې الله تعالی به ووایي: اې محمده! سر را پورته کړه هر څه چې غواړې درته به درکړل شي اوشفاعت به دې قبول کړل شي. پیغمبرﷺ به الله تعالی ته له انسانانو سره د حساب کولو شفاعت وکړي او الله تعالی به یې قبول کړي.

**فعالیت:** آیا امتونه به له نورو پیغمبرانو څخه هم د شفاعت کولو غوښتنه کوي؟ په دې هکله مو څه اورېدلي، په نوبت سره یې بیان کړئ.

### ۲. شفاعت صغری

له شفاعت صغری څخه مراد د پیغمبرﷺ هغه شفاعت دی چې د نورو بیلا بیلو خلکو لپاره به یې کوي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱. د ټولو مؤمنانو لپاره جنت ته د تللو په هکله شفاعت.
۲. د هغه چا لپاره شفاعت چې نیکۍ او بدۍ یې برابرې وي، نو د دوی په هکله به شفاعت کوي، تر څو جنت ته داخل کړل شي.
۳. د خپل امت د ګناهکارو لپاره شفاعت، تر څو الله تعالی یې ګناهونه وروبښي او له دوزخ څخه یې راوباسي او جنت ته یې داخل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤. د نيکانو د درجو او مرتبو د لا اوچتولو لپاره د پيغمبرﷺ شفاعت.
٥. د پيغمبرﷺ شفاعت د ځينو خلکو لپاره، تر څو بې له محاسبې جنت ته وردننه شي.
٦. د عذاب له مستحقينو څخه د عذاب د تخفيف لپاره شفاعت.[1]

## د پيغمبرﷺ د شفاعت شرطونه

د پيغمبرﷺ د شفاعت لپاره د دريو شرطونو وجود لازمي دی:

١. **د قيامت ورځ:** پيغمبرﷺ به شفاعت د قيامت په ورځ کې کوي، هغه څوک چې د دنيا په چاروکې د پيغمبرﷺ د شفاعت غوښتنه کوي هغه په خطا دی.

٢. **د الله تعالی اجازت:** د شفاعت لپاره ضروري ده چې الله ﷻ به د شفاعت کولو اجازت ورکړي، لکه چې الله تعالی فرمايي: ﴿مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ﴾ [البقرة: ٢٥٥].
**ژباړه:** څوک دی چې د هغه په وړاندې د هغه له اجازې پرته شفاعت وکړای شي؟
په يو بل آيت کې الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ﴾ [سبأ: ٢٣].
**ژباړه:** او د الله تعالی په حضور کې هيڅ شفاعت د چا لپاره ګټور ثابتيدای نشي، خو دا چې الله تعالی چاته د شفاعت اجازه ورکړي.

٣. **د الله تعالی رضامندي له هغه چا څخه چې په اړه يې ځانګړی شفاعت کيږي:** خوکه له چا څخه الله تعالی تل ناراضه وي د هغه لپاره د پيغمبرﷺ ځانګړی شفاعت نشته.

البته شفاعت کبری چې د ټولو انسانانو حساب کتاب په هغه سره پيلېږي، دا شفاعت عام دی.

### پوښتني:

١. شفاعت تعريف کړئ.
٢. د پيغمبرﷺ د شفاعت ډولونه ووایاست.
٣. د پيغمبرﷺ په شفاعت به کوم اشخاص له دوزخ څخه راوځي؟
٤. د شفاعت شرطونه څو دي؟ بيان يې کړئ.

### کورنی دنده

زده کوونکي دې د احاديثو کتابونو ته مراجعه وکړي او د پيغمبرﷺ د شفاعت کبری قصه دې پوره وليکي.

---

١ــ شرح العقيدة الطحاوية - (١ / ٢٠٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حدیثو برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست

# غيبت لويه گناه ده

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: { أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ }؟. قَالُوا: اَللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: { ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ }. قِيلَ: أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ؟ قَالَ {إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ }. (رواه مسلم).

## د راوي لنډه پېژندنه

د حديث شريف راوي حضرت ابو هريره﵁ دی چې نوم يې عبد الرحمن، د پلار نوم يې صخر، د دوس له قبيلې سره يې تړاو درلود، په کنيه (ابوهريره) سره يې شهرت درلود، د هجرت په اووم کال يې اسلام منلی دی. ډېر احاديث يې له رسول الله ﷺ څخه ياد او روايت کړي دي، تر دې چې د حديث امام ورته ويل کېږي. د هجرت په اوه پنځوسم کال کې يې له فاني دنيا څخه سترگې پټې کړې.

## د ځينو کلمو معناوې

أَتَدْرُونَ: آيا تاسې پوهيږئ ؟

الْغِيبَةُ: د يوه چا يادونه په کمۍ سره د هغه په غياب کې.

بِمَا يَكْرَهُ: په هغه څه سره چې هغه يې بد گڼي.

أَفَرَأَيْتَ: خبر راکړه.

بَهَتَّهُ: تور او تهمت دې پرې ولگاوه.

## د حديث شريف ژباړه

له حضرت ابي هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ له خپلو اصحابو څخه وپوښتل: آيا تاسو پوهيږئ چې غيبت څه ته وايي؟ هغوی په ځواب کې وويل: الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي. رسول الله ﷺ وويل: خپل مسلمان ورور په هغه څه سره يادول چې بد يې گڼي غيبت بلل کيږي. له پيغمبر ﷺ څخه پوښتنه وشوه: که چيرې زما په ورور کې هغه څه شتون ولري چې زه يې يادونه کوم؟ پيغمبر ﷺ ووېل: که چيرې په هغه کې هغه څه وي چې ته يې يادونه کوې، بې له شکه تا يې غيبت وکړ او که چيرې په هغه کې هغه څه نه وي چې ته يې يادونه کوې، نو يقيناً تا هغه پورې تور وتاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د حديث شريف حکمت**

په دې حديث کې پيغمبرﷺ خپل امت ته لارښوونه کوي چې په خپلو منځونو کې يو د بل عزت او پت ته په ټينګه پاملرنه وکړي او په ځانګړې توګه هر مسلمان بايد خپله ژبه د خپل مسلمان ورور د نيمګړتياوو او کميو له څرګندولو څخه وژغوري او په خاصه توګه مسلمان بايد له غيبت کولو څخه ځان وساتي، ځکه غيبت داسې مرض دی چې په ټولنه کې د خلکو ترمنځ اختلاف راپيدا کوي او د مسلمانې ټولنې وحدت او يووالي ته زيان رسوي، په دې اساس زموږ پيغمبرﷺ له داسې عمل څخه منعه کړې ده او مسلمانان يې دې ته متوجه کړي دي چې په مسلمانه ټولنه کې بايد څوک د چا د سپکاوي په فکر کې نه وي، بلکې د اخلاص او صميميت په فضا کې به ژوند تېروي، نو ټولنه به د ټولو هغو ناخوالو څخه پاکه او په امن کې وي چې د اختلاف او شخړو لامل ګرځي او همدا د اسلام غوښتنه ده.

**د حديث شريف ګټې**

**۱ – د اسلام سمه زده کړه**

اصحابو کرامو به تل زيار ايسته چې، ترڅو په سمه توګه دين زده کړي، له دې کبله يې له پيغمبرﷺ څخه وغوښتل چې د غيبت په معنا سم ځان پوه کړي او ورڅخه يې وپوښتل چې دوی ته مسئله روښانه کړي، نو په هر مسلمان باندې لازم دي، تر څو د دين احکام په سمه توګه زده کړي.

**۲ – له ناروا وو څخه ځان خبرول**

مسلمان بايد د دين له اوامرو او نواهيو دواړو څخه ځان خبر کړي، ترڅو په اوامرو عمل وکړي او له ناروا چارو څخه ځان وساتي.

**۳ – دغيبت معنا:** د مسلمان ورور په غياب کې هغه نيمګړتياوې په ګوته کول چې هغه يې بدې ګڼي او پرې خپه کيږي، دې ته غيبت ويل کيږي.

**۴ - غيبت ناروا عمل دی**

غيبت کول د مړ مسلمان ورور د غوښې خوړلو په څېر دي، لکه چې په حجرات سورت کې الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ﴾ [الحجرات:۱۲]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه:** او یو د بل غیبت مه کوئ آیا یو له تاسو څخه د خپل مړ ورور غوښه خوړل خوښوي؟ نو (نه) بلکې بد یې ګڼئ او له الله تعالی څخه ووېرېږئ، یقیناً الله تعالی ښه توبه قبلوونکی مهربان ذات دی.

**۵ – مسلمانان سره وروڼه دي**

یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، **لکه** څرنګه چې په حجرات سورت کې الله فرمايي: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ [الحجرات:۱۰]

**ژباړه:** مؤمنان سره وروڼه دي، نو تاسې د خپلو وروڼو ترمنځ صلحه راولئ او له الله تعالی څخه ووېرېږئ چې تر څو پر تاسې رحم وشي.

مؤمنان تل د ديني ورورۍ پر اساس په خپلو منځو کې مينه او لورينه لري او يو بل ته د ښېګڼې رسولو په فکر کې وي او هر يو د خپل مسلمان ورور سره مرسته کوي او د زيان ور رسولو څخه يې ځان ساتي.

**٦ – تهمت (تور) لګول لويه ګناه ده**

**تهمت:** د مسلمان په هکله هغه نا وړه څرګندونه ده چې په هغه کې دغه نيمګړتيا نه وي او وريورې تړل کيږي داسې څرګندونه تهمت بلل کيږي.

تهمت لويه ګناه ده او په پورتني حديث کې له غيبت کولو څخه يې وبال زيات ښودل شوی دی.

**ځينې څرګندونې غيبت نه بلل کيږي**

د دين علماء د دلايلو په رڼا کې لاندې څرګندونې غيبت نه بولي:

**۱ – له ظالم څخه د مظلوم شکايت**

کله چې مظلوم له ظالم څخه شکايت کوي، د هغه د تېري څرګندونه هغه چا ته کوي چې ورسره مرسته کولای شي غيبت نه بلل کيږي.

**۲ – د نارواوو د مخنيوي په موخه يادونه**

تر څو دغه نا مشروع کار له منځه لاړ شي او په کې اخته خلک ترينه منعه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳ – د فتوی غوښتنه**

په یوه مسئله کې یو څوک له عالم څخه پوښتنه کوي، ترڅو پرې پوه شي، د مثال په توګه وایي: چې دغه کس پر ما تېری کوي او حق مې خوري او ظالم دی، د خلاصون لار راته وښایه.

**٤ – د مشورې غوښتنې پر اساس د چا په هکله حقیقت ویل**

چا ته د یوه کس په اړه د حقیقت ویلو په ترڅ کې د هغه نیمګړتیاوې په ګوته کول چې اهلیت لري او که نه او یا د اعتماد وړدی او که نه، غیبت نه بلل کیږي.

**٥– د یوه کس بې دیني څرګندول:**

تر څو د هغه له ناسمو اعمالو څخه مسلمانان خبر شي او ځان ورڅخه وژغوري.

**٦ – په هغه صفت او نښې سره د یوه کس یادونه چې پرې شهرت لري**

که چیرې څوک په کوم صفت سره شهرت ولري او پرې پیژندل کیږي او له یادونې څخه یې د هغه سپکاوی هدف نه وي، بلکې پیژندنه یې هدف وي چې له نورو څخه یې توپیر وشي، لکه هغه فلانی چې ګوډ دی.

**پوښتنې:**

۱ – د غیبت معنا وواياست.

۲ – د غیبت اوتهمت ترمنځ توپیر وواياست.

۳ – غیبت کول په قرآن کریم کې له څه سره تشبیه شوی دی؟

٤ – په کومو حالاتو کې د چا په هکله څرګندونې غیبت نه بلل کیږي؟

**کورنۍ دنده**

پورتنی حدیث له ژباړې سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مسلمان د مسلمان هنداره ده

حدیث: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلى الله علیه وسلم: إِنَّ أَحَدَكُمْ مِرْآةُ أَخِيْهِ، فَإِنْ رَأَى بِهِ أَذىً فَلْيُمِطْهُ عَنْهُ. رواه الترمذی.

**د کلمو معناوې**

مِرْآةُ: هنداره (آیینه)

اذىً: عیب (نیمګړتیا)

فليُمِطْهُ عَنْهُ: لیرې دې کړي له هغه څخه

**د حدیث شریف ژباړه**

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: تاسې هر یو د خپل مسلمان ورور هنداره یاست، که چا په خپل مسلمان ورور کې څه عیب ولید، ورڅخه دې لیرې کړي.

**د حدیث حکمت**

انسان په عامه توګه کمزوری مخلوق دی، له نیمګړتیاوو څخه خالي نه وي، پرهمدې اساس په پورتني حدیث کې مسلمان ته لارښوونه کیږي چې خپل ځان ته متوجه وي او ځان د دین له لارې کمال ته ورسوي او هغه داسې کېدای شي چې په خپل مسلمان ورور باور ولري او د هغه نصایحو ته غوږ کیږدي او ویې مني چې په ځینو حالاتو کې دده د کمزورۍ اصلاح د نورو په مرسته کیږي او همدا راز د بل مسلمان دیني دنده ده چې کله په مسلمان کې څه کمزوري وګوري باید ور په ګوته یې کړي، تر څو مسلمانه ټولنه له ناروااوو اعمالو څخه پاکه او ژوند یې هوسا وي.

**د حدیث شریف ګټې**

**۱ – مسلمان د مسلمان هنداره ده**

مسلمانان په خپلو منځوکې یوبل ته اړتیا لري، ځکه چې هغه عیبونه چې یو مسلمان یې لري او پرې نه پوهیږي، بل مسلمان ورور یې ورته اصلاح کوي، لکه څرنګه چې انسان خپل ځان هنداري ته په کتلوسره په خپله سموي، نو مسلمان خپل مسلمان وروړته هغه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړي چې پر خپل ځان يې لوريږي او خپله دنده ګڼي چې د بل مسلمان نيمګړتياوې ور په ګوته کړي، په دې حديث کې هر مسلمان ته لارښوونه کېږي چې د بل مسلمان نصيحتونو منلوته تيار وي، همداراز هرمسلمان بايد له بل مسلمان څخه غوښتنه وکړي چې دده نميګړتيا او کمی ورپه ګوته کړي، ځکه دا زمونږ د نېکو خلکو تګ لاره ده، حضرت عمر فاروق به په منبر باندې خپلو ملګرو ته اعلان کاوه چې دده نيمګړتيا او کمزورئ ور وښيي.

**۲ – مسلمان د مسلمان ورورد ی**

هرمسلمان بايد د خپل مسلمان ورور په هکله خير وغواړي او يو پر بل پوره باور ولري چې څه وړانديز کوي اساس يې ښيګڼه او اصلاح ده نور څه مادي ګټې او يا ده ته زيان رسول نه دي.

**۳ – د منکر له منځه وړل**

د هرمسلمان ديني دنده ده چې په حکمت او بصيرت سره د ناروا کارونو په له منځه وړلو کې پوره برخه ولري، ځکه د مسلمان بريالتيوب په همدې پورې تړلی دی، اوپه يوازې ځان اصلاح کولو باندې ځوک نشي کامیابيدلی، ترڅو چې نور خلك يې د دين لوري ته دعوت او له بدو کارونو څخه منعه کړي نه وي، لکه چې الله تعالی په العصر سورت کې فرمايي: ﴿وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾ [العصر:۳] **ژباړه:** او (له زيان څخه ژغورل شوي هغه کسان دي) چې يو بل ته په حق او صبر سره نصيحت کوي.

**٤ – مسلمان د هنداري په څېر پاك دی**

کامل مسلمان خپل سيرت د هنداري په څېر پاك ساتي، هر وګړی د هغه په هکله باور لري چې د ټولو خلکو خير غوښتونکی دی او هېڅکله د چا په تاوان نه خوښيږي، نو پدې اساس هر وګړی د ده نظر د سر په سترګو مني، ځکه هغه عملاً په خپل ژوند کې خلکو ته خپل اخلاص او خير غوښتنه ښودلې ده.

**٥ – مسلمان د خپل مسلمان ورور عزت غواړي**

د هنداري سره د مسلمان تشبيه همدا معنا لري چې د مسلمان اصلاح به په داسې توګه کوي لکه هنداره چې د هغه رسوا کول به يې هدف نه وي چې په خلکو کې ذليل شي، بلکې په راز ساتلو سره به د هغه اصلاح راولي، څرنګه چې انسان خپله څېره په هنداره کې ګوري خپلو نيمګړتياوو ته متوجه کيږي، هنداره د ده څېره بل چاته نه رسوا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځینې زرینې ویناوې**

یوه ورځ عمر بن عبد العزیز رحمة الله علیه ته وویل شول چې په خپل رعیت کې مشر ته د پلار په سترګه وګوره اوکشر ته د زوی نظر وکړه او ځوان ته د خپل ورور په حیث وګوره، ټول رعیت به دې خپل شي.

یحیی بن معاذ رازي -رحمة الله علیه- وايي: يو مسلمان پر بل مسلمان حق لري که چیرې مرسته ورسره نشي کولای، بايد ضرر ورته ونه رسوي او که چیرې خوشحالي نشي ورکولای، غم خو ور ونه رسوي اوکه چیرې يې ستايلی نشي بدي خو يې هم ونه وايي.

**پوښتنې**

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

مِرْآةٌ :

اذیً :

فلیُمطهُ :

۲ – د حدیث ګټې په خپل عبارت کې ووایاست.

۳ – څرنګه کیدای شي چې مسلمان د مسلمان لپاره هنداره اوسي؟ واضح يې کړئ.

**کورنۍ دنده**

د لوست مهم ټکي په پام کې نیولوسره (مسلمان د مسلمان لپاره هنداره ده) تر سرلیک لاندې یوه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مشورې اهمیت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِﷺ: { الْمُسْتَشَارُ مُؤْتَمَنٌ }.

[ رواه الترمذي.]

## د کلمو معنا

الْمُسْتَشَارُ: هغه کس ته ویل کیږي چې له هغه څخه د مشورې غوښتنه کیږي.

مُؤْتَمَنٌ: هغه څوک چې امین ګرځول شوی وي.

## د حدیث شریف ژباړه

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: هغه کس چې د مشورې غوښتنه ورڅخه کیږي داسې دی لکه چې امانت ورسره ایښودل شوی وي.

## د حدیث شریف حکمت

په اسلام کې شورا خورا مهم اصل بلل کیږي، له مسلمانانو څخه په کلکه غوښتنه شوې چې په خپل ژوند کې يې پلې کړي او په دې حدیث کې مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې د مشورې ورکول یو امانت دی، نو لازمه ده چې هر مسلمان په دې اړه پوره متوجه اوسي او خپل مسلمان ورورته هسې مشوره ورکړي چې د هغه پکې ګټه او خیر وي، همداراز د هر مسلمان دیني دنده ده چې په خپل ژوند کې د شورا قانون پر خپل ځان عملي کړي، سالم نظر ته غاړه کیږدي، ځکه دا جوته ده چې له مشورې نه وروسته هر کار معقول اونتیجه يې مثبته وي.

## د حدیث شریف ګټې

### ۱- د مشورې ورکولو اهمیت

مشوره ورکوونکی د یوه امین حیثیت لري چې د امانت په ساتنه کې پوره زیار باسي، ترڅو ورڅخه ضایع نشي، همداراز مسلمان چې کله خپل ورور ته مشوره ورکوي په پوره غور او فکر سره يې ورکوي، د دې لپاره چې په ګټه يې خوشحالیږي او په تاوان يې خپه کیږي، ځکه مسلمان خپل ورور ته هغه څه خوښوي چې د ځان لپاره يې خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲ – د امانت ساتنه**

د امانت ساتنه د مسلمانۍ له ښکاره نښو څخه يوه نښه شمېرل کېږي، خيانـت د منافقـت او ټګۍ له نښو څخه يوه نښه ده چې مسلمان ورڅخه ډډه کوي، ځکه د امانت خيانتول د الله تعالی له حکم څخه سرغړونه بلل کېږي، الله تعـالی فرمـايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا﴾ [النساء:۱۲]

**ژباړه:** بې له شکه الله تعالی تاسو ته امر کوي چې امانتونه د هغو خاوندانو ته وسپارئ. لـه همدې امله مسلمان يو چاته مشوره ورکول خپل لـوی مـسؤليت ګڼـي او پـوره غـور پکـې کوي.

**۳ – مشوره اخيستل د مسلمان صفت دی**

مسلمانان د دين او دنيا په کارونو کې په خپلو منځو کې تل مـشوره کـوي، الله تعـالی پـه قـرآن کريم کې مؤمنان داسې ستايلي دي: ﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ﴾ [الشورى : ۳۸]

ژباړه: د مسلمانانو کارونه په خپلو منځو کې په مشوره دي.

همداراز الله تعالی خپل پيغمبر ته لارښوونه کوي چې په چارو کـې لـه خپلـو ملګـرو سـره مشوره وکړي: ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾ [آل عمران : ۱۵۹]

خپلو ملګرو(اصحابو) سره په کارونو کې مشوره وکړه.

د دې آيت حکم ټولو مسلمانانو ته متوجه دی او د هر مسلمان مکلفيت ګڼل کيږي.

له حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايي: رسول الله ﷺ به له هر چا څخه زيات په مشوره عمل کاوه او له اصحابو څخه يې مشوره غوښتله.

**٤ – په مشورې سره کار سر ته رسول نېکمرغي ده**

مونږ مسلمانان په دې پوره باور لرو چې مشوره د ژوند په کـارونو کـې د بريـاليتوب لـوی لامل دی لکه چې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: «مَا خَابَ مَنِ اسْتَخَارَ، وَلاَ نَدِمَ مَنِ اسْتَشَارَ، وَلاَ عَالَ مَنِ اقْتَصَدَ»[1]. **ژباړه:** څوک چې استخاره کوي هېڅکله نه ناکامېږي او څوک چې کارونـه

[1] الراوي:أنس بن مالك المحدث: الطبراني المصدر: المعجم الأوسط الجزء أو الصفحة ٦/٣٦٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مشوره کوي هېڅکله نه پښیمانه کېږي او څوک چې په ژوند کې میانه روي اختیار کړي نه خوارېږي، یعنې له اسراف او بې ځایه امساك (بخیلی) څخه ډډه کوي.

**مشوره باید له چا څخه واخیستل شي؟**

هغه څوك با ید د مشورې اخیستلو لپاره غوره کړای شي چې باوري، په نظر ورکولو کې صادق وي او په هغه کار کې چې مشوره ورڅخه غوښتل کېږي پوره معلومات ولري او مشوره غوښتونکی یې له دیانت څخه ډاډمن وي.

**پوښتنې**

۱ - مشوره په چارو کې څه اهمیت لري؟

۲ - له چا څخه باید مشوره واخیستل شي؟

۳ - په حدیث کې مشوره ورکوونکی له چا سره تشبیه شوی دی؟

**کورنی دنده**

د لوست مهم ټکي په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست

# د بېوزلو سره مرسته

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ﷛ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ {السَّاعِي عَلَى الأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ }. وَأَحْسِبُهُ قَالَ: { كَالْقَائِمِ لاَ يَفْتُرُ وَكَالصَّائِمِ لاَ يُفْطِرُ}. [متفق عليه]

**د راوي پېژندنه په تېر لوست کې شوې ده.**

**د کلمو معناوې**

**السَّاعِي:** پالونکی اومرسته کوونکی

**الأَرْمَلَةِ:** کونډه

**كَالْقَائِمِ:** په شپه کې عبادت (تهجد) کوونکی

**لاَ يَفْتُرُ:** نه ستومانه کېږي

**لاَ يُفْطِرُ:** پرله پسې روژه نیسي

**د حدیث شریف ژباړه**

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: د کونډې اومسکین پالونکي د الله تعالی په لار کې د مجاهد په څېر دی او راوي وايي چې گومان کوم: پیغمبرﷺ وویل: اجر یې د هغه نه ستومانه کیدونکي مسلمان په څېر دی چې تل شپه د الله تعالی په عبادت کې په ولاړه تېروي او د هغه تل روژه نیوونکي په څېر ثواب لري چې هېڅکله روژه نه ماتوي (د ورځې ټول عمر روژه نیسي).

**د حدیث شریف حکمت**

د اسلام دین د نېکمرغۍ دین دی، د انسان د دنیا اوآخرت بریالیتوب ورپورې تړلی دی او ټول انسانیت ته د سمې لارې ښوونه کوي، یعنې په سمه توگه د خپل رب پېژندنه، د هغه د مخلوق سره د مرستې او خواخوږۍ دین دی. څرنگه چې د متعال رب عبادت کول لازم دي، همدارنگه په انسانانو باندې زړه سوی کول هم ضروري دي، په پورتني حدیث کې پیغمبرﷺ، د کمزورو او اړو خلکو سره مرسته او پالنه د هغو سختو عباداتو سره برابره کړې چې مسلمان یې په ډېرې سختۍ سره سرته رسولای شي، دا د دې ښکارندوی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازينی دين چې د انسانانو ترمنځ يې يو والی راوستی دی او توپيرونه او فاصلې يې له منځه وړي دي، هغه د اسلام مبارك دين دی.

**فعاليت:** زده کوونکي دې په ډله ييزه توګه له اړو خلکو سره د مرستې بيلګې په ګوته کړي.

## د حديث شريف ګټې

### ۱ – د اړو خلکو د پالنې ثواب

له حديث شريف څخه دا څرګنديږي چې که څوك د کفايي جهاد کولوڅخه عاجز وي اوغواړي د مجاهد ثواب تر لاسه کړي، له کونډو او اړو خلکو سره دې مرسته وکړي، پرته له دې چې د جهاد په لاره کې ستونزې او کړاوونه وګالي، دا ټول په دې دلالت کوي چې کونډې او بې اسرې خلك الله تعالی ته نژدې خلك دي چې له هغوی سره د مرستې په پايله کې مرسته کوونکو ته لوړ مقام ورکوي.

### ۲ – له مخلوق سره ښيګنه عبادت دی

په پورتني حديث شريف کې له کونډو او بېوزلو خلکوسره مرسته په شپه کې پرله پسې ټول عمر عبادت کولو او تل تر تله روژه نيولو سره برابره ښوولې شوې ده.

له عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبرﷺ فرمايلي دي: له غوره عملونو څخه يو دادی چې مؤمن خوشحاله وساتي، په جامو يې پټ کړي، لوږه يې ختمه کړي او اړتيا يې پوره کړي.[۱]

### ۳ – له اړو او کمزورو خلکوسره مرسته کول کاميابي ده:

هر مسلمان چې د مسکينانو او اړو خلکو سره مرسته کوي هغه به په خپل ژوند کې تل خوشحاله او نېکمرغه وي، ځکه له ده سره د الله مرسته مل وي، لکه چې رسول اللهﷺ فرمايي: «هَلْ تُنْصرُونَ وتُرْزَقُونَ إلاَّ بِضُعَفَائِكُمْ»[۲] **ژباړه:** ستاسو رزق او کاميابي د کمزورو (دعا) پورې تړلې ده.

۱ – طبراني

۲ – رواه البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو کله چې انسان د کونډو، یتیمانو، او مسکینانو په پالنه کې بوخت وي الله تعالی یې په ژوند اوکار کې برکت اچوي.

## پوښتنې

۱ -لاندې کلمې معنا کړئ:

**السَّاعِي**:

**الأَرْمَلَةِ**:

**لاَ يَفْتُرُ**:

**لاَ يُفْطِرُ**:

۲ - د حدیث شریف معنا وواياست.

## کورنۍ دنده

له ښوونځي سره د مرستې تر سرلیك لاندې يوه مقاله وليكئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لوڼو پالنه او روزنه

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ» وَضَمَّ أَصَابِعَهُ. [رواه مسلم]

## د راوي پيژندنه

انس د مالك زوی د نضر لمسی، كنيه يې ابو حمزه، د انصارو د خزرج له قبيلې څخه و، لس كاله يې د رسول الله ﷺ په خدمت كې تېر كړي دي. رسول الله ﷺ ورته په عمر او مال كې د بركت دعا كړې وه او په وړوكوالي كې يې د بدر په غزا كې ګډون وكړ. په لمانځه كې يې له رسول الله ﷺ سره ډېر ورته والى درلود. يو له هغو صحابه وو څخه دى چې زيات شمېر احاديث يې روايت كړي دي. د پيغمبر ﷺ له مړينې څخه وروسته د جهاد او فتوحاتو په لړ كې عراق ته ولاړ او په بصره كې مېشت شو. هغه وروستى صحابي و چې د سلوكلونو په عمر په بصره كې وفات شو.

## د كلمو معناوې

١ ــ عَالَ: پالنه وكړه

٢ ــ جَارِيَتَيْنِ: دوه كوچنۍ لورګانې

٣ ــ تَبْلُغَا: دواړه بلوغ ته ورسيږي

٤ ــ ضَمَّ: نژدې او يو ځای كړې

٥ـ أَصَابِعَهُ: خپلې ګوتې

## د حديث شريف ژباړه

له انس رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وويل: څوك چې د دوو لورګانو پالنه او روزنه تر بلوغه پورې وكړي، د قيامت په ورځ به زه او هغه (پالونكى) سره يوځاى يو او خپلې (دوه) مباركې ګوتې يې سره نژدې كړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې د دوو لوڼو پالونکی او پيغمبرﷺ به په جنت کې سره نژدې اوسي او دا نـژدې کيـدل يې د دوو ګوتو ترمنځ له فاصلې سره تشبيه کړل.

**د حديث شريف حکمت**

دا يو څرګند حقيقت دی چې اسلام نه يوازې د انسان د ژوند ساتنه کوي، بلکـې د ټولـو مخلوقاتو حقوق پکې خوندي دي، پـه دې حـديث کـې د کوچنيـانو د حقوقـو پـه هکلـه مسلمانانو ته لارښوونه شوې ده چې په ځانګړې توګه د نجونو پالنـه او روزنـه ډېـره د پـام وړ ده، د دوی تربيې اوساتنې ته يې د هلکانو په پرتله غوره والی ورکـړی دی، آن تـردې چې پيغمبرﷺ د دوی پالونکي له ځان سره نژدې بللي دي او د نجونو شـتون يـې پـه کـور کې نېکمرغي ښوولې ده.

او دا ځکه چې ښځې له پيل څخه تر واده پورې له خطـر سـره مـخ وي، اسـلام د دوی د مصئوونيت په موخه پلار او مور ته دنـده سـپارلې چـې تـر واده پـورې ورتـه پـوره پاملرنـه وکړي، ترڅو په ټولنه کې د بدو خلکو ښکار او په ټولنه کې د تجارت د سامان پـه توګـه استعمال نشي.

**د حديث شريف ګټې**

**۱ - د لورګانو د پالنې اجر**

د لوڼو او خويندو پالنه، روزنه او د هغـوی اړتيـاوې پـوره کـول د دې لامـل ګرځـي چـې پالونکی يې د آخرت له عـذاب څخـه خـلاص او هغـه غوښـتنه تـر لاسـه کـوي چـې هـر مسلمان ورته ليوال دی چې هغه جنت ته تلل دي، دا د دوی د روزنـې پـه اهميـت بانـدې دلالت کوي.

دا اجر يوازې پلار ته نه دی ځانګړی شوی، بلکې مور هم له دې اجر څخـه برخمنـه ده، دعايشې رضی الله عنها روايت چې وروسته راځي پر دې دلالت کوي.

**۲ – پر پلار باندې د لورګانو حقوق**

لـور پـه پـلار او خـور پـه ورور بانـدې حـق لـري چـې د هغـو پالنـه او روزنـه وکـړي، دا مسؤوليت تر ځوانۍ محدود نه دی، بلکې وروسته له بلوغه هم دوام لري چې حـق يـې پـه نکاح ورکولو سره ساقطيږي، له هغـه څخـه يـې وروسـته سـاتنه او پالنـه پـه خاونـد بانـدې لازميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳ – د لورګانو سره ښېګڼه**

که څه هم په حديث کې د لورګانو يادونه شوې ده، خو علماء د نورو رواياتو په رڼا کې وايي دغه ثواب د لورګانو په هکله ځانګړی نه دی، بلکې هغه څوک چې د خويندو اوتروروګانو سره ښېګڼه او پالنه يې کوي هم له دغه ثواب څخه برخمن دي.

**۴ – د دوو لورګانو شمېر ضروري نه دی**

په دې حديث کې د دوو لورګانو يادونه شوې ده، خو د يوې لورپالنه او روزنه هم همداراز ثواب لري، له حضرت عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي: يوه ورځ زما کور ته يوه مسکينه ښځه راغله، دوه لونې ورسره وې، له ما څخه يې د مرستې غوښتنه وکړه، ماورته درې دانې خرما ورکړې، يوه يوه يې هرې لورته ورکړه، دريمه يې غوښتل چې په خپله يې وخوري، خو هغه يې هم په منځ کې دوه ځايه کړه او په لورګانو يې ووېشله، ما دغه کيسه پيغمبرﷺ ته وکړه هغه وفرمايل: «مَنِ ابْتُليَ مِنْ هذِهِ البَنَاتِ بِشَيءٍ فَأحْسَنَ إلَيْهِنَّ، كُنَّ لَهُ سِتراً مِنَ النَّارِ».[۱]

**ژباړه:** څوک چې د داسې لونو په هکله څه قدرې په امتحان کې واقع شو او له هغوی سره يې ښيګڼه وکړه، وې به دغه لونې د پالونکي لپاره د دوزخ له اور څخه د نجات پرده.

**۵ – د ښځو ژوند ته د اسلام پاملرنه**

د جاهليت په زمانه کې لور او خور په کورنۍ کې عيب بلل کېده، کله به چې په کورکې نجلۍ وزېږيده خلکو به د خوشحالۍ پر ځای ماتم کاوه، قرآن کريم دغه واقعيت داسې بيان کړی دی: ﴿وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ﴾ [النحل : ۵۸ ]

**ژباړه:** کله به چې له دوی څخه يوه تن ته د نجلۍ د زېږېدو خبر ورکړای شو، د مخ رنګ به يې تور وګرځيده او هغه به له غوسې ډک شو.

د اسلام په برکت سره خلک د دغه ناوړه عمل څخه وژغورل شول، ورته لار ښوونه وشوه چې ښځه په کور کې سعادت دی، پالنه يې د دنيا او آخرت نېکمرغي ده.

---

۱ – مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**٦ - په دين باندې سم پوهول**

پيغمبرﷺ د دې لپاره چې خلك سم پوه شي، خپلې ګوتې يې نژدې كړې، تر څو مسلمانان د لوڼو پالنې او روزنې ته پوره توجه وكړي او په دې وسيله په جنت كې له پيغمبرﷺ سره د يو ځاى كيدو لوړ مقام وګټي.

### پوښتنې

١ - لاندې كلمې معنا كړئ:

- عَالَ:
- جَارِيَتَيْنِ:
- تَبْلُغَا:
- ضَمَّ:
- أَصَابِعَهُ:

٢ - د لورګانو پالنه څه اهميت لري؟

٣- آيا د خويندو روزنه هم د لورګانو په څېر ثواب لري؟

٤- د جاهليت په دوره كې د نجونو ژوند څرنګه و؟

### كورنۍ دنده

د لوست د مهمو مطالبو په پام كې نيولو سره د ښځود حقوقو په هكله يوه مقاله وليكئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حلالې روزۍ ګټل

عَنْ الْمِقْدَامِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:" مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ وَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ". (رواه البخاري)

**د رواي پېژندنه**

مقدام د معديكرب زوى، كنيه يې ابو كريمه الكندى د كندې قبيلې سره تړاو لري چې شمېر يې كم، د رسول الله ﷺ نژدې ملګرى و، له يمن څخه په داسې حال كې راغى چې وړوكى و، د رسول الله ﷺ سره يې په ټولو غزاګانوكې ګډون كړى و، وروسته بيا په شام كې مېشت شو او د هجرت په (۸۷) كا ل د (۹۱) كالو په عمر په همدې خاوره كې وفات شو.

**د كلمو معناوې**

۱ – قَطُّ: هيڅكله او هېڅ وخت

۲ – يَأْكُلَ: خوري يې

۳ - مِنْ عَمَلِ يَدِهِ: د خپل لاس له كارڅخه

**د حديث شريف ژباړه**

له مقدام رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: هغه خوراك چې د خپل لاس د كار (ګټې) څخه وي، له هغه څخه بل غوره خوراك چا خوړلى نه دى او د الله جَلَّ جَلَالُهُ د پيغمبر داوود عليه السلام روزي د خپل لاس له ګټې څخه و.

**د حديث شريف حكمت**

په پورتني حديث كې پيغمبر ﷺ هغه بنده غوره ښودلى چې خپل ځان ته روزي په خپل زيار، په حلاله توګه ګټي او دا د غوره انسانانو كړنلاره ده، داوود عليه السلام همداسې ژوند درلود او الله تعالى د انسان په خپل لاس رزق ګټل ستايلي او مسلمانان يې كار كولو ته هڅولي دي، بېكاري ډېرې ناخوالې زېږوي او د وزګار انسان ژوند تل د ستونزو سره مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، په دې اساس د پيغمبرﷺ پورتنۍ وينا په مسلمانانوکې حرکت پيدا کوي، څکه کار او زيار د نېکو او پياوړو خلکو نښه ده، نو په مسلمانه ټولنه کې هر وګړی د ځان لپاره د بوختيا په لټه کې وي، ترڅو په ځان کې د بهترينو خلکو صفت پيدا کړي او پر چا پېټی نه اوسي.

### د حديث شريف ګټې

### ١ – په خپل لاس ګټلې روزي

په حديث شريف کې د خپلې خوارۍ او زيار په نتيجه کې لاس ته راوړې روزي له ټولو غوره روزي بلل شوې ده، څکه دا د غوره خلکو کړنه او د الله تعالی د نېکو بندګانو سنت دی.

### ٢ – روزي ګټل ستايل شوی عمل دی

د روزۍ لاس ته راوړلو په موخه کسب او کار کول عيب نه دی، بلکې د پياوړو خلکو کړنه ده، لکه چې پيغمبرﷺ په بل حديث کې فرمايي: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ فَيَحْتَطِبَ عَلَى ظَهْرِهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْتِيَ رَجُلًا فَيَسْأَلَهُ أَعْطَاهُ أَوْ منعه»[(١)] **ژباړه:** قسم په هغه ذات چې زما روح دهغه په لاس کې دی، يوله تاسو څخه چې خپله رسۍ راواخلي او په خپله شا لرګي بار راوړي، له دې لارې څخه خپل ځان ته حلاله رزق وګټي، دغه کس له هغه کس څخه غوره دی چې سؤال کوي او څوك ورته څه ورکړي يا نه.

### ٣ – د داوودعليه السلام يادونه

په دې حديث کې د داوودعليه السلام د يادونې ځانګړتيا داده چې هغه سره له دې چې د وخت واکمن و اوکسب ته يې اړتيا نه درلوده، خو بيا هم هغه دا غوره ګڼله چې په خپل لاس ګټلې رزق وخوري، کار او کسب يې د ځان لپاره عزت ګاڼه.

### ٤ – د کسب زده کړه

د کسب زده کړه ښه صفت دی، د الله تعالی غوره بندګانو دکسب له لارې خپل ځان ته رزق پيدا کاوه، په مستدرك کې له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې: د الله جل جلاله پيغمبر داوودعليه السلام زغرې جوړولې او آدم عليه السلام کښت کاوه، او زکرياعليه السلام ترکاڼ و.

---

١ – رواه بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

**٥ – کار کول د توکل منا في نه دی**

بې له شکه چې مسلمان په خپل رب باندې په ژوند کې توکل لري، خـو د توکـل معنـا دا نه ده چې له اسبابو تیارولو پرته له الله تعالی څخه د اړتیا پوره کولو په اړه غوښـتنه وشـي، بلکې له داسې عمل څخه شریعت منعه کړې ده، ځکه انبیاء علیهم السلام د توکل په معنـا له هر چا څخه ښه پوهېدل، هغوی د توکل معنا د اسبابو تیارول او وروسته پـر هغـو بانـدې نتیجه مرتب کیدل الله تعالی ته پرېښودل ښودلې دي.

**٦ – د صنعت فضیلت**

په قرآن کریم کې صنعت سـتایل شـوی دی او الله تعـالی خپـل پیغمبـرﷺ تـه پـه دې اړه داسـې فرمـایلي دي: ﴿وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِنْ بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنْتُمْ شَاكِرُونَ﴾ [الانبیاء: ٨٠]

**ژباړه:** (الله تعالی فرمايي): او مونږ داوودﷺ ته، ستاسې د ګټې لپاره د زغـرې د جوړولـو صنعت ورښود لی و، ترڅو چې تاسې یو د بل له ګوزار نه وژغوري، نـو آیـا تاسـې شکر ویستوونکي یاست؟.

په پورتني آیت کې الله تعالی کسب یادول د انسان کمال بللی دی.

**پوښتنې**

لاندې کلمې معنا کړئ:

ا – قَطٌّ:

ب – يَأْكُلَ:

ج – مِنْ عَمَلِ يَدِهِ:

٢ – داوودﷺ څه ځانګړتیا درلوده؟

٣ – په خپل لاس ګټلی رزق څه اهمیت لري؟

٤ – د پورتني حدیث څو ګټې ووایاست.

**کورنۍ دنده**

د لوست حدیث له ژباړې سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په دين كې آسانتيا

عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا وَأَبَا مُوسَى إِلَى الْيَمَنِ قَالَ يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا وَتَطَاوَعَا وَلَا تَخْتَلِفَا. [رواه البخاري]

## د راوي پېژندنه

سعيد چې د معتمدو تابعينو څخه شميرل كيږي، د پلار نوم يې عامر چې په كنيې(ابوبردة) سره يې شهرت درلود، په كوفه كې قاضي پاتې شوى دى، د نيكه نوم يې ابوموسى عبدالله بن قيس الاشعري ﷺ چې مشهور صحابي دى، نوموړى (سعيد) په (۱۶۸)هجري كې له دنيا څخه رحلت وكړ.

## د كلمو معناوې

يَسِّرَا: آساني وكړئ.

وَلَا تُعَسِّرَا: سختي مه كوئ.

وَبَشِّرَا: زيرى وركړئ.

وَتَطَاوَعَا: په خپلو منځوكې دوستي ولرئ او يو د بل منونكي اوسئ.

## د حديث شريف ژباړه

سعيد د خپل پلار په ذريعه له نيكه څخه روايت كوي چې: رسول الله ﷺ معاذ او ابو موسى رضي الله عنهما يمن ته استازي وليږل او ورته يې وويل: له خلكوسره آسانتيا غوره كړئ، سختي مه كوئ، خلكو ته د خوشحالۍ زيرى وركړئ، نفرت مه خوروئ، يو د بل منونكي اوسئ او له اختلاف څخه ځان وژغورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د حديث شريف حکمت

د اسلام دين د انسان له سليم فطرت سره سم راغلی دی، هيڅ داسې کوم حکم نلري چې په کولوېې انسان ونه توانيږي، يا د فطرت د غوښتنې پر خلاف وي، دا ځکه چې زموږ د دين اساس پر آسانتياوو ولاړ دی، په هر وخت او هر ځای کې چې مسلمان لـه ستونزو سره مخ کيږي او نشي کولای چې هغه پر ځای کړي، اسلام ورڅخـه د هغـه عمـل سـرته رسول ساقط کړي او يا يې په کې آساني راوستې ده، دا يوازې د اسلام ځانګړتيا او وړتيا ده چې د دې ښکارندوی دی چې په هر ځای او هر وخت کې د نړۍ د خلکو لپاره سـمه لار ښوونه وکړي.

### د حديث شريف ګټې

#### ۱ – په دين کې آسانتيا

په اسلام کې سختي نشته، ځکه الله تعالی خپل بندګان په داسې کوم عمل کولو بانـدې نـه دي مکلف کړي چې د هغوی له توان څخه اوچت وي او دا يې په دين کـې لـوی اصـل ايښی، الله تعالی فرمايي: ﴿لاَ يُكَلِّفُ اللهُ نَفْساً إلاَ وُسْعَهَا﴾ [ البقرة : ۲۸٦]

**ژباړه:** الله تعالی هيڅ يو نفس نه دی مکلف کړی، خو د هغه د توان په اندازه.

پيغمبرﷺ به په دووکارونو کې آسان غوره کاوه که چيرې به يې ګناه نه درلوده.

همداراز رسول الله فرمايي: «إنَّ الدِّين يُسْرٌ، ولنْ يُشادَّ الدِّينَ أحدٌ إلا غَلَبَه.. » [۱]

**ژباړه:** بې له شکه د اسلام دين د آسانۍ دين دی او څوك چې په خپل ځان باندې ديـن سخت کړي ارومرو مغلوبيږي او نشي کولای چې بيا ورته ادامه ورکړي.

#### ۲ – په دعوت کې له نرمۍ څخه کار اخيستل

په حديث شريف کې مسلمانانو ته لارښوونه کيږي چې له خلکـو سـره پـه نرمـۍ چلنـد وکـړئ چې دا د ټولو انبياوو تګ لاره ده، الله تعالی موسی او هارون عليهما السلام تـه لارښـوونه کـوي: ﴿اذْهَبَا إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى فَقُولا لَهُ قَوْلاً لَيِّناً لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى ﴾ [الطه : ٤٣ – ٤٤ ]

---

۱ – رواه البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: دواړه فرعون ته ورشئ، يقيناً هغه طغيان غوره کړئ او ورته په نرمۍ سره وينا وکړئ، ښايي چې نصحيت قبول کړي او يا له عذاب څخه ووېرېږي.

د ژوند په هر اړخ کې بايد دې دستور ته پاملرنه وشي، هغه که دعوت وي، زده کړه وي، اصلاح راوستل وي او که له خلکو سره خبرې اترې وي.

**٣ – له کرکې خپرولو څخه ډډه کول**

د اسلام دين د رحمت دين دى، د کرکې او تنفر دين نه دى، له همدې امله پيغمبر ﷺ خپلو استازو ته لارښونه کړې چې خلك د دين لوري ته وهڅوي او له دين څخه يې متنفر نه کړي، په يو بل حديث کې راځي پيغمبرﷺ فرمايي: «إنَّ الله لم يبعثني معنّتًا ولا متعنِّتًا، ولكن بعثني معلِّمًا ميسِّرًا». (١)

**ژباړه**: رسول اللهﷺ فرمايي: الله تعالى زه په خلکو او په خپل ځان سختي راوړونکى نه يم راليږلى، بلکې ښوونکى او د آسانۍ راوستونکى يې راليږلى يم.

**٤ – زيرى ورکول**

د مسلمان دعوتگر لپاره دا ښايي چې خلکوته د اسلام دنيوي او اخروي ښېگڼې په مخ کې کېږدي، د اعمالو فضيلتونه ورته بيان کړي، څرنگه چې په رښتيا هم د اسلام مبارك دين د انسان د دواړو جهانو د نېکمرغۍ لپاره راغلى، د هغه گټې خلکو ته وښيي او کومې بدبختۍ چې په نورو لاروکې دي، له هغو سره د اسلام د لارښوونو پرتله وکړي، ترڅو خلك په ذوق او رغبت هغه پلي کړي.

**٥ – له اختلاف څخه ډډه کول**

په پورتني حديث کې له اختلاف څخه د ډډې کولو حکم شوى دى، ځکه اختلاف دښمني، بغض او کينه رامنځته کوي د ټولنې اړيکې تخريبوي اوناخوالې رامنځ ته کوي، الله تعالى فرمايي: ﴿وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ﴾ [الانفال : ٤٦]

**ژباړه**: او اختلاف مه کوئ چې بيا کمزوري کېږئ او قوت موله منځه ځي.

---

١ – صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يادونه**

په پورتني حديث شريف کې له اختلاف څخه د منعې معنا دا ده چې که څيرې په يوه مسئله کې نظريات مختلف وي، بايد د مسلمانانو تر منځ د دښمنۍ او بې اتفاقۍ لامل ونه ګرځي، د عمل په ميدان کې ټول سره په اتفاق ژوند تېر کړي، يو د بل د نظر احترام وکړي او په پاى کې په يوه نظر راټول شي.

**پوښتنې**

١ – لاندې کلمې معنا کړئ:

يَسِّرَا:

وَلَا تُعَسِّرَا:

وَبَشِّرَا:

وَتَطَاوَعَا:

٢ – په دين کې آساني څه معنا لري؟ واضح يې کړئ.

٣– د اختلاف زيانونه وواياست.

٤ – له نفرت څخه څرنګه ډډه کيداى شي؟

**کورنۍ دنده**

د لوست څخه په استفادې د يووالي په هکله يوه مقاله وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لعنت (ښېرا) ویل

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَﷺ قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ عَلَى الْمُشْرِكِينَ. قَالَ: { إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ لَعَّانًا، وَإِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً }. [رواه مسلم]

**د ځینو کلمو معناوې**

۱ – **لَعَّانًا:** ډېر لعنت ویونکی او ښیرا کوونکی

۲ – **بُعِثْتُ:** رالیږل شوی یم.

**د حدیث شریف ژباړه**

له ابو هریره ﷺخخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ته وویل شول: اې د الله رسوله!، مشرکینو ته ښېرې وکړه: د الله رسول ځواب ورکړ: زه لعنت ویونکی(ښېرا کوونکی) نه یم رالیږل شوی، بلکې زه رحمت رالیږل شوی یم.

**د حدیث شریف حکمت**

زمونږ د پیغمبرﷺ راوړی پیغام (اسلام) د رحمت پیغام دی چې په عامه توګه د ټولو مخلوقاتو د ترحم اوشفقت ذریعه وګرځید، ځکه اسلام د ټولو مخلوقاتو د ساتنې ضامن، د هر چا حق پکې ټاکل شوی او له تېري څخه یې خلک منعه کړي دي، د انسانانو د دنیا او آخرت د بریالیتوب یوازینۍ لاره ده او یوازینی دین دی چې د نړۍ خلک پرې له ناخوالو څخه ژغورل کېږي مومي.

**د حدیث شریف ګټې**

**۱ – لعنت ویل لویه ګناه ده**

لعنت ویل ګناه ده، له ویلو څخه یې اسلام منعه کړېده، د پیغمبر ﷺ په وړاندې یو صحابي په باد(هوا) باندې لعنت وویل. پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: په هوا لعنت مه وایه، ځکه د الله تعالی لخوا ورته امر شوی دی، څوک چې پر چا بې ځایه لعنت وایي، د لعنت ویل یې بېرته ویونکي ته راګرځي.(۱)

په یوه بل روایت کې پیغمبرﷺفرمایي: «لا تَدْعوا على أنفسكم، ولا تَدعوا على أولادكم، ولا تَدْعوا على خَدَمِكم، ولا تَدُعوا على أموالكم، لا تُوافِقُوا من الله عَزَّ وجلَ ساعةَ نَيْلٍ، فيها عطاءٌ، فَيَسْتَجيبَ لكم» (۲)

---

۱ – سنن ابو داوود.

۲ – سنن ابو داوود

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه:** خپلو ځانونو ته ښيرې مه کوئ، همداراز خپلو بچو، مزدورانو اومالونو ته ښېرې مه کوئ، داسې نشي چې تاسې ښېرې په داسې وخت کې وکړئ چې الله تعالی سوالونه قبلوي ستاسې ښېرې به قبولې کړي.

په بل حديث شريف کې راځي چې پر مسلمان لعنت ويل د مسلمان د قتل په څېر دي.[(۱)]

**۲ - ښېرې کول لعنت بلل کېږي**

له پورتني حديث څخه څرګندېږي چې سپکې، سپورې، او ښېرې هم لعنت بلل کېږي، مسلمان بايد خپله ژبه له بدو وېناوو څخه وژغوري، ځکه مسلمان د خپلو وېناوو په وړاندې مسؤول ګڼل کېږي، نو له همدې کبله اسلام مسلمان د بدو ويناوو، سپکو، اوکنځلو څخه منعه کوي، رسول اللهﷺ فرمايي: « لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلاَ اللَّعَّانِ وَلاَ الْفَاحِشِ وَلاَ الْبَذِيءِ ».[(۲)]

**ژباړه:** مسلمان چا پورې تور نه تړي او نه لعنت ويونکی دی او نه بې حيا چې سپکې او سپورې خبرې کوي.

**۳ – د رسول الله راتګ رحمت دی**

بې له شکه د پيغمبرﷺ رسالت د هغه باران په څېر دی چې مړې ځمکې ژوندۍ کوي او ژوند ته ښايست وربښي، نو همدارنګه د پيغمبرﷺ په راتګ سره مړه زړونه د اسلام په نور ژوندي اوروښانه شول، ړندې سترګې بينا شوې او کڼو غوږونو اوريدل پيل کړل، بلکې الله تعالی د پيغمبرﷺ په راليږلو سره دنيا رڼا کړه، د مينې اومحبت وړانګې يې خورې کړې، ظلم او ناپوهي يې په علم او عدل بدل کړ، اود دې صفت په درلودو سره د نړۍ خلک پرې راټول شول، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ..﴾ [آل عمران : ۱۵۹]

**ژباړه:** نو د الله تعالی د رحمت په سبب دوی ته نرم شولې اوکه چيرې سخت زړی او توند خويه واې، نو خلک به له تا څخه خواره شوي واى.

**په ځينوځايونو کې د ګناه کولو له کبله لعنت ويل شوی دی**

په شريعت کې د ځينو ناوړو اعمالو سرته رسوونکي ملعون (د الله تعالی له رحمت څخه لېرې) بلل شوي چې بېلګې يې په لاندې توګه بيانېږي:

۱ – هغه ښځه چې په مړي وير کوي اوچيغې پرې وهي اود شريعت خلاف ناروا وينا کوي، په حديث کې راځي: «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِﷺ النَّائِحَةَ وَالْمُسْتَمِعَةَ لها...»[(۳)]

---

۱- صحيح مسلم

۲ – مسند احمد

۳ – سنن ابو داوود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه:** رسول الله ﷺ هغه ښځه چې په مړي باندې چيغې وهي او هغه ښځه چې ورته غوږ باسي لعنت ويلى دى.

۲ – هغه ښځې چې خالونه لګوي، هغه ښځې چې د خال لګولو غوښتنه کوي، هغه ښځې چې وروځې وکاږي او هغه ښځې چې د ويستلو غوښتنه يې کوي، په حديث کې راځي رسول الله ﷺ فرمايي: «لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ وَ الْمُوتَشِمَاتِ والنامصات وَالْمُتَنَمِّصَاتِ» [۱]

په خال لګوونکو ښځو او هغه ښځې چې لګول يې غواړي او هغه ښځې چې وروځې وکاږي او هغه ښځې چې د ويستلو يې غوښتنه کوي، د الله تعالى له لوري پر دوى لعنت دى.

**۳ – د سود خوړل**

په حديث کې راځي چې سود خوړونکى او سود ورکوونکي او د سود سند ليکونکى او شاهدان يې لعنتي او د الله له رحمت څخه لېرې دي. [۲]

**پوښتنې**

لومړۍ پوښتنه:

۱ - د حديث راوي څوک دى ؟ معرفي يې کړئ.

۲ - لعنت څه ته ويل کيږي؟

۳ – پرکومو کسانو باندې د خپلو ناروا کړنو له کبله لعنت ويل شوى دى؟

دويمه پوښتنه:

لاندې کلمې معنا کړئ:

**۱ – لَعَّانًا:**

**۲ – بُعِثْتُ:**

**۳ – لَعَّانًا:**

**کورنۍ دنده**

د لوستل شوي حديث په پام کې نيولوسره (زموږ پيغمبر رحمت دى) تر سرليک لاندې يوه مقاله وليکئ.

---

۱ – صحيح مسلم

۲ – صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست

# په چارو کې منځنۍ حالت غوره کول

عن جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: « إِنَّ هَذَا الدِّينَ مَتِينٌ فَأَوْغِلْ فِيهِ بِرِفْقٍ، وَلاَ تُبَغِّضْ إِلَى نَفْسِكَ عِبَادَةَ اللَّهِ، فَإِنَّ الْمُنْبَتَّ لاَ أَرْضًا قَطَعَ، وَلاَ ظَهْرًا أَبْقَى ». [رواه البيهقي]

**د راوي پېژندنه**

حضرت جابر جليل القدر صحابي دی، د پلار نوم يې عبد الله، نيكه يې عمرو بن حرام، د عمر د كموالي له كبله يې د بدر او اُحد په غزاګانو كې ګډون نه درلود، د اُحُد له غزا څخه وروسته يې خپل ژوند د رسول الله ﷺ خدمت ته وقف كړ، په كور او سفر كې به د پيغمبر ﷺ ملګری و، له دې كبله يې زيات شمېر احاديث له پيغمبر ﷺ څخه روايت كړي دي، په خپل وروستني عمر كې شام ته ولاړ او د څه مودې لپاره هلته مېشت شو او د هجرت په ٧٤ كال د ٩٤ كلونو په عمرېې له فاني دنيا څخه رحلت وكړ او په (جنت البقيع) كې خاوروته وسپارل شو.

**د كلمو معناوې**

مَتِينٌ: ډير سخت او كلک

فَأَوْغِلْ فِيهِ: ورننوځئ، تګ لاره غوره كړئ

بِرِفْقٍ: په آسانۍ سره

الْمُنْبَتَّ: هغه څوک چې خپله سورلۍ د تېز ځغلولو له كبله له كاره وباسي.

وَلاَ تُبَغِّضْ: ځان لپاره يې بد مه ګرځوه

لاَ أَرْضًا قَطَعَ: نه يې سفر پوره كړ

وَلاَ ظَهْرًا أَبْقَى: او نه يې سورلۍ روغه پرېښوده

**د حديث شريف ژباړه**

حضرت جابر بن عبد الله ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روايت كوي چې فرمايلي يې دي: بې له شكه دغه دين ډېر قوي دين دی، په آسانۍ سره پكې ورداخل شه، خپل ځان ته د الله تعالى په عبادت كولو كې كركه مه راپيدا كوه(په ځان باندې د وس نه پورته عبادت كول مه لازموه)، ځكه تېز ځغلوونكي مسافر نه خپل سفر پوره كړی دی او نه يې سپرلۍ روغه پريښې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د حدیث حکمت**

په پورتني حدیث کې د اسلام د مهم اصل یادونه شوې ده، هغه د دین او دنیا په چاروکې منځنی حالت غوره کول دي، دې اصل ته پام کول د مسلمان لپاره خورا مهم دي، ځکه چې د دې اصل په رعایت سره د مسلمان ژوند له افراط او تفریط څخه لېرې کیږي، د تل لپاره یې هر اقدام په دلیل او معقولیت باندې ولاړ وي، خپلې دیني چارې داسې عیاروي چې په هغه لاره تلل د تل لپاره ورته ممکن وي.

او دا راز متوسط حالت غوره کول د کامیابۍ راز دی او کله چې مسلمان په خپلو دیني مکلفیتونو کې متوسط حالت غوره کړي، هېڅکله پکې پاتې نه راځي، خوکه چېرې په عباداتو کې یې افراط وکړ، یو وخت به ارومرو داسې راځي چې دی به ستړی کیږي او عبادت به ورڅخه پاتې کیږي.

**د حدیث شریف ګټې**

**۱ – د اسلام دین قوت لري**

د اسلام دین غښتلي احکام لري چې مسلمان یې د خپل وس په تناسب سره په سرته رسولو مکلف دی او په ځینو حالاتو کې د شرعي عذر له کبله اجازه ورکړل شوې ده چې یوازې د فرض په ادا کولو باندې اکتفا وکړي، لکه په سفر کې فرضي لمونځ کول، ترڅو پر مسلمان عبادت سخت تمام نه شي، نو د دین ټول نوافل لکه تل روژه نیول، له حد نه زیات تل نفلي لمونځونه کول، تل ترتله په تلاوت او ذکر کې مشغولیدل او داسې نور، دا ټول سره له دې چې دیني اعمال دي، خو هغو ته په یوځل غیږ ورکول انسان ستړی کوي او بیا یې له نور پرمختګ څخه غورځوي.

**۲ – په دین کې میانه روي او تدریج**

امام غزالي وایي: هرهغه څوک چې د دین په مرتبوکې له دمې اخیستلو پرته منډې وهي، حتماً په ده باندې د دین احکام سخت پریوځي، باید مسلمان د فرایضو نه وروسته په تدریج سره په خپل نفلي عبادت کې وړاندې لاړ شي، ترڅو نفلي عبادت پرې دروند تمام نشي.

**۳ - هغه عبادت غوره دی چې همیشه وي**

د اسلام دین مسلمانان دې ته هڅولي دي چې تل پاتې عبادت باندې ځان عادت کړي او هغه عبادت چې د څه وخت لپاره یې په زیاته اندازه وکړي او بیا یې پرېږدي، نه دی ستایل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمان لپر نېک عمل چې تل يې کوي، له هغه نېک عمل څخه غوره دی چې د څو ورځو لپاره وي او بيا يې پرېږدي، په دې اړه رسول اللهﷺ داسې فرمايلي دي: د خپل وس په اندازه نېک عملونه کوئ او غوره هغه عمل دی چې تل وي، که څه هم هغه لږ وي.[1]

**٤ – اسلام د ميانه روۍ دين دی**

د اسلام دين د مسلمان لپاره ټاکلی حد ايښی دی او ورته يې خپل فرايض ښودلي دي چې پرته له کومه عذره يې سرته ورسوي، پر دې سر بېره مسلمان ته يې د ميانه روۍ غوره کولو لارښوونه کړې ده، ترڅو په ده باندې درووند تمام نشي، پيغمبرﷺ مسلمانانو ته عامه لارښوونه کوي چې: په چارو کې غوره حالت منځنی حالت دی،[2] ځکه چې دا د اعتدال حالت له کمي او زياتي څخه لېرې دی.

**پاملرنه**

په اعمالو کې د منځني حالت له غوره کولو څخه مراد نفلي اعمال دي، په فرضي چارو کې لاره ټاکل شوې ده، څوک پکې د پرېښودو واک نه لري.

**پوښتنې**

١- لاندې کلمې معنا کړئ:

مَتِينٌ:

فَأَوْغِلْ:

بِرِفْقٍ:

الْمُنْبَتَّ:

٢ – اسلام مسلمانان د کوم حالت غوره کولوته هڅولي دي؟

٣- آيا په اسلام کې سختي شته؟ واضح يې کړئ.

**کورنۍ دنده**

د راوي له پېژندنې سره د پورتني حديث ژباړه په خپلو کتابچو کې وليکئ.

---

١ – مسند احمد

٢ – رواه البيهقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ځوانۍ کې د الله جل جلاله بنده ګي

«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمْ اللَّهُ تَعَالَى فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ إِمَامٌ عَدْلٌ وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللَّهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ» [متفق علیه]

## د ځینو کلمومعناوي

| | |
|---|---|
| ۱- سَبْعَةٌ: | اووه. |
| ۲- فِي ظِلِّهِ: | ظل سیوري ته وایي دلته د الله جل جلاله له سیوري څخه د هغه د عرش سیورى مراد دى. |
| ۳- يَومَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ : | له دې ورځې څخه مراد د قیامت ورځ ده. (هغه ورځ چې د الله له سیوري څخه پرته بل سیورى نه وي). |
| ۴ـ إِمَامٌ: | هرهغه څوك چې د مسلمانانو د چارو سرپرستي پر غاړه لري. |
| ۵ـ شَابٌّ: | ځوان |
| ۶ـ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللَّهِ: | چې د الله جل جلاله په بنده ګۍ کې لوى شوى وي. |
| ۷ـ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ: | پر مسجدونو پورې يې(زړه) تړلى وي. |
| ۸ـ تَحَابَّا فِي اللَّهِ: | د الله جل جلاله د رضا لپاره يو له بل سره محبت ساتي. |
| ۹ـ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ: | د الله جل جلاله د رضا لپاره يو له بل سره يوځاى شي. |
| ۱۰ـ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ: | د الله جل جلاله د رضا لپاره يو له بل څخه جلا شي. |
| ۱۱- دَعَتْهُ: | بلنه ورته ورکړي. |
| ۱۲ـ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ: | د عزت او ښایست څښتنه. |
| ۱۳ـ فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ: | له سترګو څخه اوښکې توى شي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د حديث ژباړه**

له حضرت ابوهريرهﷺ څخه روايت دی چې، پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: اووه کسان دي چې الله ﷻ به يې په هغه ورځ د عرش ترسيورې لاندې ساتي چې بل هيڅ سيوری به نه وي خو يوازې دده د عرش سيوری به وي: يو عادل پاچا، بل هغه ځوان چې د الله ﷻ په عبادت کې لوی شوی وي، بل هغه څوک چې زړه يې په مسجدونو پورې تړلی وي، بل هغه دوه کسان چې يو د بل سره د الله ﷻ په خاطر مينه کوي، کله چې يوځای کيږي هم د الله ﷻ د رضا لپاره يو ځای کيږي او چې کله يو له بل څخه جلا کېږي هم د الله ﷻ د رضا په خاطر يو له بل څخه بېلېږي – يعنې يو د بل سره ناسته او ولاړه يې يوازې د الله ﷻ د رضا په خاطر وي نه د کوم بل دنيوي غرض په موخه بل هغه کس چې له هغه څخه داسې ښځه د بدکارۍ غوښتنه وکړي چې په خلکو کې د مقام خاونده او ښايسته وي او دی ورته په ځواب کې ووايي: زه له الله ﷻ څخه وېرېږم. بل هغه څوک چې کله د الله ﷻ په لاره کې مال خيرات کوي، نو داسې په پټه يې ورکوي چې کيڼ لاس په دې نه پوهيږي چې ښي لاس څه شی خيرات کړل، بل هغه څوک چې کله د الله ﷻ يادونه په يوازيتوب کې کوي، نو له سترگو څخه يې اوښکې بهيږي.

**د حديث حکمت**

الله ﷻ د خپلې مهربانۍ له مخې د ځينو نېکو اعمالو د سرته رسولو ډېرې زياتې ښېگڼې ذکرکړې دي، تر څو د داسې خصلتونو او عملونو خاوندانو ته له يوې خوا د ډېر خير زيری ورکړي او له بل پلوه، د داسې اشخاصو او د نورو تر منځ توپير په گوته کړي، دا په حقيقت کې د الله ﷻ له لوري خلك نيکيو ته رابلل او هڅول دي په همدې غرض پيغمبر ﷺ په دې حديث کې د هغو اووکسانو ستاينه کړې چې د ډېرو غوره اعمالو څښتنان دي، که څه هم دغه مقام په نورو احاديثو کې د نوروکسانو لپاره هم ذکر شوی دی، لکه د الله ﷻ د لارې غازي، پوروړي ته مهلت ورکوونکی، له پور وړي سره مرسته کوونکی، مسجد ته زيات پل وهونکی او داسې نور.

**د حديث شريف گټې**

**۱ـ د عادل امام فضيلت**

په اسلامي شريعت کې عدل او انصاف ډېر لوې فضيلت لری، د اسلام مقدس دين عدل پر هر چا لازم کړی دی، که هغه مشر دی او که د مسلمانانو د کارونو نور واکمنان، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضیان، وزیران، والیان او داسې نور، آن تردې چې مسلمان باید په کورنۍ کې هم له عدل څخه کار واخلي، لکه د خپلو بچو تر منځ مساوات، د خپلو ببییانو تر منځ عدالت.

دا چې د عادل پاچا د عدل لمنه ډېره پراخه وي او پر ټول رعیت د زړه سوي او ترحم سیوری وي، او ټول وګړي ورڅخه ګټه اخلي، همدارنګه د ده د ظلم په صورت کې ټول خلك متضرر وي، ځکه نو عادل پاچا له دومره لوړې مرتبې څخه برخمن دی.

**۲ـ په ځوانۍ کې بنده ګي**

د ځوانۍ وخت د ژوند ډېره ارزښتناکه مرحله ده. د بنده ټول جسمي، ذهني، عقلي او فکري قوتونه وده کوي، نو په کار ده چې ځوان دغه قوتونه د الله ﷻ په بنده ګۍ اوعبادت کې مصرف کړي. ځوك چې خدای ورکړي قوتونه د خپلو خواهشاتو پر ځای د الله ﷻ په عبادت کې مصرفوي د ډېر لوی فضیلت او ستاینې وړ دی.

**۳ـ له مسجدونو سره زیاته علاقه**

جوماتونه د الله ﷻ کورونه دي. په دې معنا چې د فرضي او نفلي عبادتونو، د الله ﷻ د تسبیح، ذکر، د تعلیم او تعلم او د نورو غوره کارونوځایونه دي، نو د هر چا اړیکه چې د الله ﷻ  له کورونو سره زیاته وي، هغه الله ﷻ ته ډېر نژدې او د لوی مقام څښتن دی، ځکه چې له مسجدونو سره مینه انسان د منکراتو او هر ډول بدیو څخه لېرې ساتي.

**۴ـ د الله ﷻ لپاره مینه**

د خلکو ترمنځ اړیکې زیاتره په مادي، جنسي، او د خپلولۍ پر بنسټونو ولاړې وي، مګر په اسلام کې غوره اړیکې هغه دي چې د الله ﷻ پرمحبت ولاړې وي او د اړیکو لامل د الله ﷻ اطاعت وي یعنې دهغه چا سره دوستی او ملګرتیا کول چې د الله ﷻ څخه ویره لري او هغه ته نژدې وي. ځوك چې یوازې الله ﷻ ته د قرب او نژدیوالي پر بنسټ یو له بل سره ناسته ولاړه کوي داسې کسان الله ﷻ ته ډېر خوښ وي.

**۵ـ تقوی او پرهیزګاري**

هر انسان یو لړ غوښتنې او رغبتونه لري چې د اسلام مبارك دین د دغو غوښتنو لپاره معلومې لارې چارې په ګوته کړې دي، خو شیطان تل د دې هڅه کوي چې انسان د خپلو نفسي خواهشاتو په لومه کې راګیر کړي او له همدې لارې څخه یې په ګمراهۍ کې اخته کړي.

یوله هغو غوښتنو او رغبتونو څخه چې بشري نفس ورته زیات میلان کوي، ښځه ده، دا میلان هغه وخت زیات وي چې کله ښځه ښایسته وي او لوړې کورنۍ ته منسوبه وي، هرکله چې داسې ښځه د مسلمان څخه د بدکارۍ غوښتنه وکړي او مسلمان د داسې فتنې او ابتلاء پر مهال د الله ﷻ څخه ویره اختیار کړي او له قدرت سره سره ورڅخه ډډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي الله ﷻ به يې په خپل رحمت کې ونغاړي. همدارنګه که چېرې ښځه د داسې حالت سره مخ شي چې ښايسته ځوان چې مال هم زيات لري دې ته د زنا دعوت ورکړي او هغه ورځخه انکار وکړي او ورته ووايي چې زه له الله ﷻ څخه وېريږم، بې له شکه دغې ښځې هم دا لوړ مقام ترلاسه کړ.

**۶ـ په پټه خيرات ورکول**

صدقه او خيرات ورکول لوی فضيلت لري.خيرات ورکول داسې عبادت دی چې ګناهونه رژوي، د مسلمان اجرونه زياتوي، مسلمان له اور څخه ژغوري او د الله ﷻ د رضامندۍ سبب ګرځي.

صدقه ورکول په پټه اوښکاره په دواړو حالتونو کې غوره کار دی، خو اجر او غوره والی يې هله زيات وي چې په پټه ورکړل شي، آن تر دې چې کيڼ لاس په دې پوه نه شي چې ښي لاس په خيرات کې څه ورکړل مګر دا چې په ښکاره ورکولو کې يې کوم شرعي مصلحت وي.

**۷ـ د الله ﷻ له وېرې ژړل**

د الله تعالی ذکر او يا د هغه ستر نيک عمل دی چې د هر چا په هر وخت کې لاس ورته رسيږي. څه ځانګړي شرطونه نه لري، په ناسته، ولاړه، په اوداسه او بې اودسه د الله ياد اجر لري، خو که يو څوک له نورو څخه ګوښه د الله تعالی لويي راياده کړي او خپل تقصير او بې پروايي ته متوجه شي، ځان ملامت کړي او په سترګو کې يې له وېرې څخه اوښکې راشي، دا د ده د پوره ايمان او اخلاص ځرګندونه کوي او له همدې کبله الله تعالی ورته د ستر مقام وعده ورکړې.

**پوښتنې**

۱ـ لاندې کلمې معنا کړئ:

**ا. مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ:**

**ب . تَحَابَّا فِي اللَّهِ:**

**ج . فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ:**

۲ـ خالي ځايونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

- د اسلام مقدس دين.....................پرهرچا لازم کړی دی.
- د صدقې اوخيرات اجر هله زيات وي چې په.......................... ورکړل شي.

۳ـ په اسلام کې د غوره اړيکو اساس په څه ولاړ دی؟

**کورنی دنده**

حديث په يادو زده کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په لارکې د کښیناستلو آداب

«عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: { إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ بِالطُّرُقَاتِ }. فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا لَنَا مِنْ مَجَالِسِنَا بُدٌّ نَتَحَدَّثُ فِيهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: { إِذَا أَبَيْتُمْ إِلاَّ الْمَجْلِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهُ }.قَالُوا: وَمَا حَقُّ الطَّرِيقِ؟ قَالَ: {غَضُّ الْبَصَرِ وَكَفُّ الأَذَى وَرَدُّ السَّلاَمِ وَالأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ» [رواه البخاری]

## د راوي پيژندنه

ابو سعيد چې نوم يې سعد د پلار نوم يې مالك نيكه يې سنان، د مديني د الخدري قبيلې اصلي اوسيدونکی، کنيه يې ابوسعيد چې په همدې سره يې شهرت درلود، له مشهورو اصحابو څخه دی چې په زياتو غزاګانوکې يې ګډون کړی، يو له هغو اصحابوڅخه شمېرل کېږي چې په فقه اواجتهاد کې يې شهرت درلوده، په ٧٤ هجري کال کې يې له فاني دنيا څخه سترګې پټې کړې.

## د ځينو کلمو معناوې

إِيَّاكُمْ: لرې اوسئ

الطُّرُقَاتِ: لارې

أَبَيْتُمْ: نه يې منئ

غَضُّ الْبَصَرِ: د سترګو پټول (ساتل)

وَكَفُّ الأَذَى: له ضرر رسولو نه ځان ساتل

## د حديث شريف ژباړه

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريمﷺ فرمايلي دي: په لاروکې کيناستلو څخه ډډه وکړئ. اصحابو وويل: اې د الله رسوله! په لارو کې له کيناستلو څخه زمونږ چاره نشته، موږ په کې خپلې خبرې کوو. نبي کريمﷺ وفرمايل: هوکې! چې داسې نشئ کولای، بايد لارې ته د هغې حق ورکړئ (دلارې آداب په پام کې ونيسئ) اصحابو وويل: دلارې حق کوم يو دی؟ نبي کريمﷺ وفرمايل: د سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښته کول، خلکو ته له ضرر رسولو څخه ډډه کول، د سلام ځواب ورکول، په نیکو چارو امر کول او له بدیو څخه خلك منعه کول د لارې حقونه دي.

**د حدیث شریف حکمت**

ځرنګه چې په لارو او عامو سرکونو کې د خلکو تګ راتګ کېږي او په خپل ورځني ژوند کې ورته ډېره اړتیا لري، نو په دې اساس په حدیث کې بې له اړتیا په لارو کې له ناستې څخه منعه شوې ده، ځکه اکثراً داسې پیښېږي چې په لاره تلونکي خلك د ناستو خلکو له اړخه ځورول کیږي او د اسلام دین لـه ضـرر رسـولو څخـه منعـه کـړې ده، کـه چیرې په ځینې وختونو کې مسلمانان په لاره کې نا سته اړینه ګوري، باید ټول هغه آداب په پام کې ونیسي چې ورسره د تېریدونکو احترام اوعزت وسا تل شي او له هر هغه عمل څخه ځان وژغوري چې د تېریدونکو د ځوریدلو لامل ګرځي.

**د حدیث شریف ګټې**

**۱– په لار کې له کښیناستلو څخه ډډه کول**

په پورتني حدیث کې له اړتیا پرته په لارو کې له ناستې څخه منعه شوې ده، ځکه مسلمان د تل لپاره خلکوته د ګټې او ښیګڼې رسولو په فکر کې وي، له ضرر رسولو څخه یې ځان ژغوري او زیار باسي چې د ده له ژبې، نظر او لاس څخه څوك زیانمن نشي او که چیرې په لار کې نا ستې ته اړکیږي، بیا به ټول حقوق په پام کې نیسي، ترڅو د ده د کښیناستلو له کبله څوك زیانمن نشي.

**۲ – د ناروا کتلو(نظر)څخه ځان ساتل**

مسلمان باید د حرام نظر(کتلو) څخه ځان وساتي، هغه که په هر ځای کې وي، ځکه د ناروا وو په لورې کتل انسان په ګناه کې ښکیلوي، په اخلاقي فساد یې اخته کوي او دا حکم مسلمان سړي اومسلمانې ښځې دواړو ته متوجه دی په قرآن کریم کې پدې اړه روښانه لارښوونه شوې ده: ﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ...... " –: وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ﴾ [النور: ۲۹ – ۳۰ ]

**ژباړه:** نارینه وو مؤمنانو ته ووایه چې خپلې سترګې کښته وساتي او مسلمانو ښځو ته ووایه چې خپلې سترګې کښته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**٣ – له ضرررسولو څخه ځان ژغورل**

کله چې په لار کې ناسته اړينه وي، په داسې حالت کې بايد لازمي لارښوونې په پام کې ونيول شي، ځينې يې دا دي چې د مجلس له کبله په لارويو لار تنګه نشي، مجلس بايد د خلکو د سپکا وي لامل ونه ګرځي، ځکه مسلمان هغه چا ته ويـل کېږي چې د هغـه لـه لاس او ژبې څخه مسلمانان په امن وي، په ځانګړې توګه د ښځو د ځورونو سبب نشي او همدا راز مجلس د تجسس لپاره نه وي.

**٤ – د سلام ځواب ورکول**

سلام داسې سنت عمل دی چې له ځان سره د امـن او محبـت پيغـام لـري او ډاډ ورکـوي چې په ډاډه توګه ژوند وکړئ، له دې کبله سلام اچول د ايمان نښه بلل کېږي او ځـواب يې واجب دی، با يد د سلام ځواب په ښه توګه ورکړای شي، دا د قرآن کريم لارښـوونه ده. الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا﴾ [النساء: ٨٦ ]

**ژباړه**: اوځوک چې په درناوي سره تاسې ته سلام واچوي، نو هغه ته لـه هغـې نـه پـه ښه توګه ځواب ورکړئ او يا لږ تر لږه همغه شان.

**٥ – د ښو کارونو په لوري بلنه او له بديو څخه منعه کول**

قرآن کريم له مسلمان څخه دا غوښتنه کوي چې په هر حا ل کې پـه خپلـه نېـک اوسـي، نور خلک د نېکۍ لوري ته را وبلـي، الله تعـالی فرمـايي: ﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ [آل عمران : ١٠٤ ]

**ژباړه**: په تاسې کې دې څه خلک ارومرو داسې وي چې د نېکۍ لوري تـه بلنـه وکـړي، په ښو امر وکړي، او له بدو منعه وکړي، کوم خلک چې دا کار وکړي هغـوی بـه بريـالي شي.

په زياتو احاديثو کې د ښوکارونو په لـور، د بلنې او د بـديو د مخنيـوي پـه هکلـه يادونـه شوې ده، دا د هر مسلمان مسؤوليت دی چې د امـر بـالمعروف او نهـي عـن المنکـر دنـده سرته ورسوي، رسول اللهﷺ فرمايي: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ».[1]

[1] – صحيح مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه:** تاسو نه چې څوک ناروا وګوري، سم د لاسه دې هغه په لاس سره منعه کړي، که چیرې یې وس نه وي، په ژبه دې منعه کړي او که چیرې په ژبه یې نشي منعه کولای، په زړه کې دې ورسره کینه ولري او دا کمزوري ایمان دی.

د ښو چارو په لور بلنه او له ناروا وو څخه منعه ډېره ضروري ده، ځکه په دنیا کې د خلکو ژوند په بېړۍ کې د ناستو خلکو په څېر دی، که چیرې یو کس بېړۍ سوری کړي ټول سپاره خلك ورسره ډوبیږي، نو د بدیو مخنیوی د خپل ځان او د ټولنې دساتنې معنا لري.

## پوښتنې

١ – د حدیث راوي په لنډه توګه معرفي کړئ.

٢ - لاندې کلمې معنا کړئ:

**إِيَّاكُمْ:**

**اِلطُّرُقَاتِ:**

**أَبَيْتُمْ:**

**غَضُّ الْبَصَرِ:**

**كَفُّ الأَذَى:**

٣ – د نېکیو په لور بلنه او د بدیو مخنیوی څه اهمیت لري؟

## کورنۍ دنده

له لوست څخه په استفادې سره په لارکې د کښېناستلو د آدابو په هکله یوه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فقهي
# برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کورنۍ

**کورنۍ څه ته وايي؟**

ښځې، بچو او نسبي خپلوانو ته کورنۍ ويل کيږي.

د کورنۍ بنياد ښځه او خاوند ږدي، اولاد ترې پيدا کيږي چې بيا په ټولنه کې د ژوند پړاو پيلوي.

**د کورنۍ جوړولو بنسټ**

کورنۍ د دوو عمده موخو په بنياد جوړيږي.

**لومړی:** واده کول انساني فطرت ته لبيک ويل دي: د اسلامي شريعت د څرګندو ارزښتونو څخه يو دا دی چې د ځان ګوښه کولو له اصل سره يې مبارزه کړې، انساني فطرت او بشري غريزو ته يې مثبت ځواب ويلی، په حديث شريف کې چې طبراني او بيهقي روايت کړی رسول اللهﷺ فرمايي:"څوک چې مال ولري، عمر يې د واده عمر ته ورسيږي او واده ونکړي زما له ډلې څخه نه دی" په بل حديث کې راغلي، هغه درې تنه چې د رسول اللهﷺ د عبادت څخه خبر شول او خپل عبادت ورته هيڅ ښکاره شو، نو د ځان سره يې وويل: مونږ رسول اللهﷺ ته نشو رسېدای، ده ته ټول وړانديني او وروستني ګناهونه ببښل شوي، ددې درې واړو څخه يو د ځان سره هوډ وکړ چې ټوله شپه به په لمانځه سبا کوي، دويم وويل: ټول کال به روژه نيسم، دريم وويل: زه به ځان د ښځو څخه ګوښه کوم او هيڅ واده به نه کوم، کله چې رسول اللهﷺ د دوی په تصميم خبر شو ويې فرمايل:"قسم په الله چې زه ستاسې په پرتله د پاک پروردګار نه ډېر ويرېږم، ولی سره له دې لمونځ هم کوم او ويديږم هم، روژه نيسم او کله يې نه نيسم او د ښځو سره نکاح هم کوم، پس هر څوک چې زما د عمل خلاف عمل کوي زما له ډلې څخه ندی".

د پورتنيو نصوصو څخه څرګنديږي چې واده کول په اسلام کې ځانګړی ارزښت لري، تر څو مسلمان انسان د اولادونو د روزنې هغه امانت او لوی مسؤوليت چې د دده په غاړه دی پخپلو اوږو واخلي.

**دويم:** په واده باندې ټولنيزې ښېګڼې تر لاسه کيږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

روښانه ده چې شرعي واده عامې ټولنيزې ښيګڼې لري چې مهمې به يې په لاندې کرښوکې بيان کړو:

**الف: د انساني نسل ساتنه**

په واده کولو سره انساني نسل زياتيږي چې دا لړۍ په واده دوام مومي، پاک الله ﷻ دا ټولنيز او انساني مصلحت ستايي او فرمايي:﴿وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَنِينَ وَحَفَدَةً﴾ [النحل ۷۲] الله ﷻ تاسو ته ستاسو له جنس څخه جوړه درکړه، بيا يې د دې جوړې څخه زامن او لمسي درکړل. په بل ځای کې فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً﴾ «اې خلکو! د هغه خدای ﷻ څخه وويريږئ چې تاسو يې له يوه نفس څخه وزيږولئ او له همدې نفس څخه يې د هغه جوړه پيدا کړه، بيا يې دواړو څخه ډېر سړي او ښځې خواره واره کړل»

**ب- د نسب ساتل:** په مشروع واده سره پيدا شوي اولادونه په فخر خپلو پلرونو ته ځانونه منسوبوي چې دا وياړ اولادونو ته د ذهني آرامۍ، په ځان باوري کېدلو او انساني کرامت لامل ګرځي. که چېرې په ټولنه کې شرعي ودونه نه وي، ټولنه به دداسې وګړو څخه جوړه شي چې نه به انساني کرامت او احترام لري او نه به خپل نسب پېژني چې په پای کې به ټولنه د فساد په چپو کې ډوبه شي.

**ج: د اخلاقي بې لاريو څخه داسلامي ټولنې خوندي والی:** په شرعي واده سره ټولنه او د ټولنې وګړي د اخلاقي فساد څخه ژغورل کيږي، هر کله چې شهواني غريزه په حلاله لار مړيږي ټول امت -څه فرد او څه ډله- په غوره اخلاقو سمباليږي، خپل مسؤوليت به داسې ترسره کوي چې څنګه خدای ﷻ غوښتي وي، د همدې لويو اخلاقي ښېګڼو او ټولنيزو حکمتونو له کبله رسول الله ﷺ ځوانانو ته توصيه کوي، فرمايي:" اې ځوانانو! هر څوک چې له تاسو څخه د نکاح کولو قدرت لري بايد چې نکاح وکړي، ځکه چې دا د سترګو د ټيټولو(د شهوت څخه د سترګو مړولو) او د شرمګاه د ساتلو لپاره غوره لاره ده، څوک چې د نکاح طاقت نلري، په دوی لازم دي چې روژه ونيسي، تر څو په ده کې د شهوت لمبه سړه کړي"

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د- د ناروغيو څخه د ټولنې روغوالی:** شرعي واده هغه لاره ده چې ټولنه د ساري وژونکو ناروغيو لکه ايډز، سوزاك او نورو له شره ژغوري، دا ډول ناروغی د زنا، فحشا او نا مشروعو تړاوونو زيږنده ده او په نكاح سره ددې مخنيوي كيږي.

**هـ - روحي او ذهني آرامي**

په شرعي واده سره د ښځې او خاوند ترمنځ د محبت، دوستی او رحمت حس رامنځته كيږي. كله چې خاوند د ورځې په پای كې له كار څخه وزګار او كور ته ستړی ستومانه ولاړ شي، خپلې ښځې او ماشومانو سره كښيني، ټول هغه غمونه چې د ورځني كار په لړی كې ورته پيدا شوي هيريږي. په همدې توګه ښځه او خاوند د يو بل په څنګ كې د آرام او نېكمرغه ژوند څخه خوند اخلي.چې الله ﷻ ورڅخه په خپل كلام كې په ډېر ښكلې تعبير داسې يادونه كوي، فرمايي: ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ [روم ۲۱] د الله ﷻ د حكمت او قدرت له دلايلو څخه يو دا دی چې تاسې لپاره يې ستاسو له جنس څخه جوړه پيدا كړه، تر څو(د هغو په څنګ كې) سكون تر لاسه كړئ، بيا يې ستاسې ترمنځ دوستي او لورېينه پيدا كړه، په يقين سره دې كې د الله ﷻ د قدرت او حكمت دلايل د هغه چا لپاره دي چې فكر كوي.

و- ښځه او خاوند ددې لپاره يو له بل سره مرستندويه دي چې يوه نيكمرغه كورنۍ جوړه او **صالح اولادونه وروزي:** د واده تر سيوري لاندې ښځه او خاوند دواړه د كورنۍ په جوړولو او مسؤوليت ته په اوږه وركولو كې يو له بل سره مرسته كوي، پدې معنا چې لومړی د دويم كار پوره كوي. ښځه هغه كارونه كوي چې د عهدې څخه يې وتلای شي، لكه د كور كارونه او د كور دننه اولادونو ته پاملرنه او دې ته ورته نور. سړي هغه كارونه كوي چې توان يې لري او له طبيعت سره يې برابر وي، لكه د مالي امكاناتو برابرول، د ښمنانو څخه د كورنۍ حمايت او د ورځني مصيبتونو څخه د دوی ژغورل. د مرستندويه انسانانو تر سيوري لاندې صالح، مؤمن، فداكار او با مسؤوليته نسل رامنځ ته كيږي چې بيا به ټولې كورنۍ د محبت، صلحې، آرامی او سوكالی په فضا كې ژوند تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ز- پلرنۍ او مورنۍ عاطفه را پارېږي**

د واده په اغېز د ښځې او خاوند په منځ، کې د عـاطفې او مـسؤوليت روح راټـوکيږي، بيـا دې ته اړ کيږي چې د خپلو ماشومانو د آرام او استقرار لپاره ډېر زيـار وباسـي بـې خـوبې او ستونزې. و ګالي، تر څو اولادونه يې سالمه روزنه تر لاسه کړي.

**فعاليت**

زده کوونکي دې د واده د موخو، ګټو او ټولنيزو مثبتو مسؤولتونو په اه په خپـل مـنځ کـې خبرې وکړي.

**پوښتنې**

١- کورنۍ څه ته وايي؟
٢- د کورنۍ جوړښت په کوم بنسټ ولاړ دی؟
٣- د دې اصـل د ثبـوت لپـاره چـې واده د فطـرت غـږ تـه لبيـک ويـل دي، يـو حـديث ووایاست.
٤- دا څنګه ثابتوئ چې په واده سره انساني نسل ساتل کيږي؟
٥- په دې باندې څه دليل لـرئ چـې پـه واده سـره ټولـنه د اخلاقـي ناولتيا څخه ژغـورل کيږي.
٦- واده د روح د آرامۍ سبب ګرځي، په دې هکله د قرآن کريم څخه دليل راوړئ.
٧- د ښه اولاد د روزنې لپاره ښځې او خاوند ته څه کول پکار دي؟
٨- په واده سره ښځې او خاوند ته کومه روحيه پيدا کيږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نکاح

مخکې مو وویل چې الله تعالی په انسان کې جنسي غریزه ایښې ده، تر څو د انساني نسل د پایښت سبب شي، دې مقصد د لاس ته راوړلو لپاره اسلامي شریعت د نر او ښځې د یو ځای ژوند کولو روا لاره نکاح ګرځولې ده.

## د نکاح تعریف

**په لغت کې**: نکاح یو ځای کولو ته وایي.

## په شرعي اصطلاح کې

۱.نکاح هغه عقد ته ویل کیږي چې نارینه او ښځې ته له یو بل څخه جنسي ګټه اخیستل روا کړي.

## د نکاح حُکم

د نکاح حُکم د نکاح کوونکي له حالت سره بدلیږي:

**أ- سنت مؤکد نکاح:** د اعتدال په حالت کې نکاح سنت مؤکد ده، د اعتدال حال دا دی چې د جماع، مهر، نفقې وس ولري او په زنا کې د لویدلو ویره ونه لري. رسول الله ﷺ فرمايي: «النِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِي فَمَنْ لَمْ يَعْمَلْ بِسُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي»[۱] «نکاح زما له سنتو څخه ده او څوک چې زما په سنتو عمل نه کوي له ماڅخه نه دی»

نو که له حرامو څخه د ځان ساتنې لپاره نکاح وکړي، الله تعالی ثواب ورکوي.

**ب- واجب نکاح:** د هغه چا لپاره نکاح کول واجب دي چې د ډیرې اشتها سره د مهر او نفقې وس هم ولري او د نکاح د نه کولو په صورت کې په زنا کې د لوېدو وېره ولري.

له واجب څخه مراد لازم والی دی، نو عملي فرضو او واجبو دواړو ته شاملیږي.

**ج- مکروه[۲] نکاح:** د هغه چا لپاره چې ویره ولري که نکاح وکړم، نو د نفقې د نشتوالي په وجه به ورڅخه ظلم او ځورونه وشي، یعنې د زوجیت مادي او معنوي حقوق به

---

۱ - مسند الصحابة في الكتب الستة.

۲ - له مکروه څخه تحریمي مکروه مراد ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مراعات نه شي کړای، نو د ده لپاره نکاح کول مکروه دي، ځکه نکاح د ثواب حاصلولو او د پاك لمنۍ لپاره روا شوې ده، نه د ظلم او ځورونې په خاطر، ځکه د حرامو کول ورڅخه ترسره کیږي او د نکاح مصلحتونه په کې له منځه ځي.

**د نکاح ځنډول**

که نکاح د معقول مقصد لپاره وځنډول شي، لکه د تحصیل پوره کول، د مناسب کسب او کار تر لاسه کول او یا د ضروري شیانو لکه د اوسېدو ځای او د واده مصارف تأمینول، دا څه باك نه لري لکه په یاد شوي حدیث کې چې لاربښوونه شوې (یا معشر الشباب....) نو ځوانان دې دا حالت په زغم سره تحمل کړي او که دا لاملونه نه وي بیا د نکاح ځنډول په کار نه دي، ځکه په نکاح کې ډېرې ښېګنې دي چې هغه په مجرد ژوند کې په لاس نه راځي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د نکاح کولو ګټې او ډولونه په خپل وار سره په ګوته کړي.

**پوښتنې**

۱. نکاح تعریف کړئ.
۲. د نکاح د مشروعیت (رواتوب) حکمتونه بیان کړئ.
۳. د نکاح حکم څه دی؟ تفصیل ورکړئ.
٤. آیا د نکاح ځنډول پکار دي؟

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د نکاح د حکمتونو په هکله یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نکاح مقدمات

له پخوا څخه د خلکو دا عادت و چې له واده څخه د مخه به د هلك دکورنۍ لخوا د نجلۍ کورنۍ ته یو څوك د خواستګارۍ(غوښتنې) لپاره ور استول کیده، همدغه عادت د شریعت له خوا هم د منلو وړ وګرځید چې په عربي کې ورته خِطبه ویل کیږي.

### د خِطبې تعریف

**په لغت کې:** خِطبه د خاء په کسرې (زیر) د نکاح غوښتنې ته وایي.

**په اصطلاح کې:** له یوې ټاکلې ښځې سره د واده کولو رغبت ښکاره کولو ته خِطبه ویل کیږي، برابره ده د هغه یادونه ښځې ته وکړي او یا د هغې ولي ته.

**د خِطبې حُکم:** خِطبه د نکاح لپاره یوه وسیله ده چې فقهاء کرامو رحمهم الله مستحب ګڼلې ده.

په یوې ښځې مرکه کول چې شرعي ایجاب او قبول پکې نه وي د وعدې په معنا ده او رښتینی عقد نه دی، ځکه د نکاح عقد د ایجاب او منلو له لارې تر سره کیږي.

### د ښځې غوره کول

د اسلامي شریعت له مخې په دې کې شك نشته چې نېکمرغه واده د سړي لخوا د ښې ښځې په ټاکلو او همدا شان د ښځې لخوا د مناسب سړي په خوښولو پورې اړه لري او د ښې ښځې اختیارول هغه دي چې لاندې خبرې په پام کې ونیول شي:

**۱- دینداري**

سړي ته پکار ده چې دینداره او د ښو اخلاقو څښتنه ښځه غوره کړي، ځکه دینداري ښځه دې ته اړباسي چې د خپل خاوند اطاعت وکړي، د هغه د نېکمرغۍ او هوساینې لپاره کار وکړي، د خپل پت او عزت په ساتلو د مېړه پت او عزت وساتي، د خپلې تقوا، ریښتینولۍ او اخلاص څخه یې هر وخت خوښ او ډاډمن وګرځوي، که ښځې د ځان لپاره د سړي د غوره کولو په هکله د دینداري صفت په نظر کې ونیسي، نو د روښانه راتلونکې په لور به یې ګام ایښی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه حدیث کې رسول اللهﷺ فرمایي: «تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ»[1]

د حدیث **ژباړه**: خلك له ښځې سره د څلورو خصلتونو لپاره نکاح کوي:

د هغې د مال لپاره، د هغې د نسب (د اهمیت) لپاره، د هغې د ښایست لپاره او د هغې د دینداري لپاره او ته په دینداري پسې وګرځه، که داسې دې ونکړل لاسونه دې سپیره شه.

**۲- پیغله**

غوره دا ده چې پیغله په نکاح شي، ځکه په هغې کې د مینې دوه اړخیزې اړیکې ټینګیږي او د ګډ تفاهم او د بچیانو د تولد لپاره مناسبه وړتیا لري. له حضرت جابرؓ څخه روایت شوی دی چې رسول اللهﷺ ما ته وفرمایل: (اې جابره! له پېغلې سره دې واده کړی او که له کونډې سره؟ هغه وویل: له کونډې سره. هغهﷺ وفرمایل: ولې دې له پیغلې سره واده نه کاوه چې دواړو به مینه او لوبې سره کولې). خو که د یوه چا ظروف دا غوښتنه وکړي چې کونډه یا پخه ښځه باید په نکاح واخلي، لکه چې سړی په عمر پوخ وي، یا د خپلو اولادونو لپاره په کور کې سرپرست لټول وغواړي یا نورې ګټې په نظر کې ونیسي، نو د پخې ښځې سره نکاح کول ورته غوره دي.

**۳- مینه ناکې او اولاد راوړونکې**: سړي ته پکار ده چې مینه ناکه او اولاد راوړونکې ښځه خوښه کړي، ځکه همداسې ښځه له خپل سړي سره مینه او ښه چلند کوي، له دواړو خواوو څخه دمینې کول د زوجیت د ژوندانه د پایښت، خوشحالۍ او د ښو اولادونو لپاره ډیر اغیزمن دي، رسول اللهﷺ فرمایي: (تاسو له مینه ناکو او اولاد راوړونکو ښځو سره ودونه وکړئ، زه د قیامت په ورځ ستاسو په ډیر والي ویاړ کوم)[2]

**۴- عزتمنه کورنۍ**: سړي ته مستحب ده چې ښځه له عزتمنې کورنۍ څخه ځان ته غوره کړي هغه چې د کورنۍ غړي یې په نېکو اخلاقو او ښو خویونو پېژندل شوي وي، تر څو ددوی اولادونه ورڅخه دغه ځینې صفتونه او یا ټول خپل کړي، دا طبیعي او علمي خبره ده چې د پلرونو او میندو ډیر صفتونه اولادونو ته په میراث نقلیږي، په دې خبره ډیر احادیث دلالت کوي، له عایشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې وایي رسول اللهﷺ

---

۱ – متفق علیه.

۲ – سنن أبی داود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وفرمايل: «تَخَيَّرُوا لِنُطَفِكُمْ فإِنَّ النِّساءَ يَلِدْنَ أشْباه إخْوَانِهِنَّ وأخَوَاتِهِنَّ»[1]. "تاسو د خپلو نطفو لپاره ښه ځايونه غوره کړئ، ځکه ښځې خپلو وروڼو او خويندو ته ورته زيږوي".

**٥- په نسب کې لېرې والی:** غوره داده چې ښځه لـه لېرې نـسب څخـه وي، لـه نـژدې خپلوانو څخه نه وي، ځکه په نسب کې لېرې ښځه غښتلي او صـحتمند اولادونـه زېږوي، ويل شوي دي چې: "له لېرې کورنيو څخه ښـځې وکـړئ ځـو مـو اولادونـه کمـزوري نـه وي".

علمي تحقيقاتو دا منلې چې نژدې خپلوانو سره واده کول په ماشومانو کې د ارثي ناروغيو د څرګنديدو لامل ګرځي.

**د خاطب غوره کول**

لکه سړي ته چې لازم دي چې نېکه ښځه خوښه کړي، همدا شان د ښځې کورنۍ ته هـم پکارده چې د سړي او ځوان په هکله ښه انتخاب وکړي او خپلې پېغلې تـه مناسـب سـړی غوره کړي، هغه چې لاندې صفتونه ولري:

١- **دينداري:** پکار ده چې خطبه کوونکی سړی ديندار ه، د ښـو اخلاقـو او مېرانـې څـښتن وي، دا د صالح زوج له مهمو صفتونو څخه شمېرل کيږي، نو که سـړی پرهيزګـاره وي د اللهﷻ ويره يې په ښځه له ظلم کولو څخه راګرځوي، د ښه ژوندانه او د ښـځې د حقوقـو د تأمين خواته يې راکاږي، رسول اللهﷺ له ديندار ه او د ښو اخلاقو له څښتن سره د نکـاح کولو امر کوي ولو که مسکين هم وي، فرمايي: "إِذَا جَاءَكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ، إلا تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ، وَفَسَادٌ عَرِيضٌ".[2] "کله چې تاسو ته داسې څـوک راغـی چـې دين او اخلاق يې غوره ګڼئ، نو د واده کولو غوښتنه يې ومنئ او که دا کار ونکـړئ، نـو په ځمکه کې به فتنې او پراخه فساد رامنځ ته شي."

په رښتيا هم که ديندار ه سړي ته نجلۍ په نکاح ورنه کړل شـي، د غريبـی پـه وجـه خـالي لاس ولاړ شي، نو ددې ويره ده چې پاروني به يې په زړه کې پريوزي او په فتنـو کـې بـه ولوېږي، همدا شان که ښځه بې دينه او بد اخلاقو ته پـه نکـاح ورکـړل شـي، يـا د مالـدار سړي په انتظار کې پرېښودله شي، نو ددې ويره ده چې په فساد، ناوړه او فاحشو کړو وړو

---

١ - سنن ابن ماجه.

٢ - مسند الصحابة في الكتب الستة.

(c) ketabton.com: The Digital Library

به اخته شي او په دې کار سره په د نجلۍ پلار له خپلې لور سره چې دده په لاس کې د اللهﷻ امانت دی خيانت کوي او په خپل لاس به خپله لور د ټول ژوند لپاره په عذاب او په ډېرو خطرونو کې اچوي.

**۲- د خاطب او مخطوبې تر منځ د عمر نژدېوالی:** مناسب ده له نجلۍ سره د سړي عمر نژدې وي او دا ښه کار نه دی چې داسې چاته نجلۍ په نکاح ورکړل شي چې په عمر کې يې ډېر توپير وي په داسې ډول چې د هغه عمر د هغې د پلار او نيکه سره برابر وي، ځکه نېکمرغه واده هغه دی چې د مينې او محبت په اساس ولاړ وي او د عمر نژدې والی يو له هغو اسبابو څخه دی چې د ښځې او خاوند تر منځ د مينې او محبت اړيکې په ځای کوي.

دا په دې معنا نه ده چې د ډېر عمر لرونکي سره د نجلۍ نکاح جواز نه لري، بلکې عرف او مصلحت ته په کتو سره مناسب داده چې د عمر نژدې والی په نظر کې ونيول شي، ترڅو واده نېکمرغه او سوکاله شي.

**مخطوبې ته کتل**

خاطب ته شريعت دا رواکړې ده چې مخکې له نکاح څخه مخطوبه ووينې، په دې کې حکمت دادی چې خاطب د ښځې په هکله چې دده په نکاح کې راتلونکې ده او دده د ژوند شريکه جوړېدونکې ده معلومات ولري.

کله چې څوک وغواړي له کومې ښځې سره واده وکړي تر واده کولو د مخه ورته کتل جواز لري. نبي اکرمﷺ فرمايي: «**ابصرها فإنه احرى أن يؤدم بينكما**»[۱]

" ويې ګوره دا ستاسې تر منځ د مينې پيدا کېدو غوره لاره ده".

**د يوه چا په مرکه کې د بل چا له لوري مرکه**

کله چې کومه نجلۍ يو چا وغوښته او د پلار يا کورنۍ له لوري ورته کوم ځواب ونه ويل شو بل چا ته دا نه ده روا چې په دې نجلۍ باندې جرګه وکړي، ځکه نبي اکرم ﷺ ورڅخه منع کړې ده، خو که چېرې د نجلۍ د کورنۍ له لوري ځواب شوي وو، بيا بل چا ته روا ده چې مرکه پرې وکړي.

---

۱- سبل السلام ٤/٤٣٧ النظر الي المخطوبة

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مخطوبې ښځې د نه غوښتلو حکمت**

په دې کې شک نه شته چې يوه ښځه يو چا غوښتې وي او د ځواب په انتظار وي، بل څوک مداخله کوي او ځان ته يې نکاح کول وغواړي دا د لومړي خاطب لپاره زيان دی کله داسې هم پيښيږي چې همدا کار د کينې، دښمنيو او شخړو لامل شي، په داسې حال کې اسلام د ټولو هغو اسبابو څخه مخنيوی کوي چې هغه د اختلافاتو او دښمنيو سبب ګرځي.

**فعاليت**

١. د غوښتلو رواجونه بيان او له شريعت سره يې پرتله کړئ.

٢. ښوونکی دې زده کوونکي په دريو ډلو وويشي چې د نکاح د خطبې په تعريف، مقدماتو، د مخطوبې او خاطب په ښيګڼو خبرې وکړي.

**پوښتنې**

١. د خِطبې تعريف څه دی؟

٢. د خِطبې حکم بيان کړئ.

٣. د ښځې په غوره کولو کې کومې خبرې په پام کې نيول پکار دي؟

٤. د خاطب په غوره کولو کې کوم صفات لرل پکار دي؟

٥. آيا د خاطب او مخطوبې تر منځ د عمر نژدېوالی ضروري دی؟

٦. آيا مخطوبې ته کتل روا دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نکاح ارکان او شرطونه

د نکاح د عقد د صحت لپاره ارکان او څه شرطونه ایښودل شوي دي چې د هغو په پام کې نیول اړین دي، په دې لوست کې یې موږ بیانوو.

## د نکاح ارکان

دنکاح عقد په دوو ارکانو ولاړ دی:

1. ایجاب
2. او قبول.

**ایجاب:** ایجاب هغه لومړنی لفظ او خبره ده چې له عاقدینو[1] څخه د یوه له خوا وویله شي که هغه د زوج او یا دهغه د وکیل یا ولي لخوا، یا د زوجې یا د هغې د وکیل یا ولي لخوا وویله شي.

**قبول:** قبول، هغه دویم لفظ او خبره ده چې له ایجاب څخه وروسته د عاقدینو، له دویم اړخ څخه صادره شي.

لکه اول لوری چې ووایي: ما خپله لور په نکاح درکړه او دویم لوری ووایي ما په نکاح کړه، یا ما قبوله کړه.

## د نکاح الفاظ

په هر هغه لفظ چې د شیانو تملیك وربانديې راځي په هغې باندې نکاح هم تړل کېږي. لکه د نکاح، تزویج، هبې، صدقې او عطیې (ورکړې) الفاظ، په دې شرط چې نیت یې د نکاح وي او شاهدان هم دده په مقصد پوه شي.

## د نکاح د الفاظو څرنګوالی

۱- نکاح به په داسې الفاظو تړي چې په تېره زمانه دلالت کوي، لکه یو سړی د نجلی پلار ته ووایي: ما ستا لور په نکاح کړې وه، هغه ورته په ځواب کې ووایي: مادرکړې وه.

۲- که چیرې یو لفظ ماضی او بل مضارع وي بیا هم نکاح صحیح ده، لکه د نجلی پلار سړي ته ووایي: ما لور درکړه سړی ورته په ځواب کې ووایي: ما په شرعي نکاح قبوله

---

۱ - عاقدین: (د تړون دواړه اړخونه).

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې وه، یا داسې: هلك د نجلی پلار ته ووایي: ماته دې لـور پـه نکـاح راکـړه، د نجلی پلار ورته په ځواب کې ووایي، ما درکړې ده.

**مسایل**

• په لیک سره هم نکاح تړل کیږي په دې شرط چې غائب وي، همـدا راز د اسـتازي پـه استولـــو هم صحیح ده.

• د گونگي نکاح په لیک او اشارې سره تړل کیږي.

• له عربی څخه پرته په نورو ژبو د نکاح تړل په هغه الفاظو چې پـه نکـاح دلالـت کـوي جواز لري، ځکه په عقدونو کې معانیو ته اعتبار ورکول کیږي او کله چې د عربي له ویلو عاجز وي، نو هغه ورڅخه ساقطیږي لکـه د گـونگي پـه لیـک او اشـاره چـې نکـاح تـړل کیږي.

**د نکاح شرطونه**

د نکاح د تړلو د صحت لپاره مهم شرطونه په لاندې ډول بیانیږي:

۱. ایجاب او قبول به په یوه مجلس کې ترسره کیږی یعنې د عقد په مجلس کې به وي.

۲. ایجاب او قبول به په لوړ غږ سره کوي چې یو بل یې واوري، تر څـو رضـایت ښـکاره شي.

۳. د ایجاب او قبول الفاظ به دائمي وي او په مؤقت وخت پـورې بـه تړلـي نـه وي، لکـه میاشت، کال او داسې نور، ترڅو د مُتعې نکاح ورڅخه ووځي، د متعـې نکـاح پـه ځلـورو مذاهبو حرامه او باطله ده.

٤. عقد کوونکي بـه دواړه د عقـل خاونـدان وي، نـو د لیـوني او غیـر ممیـز ماشـوم نکـاح صحیح نه ده.

۵. عقد کوونکي به بالغ او آزاد وي، دا دواړه د نکاح د نفاذ له شرایطو څخه دي.

٦. شاهدان: شاهدي د نکاح د صحت د شرطونو له جملې څخه ده، د شاهدانو له حضور څخه پرته نکاح نه تړل کیږي. نکاح د دوه نارینه شاهدانو او یا د یـو نارینـه او دوه ښـځینه شاهدانو په شته والي او مخ کې تړل کیږي.

**د شاهدانو لپاره پنځه شرطونه دي**

• عقل، نو د لیوني په شاهدۍ د نکاح تړل صحیح نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- بلوغ، نو د ماشوم په شاهدۍ باندې د نکاح تړل صحیح نه دي.
- آزادي، نو د غلام په شاهدۍ باندې د نکاح تړل صحیح نه دي.
- اسلام، د مسلمانانو په نکاح باندې د ذمیانو شاهدي صحیح نه ده.
- شاهدانو به د دواړو عاقدینو خبره اوریدلې وي، یعنې د خوب وړو شاهدي صحیح نه ده.

۶- د ښځې رضایت: په نکاح کې د ښځې رضایت او خوښه شرط ده که هغه پیغله وي او که کونډه، ولي ته دا حق نشته چې هغه په نکاح کولو مجبوره کړي.

۷- زوج او زوجه به معلوم وي، نو که یو څوک چې دوه لونړې ولري او یوه چاته ووایي چې ما یوه لور په نکاح درکړه، دا صحي نه ده، ځکه معلومه نه شوه چې کومه یې مراد ده.

## پوښتنې

١. نکاح څو رکنه لري؟ بیان یې کړئ.
٢. نکاح په کومو الفاظو تړل کیږي؟ څرنګوالی یې بیان کړئ.
٣. آیا له عربي ژبې څخه پرته په نورو ژبو نکاح تړل جواز لري؟
٤. په لیک سره د نکاح تړل څه حکم لري؟
٥. د نکاح شرطونه څو او کوم دي؟
٦. د شاهدانو شرطونه بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولايت

**د ولايت تعريف**

**ولايت په لغت کې:** قرابت، مرستې او واک ته ويل کيږي.

**ولي په لغت کې:** د دښمن خلاف دی.

**د فقهې په اصطلاح کې:** ولي هغه بالغ، عاقل او ميراث وړونکي شخص ته ويل کيږي چې په يوه کارکې د تصرف کولو واک او اختيار ورسره وي.

**د فقهې په اصطلاح کې:** د چا له اجازې پرته د هغه په کار کې تصرف، قدرت او واک لرلو ته ولايت وايي او دې متصرف شخص ته ولي وايي.

**د ولايت ډولونه**

ولايت په درې ډوله دی:۱- د نفس ولايت.۲- د مال ولايت.۳- د نفس او مال ولايت.

زموږ دبحث موضوع د نفس ولايت دی.

**دنفس ولايت په دوه ډوله دی**

۱- **د اِجبار ولايت:** په بل چا د خبرې د قبلولو واک لرل.

د اجبار د ولايت سببونه درې دي: ۱- وړوکوالی.۲ - ليونتوب. ۳- معتوه(د عقل کم والی).

۲- **د اختيار ولايت:** د ښځې په نکاح ورکولو کې د ولي حق دی چې د هغې د خوښې او رضا په اساس وي.

**په نکاح کې د ولي اختيار**

د امام ابوحنيفه او امام ابو يوسف رحمهما الله تعالی په وړاندې عاقله، بالغه او ازاده ښځه د ولي له اجازت څخه پرته خپل ځان په نکاح ورکولای شي، همداشان کولای شي د خپلې نکاح اختيار وکيل ته ورکړي او يا که چا په نکاح ورکړې وي دا ورته اجازه وکړي، خو د هغې لپاره دا مستحب ده چې د خپلې نکاح اختيار ولي ته ورکړي، څو د نيکو عاداتو او آدابو چې اسلام د هغوغوښتنه کوي مراعات وشي او که يې له کُفْء او سيال څخه پرته له بل چا سره نکاح وکړه، نو ولي بيا اعتراض کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حديث کې راځي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: «الأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا»[1] "کومه ښځه چې مېړه يې مړ شوی وي او يا طلاقه شوې وي، هغه تر ولي د خپل ځان ډېره حقداره ده (چې خاوند ځان ته غوره کړي)، له پيغلې ښځه به د هغې د نکاح اجازه اخيستله کيږي او د هغې اجازه د هغې سکوت او چوپتيا ده"

**پيغله د خوښې خلاف نکاح ته نه شي مجبورېدای**

بالغه نجلۍ او بالغ هلك نکاح کولو ته نشي مجبوريدای، يعني د هغې له رضايت څخه پرته د ولي په نکاح ورکول نافذ او عملي نه دي، دا سنت ده چې ولي له پيغلې څخه د هغې د نکاح کولو څخه د مخه د هغې خوښه واخلي او ورته ووايي چې فلانی سړی له تا سره نکاح کول غواړي، نو که يې چوپتيا غوره کړه دا يې خوښه بلل کيږي او که د هغې خوښه وانخلي، نو د سنت خلاف کار يې وکړ او نکاح به بيا هم ددې تر اجازې پورې موقوفه وي، خو د کونډې ښځې او د ځوان هلك سکوت د هغوی موافقه نه شمېرل کيږي، بلکه هغوی به خپله خوښې او ناخوښې په خبره څرګندوي.

**د ولي شرطونه**

۱. بشپړ اهليت به لري چې هغه بلوغ، عقل او حريت دی، نو د ماشوم، ليوني او معتوه (کم عقله) لپاره ولايت نشته.

۲. ولي او د مولی عليه دين به سره يو وي، نو د غير مسلم لپاره په مسلمان ولايت نشته. الله تعالی ﷻ فرمايي: ﴿وَلَن يَجْعَلَ اللّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً﴾ [النساء: ۱۴۱] «الله د کافرانو لپاره پر مسلمانانو د بر لاس کيدو هيڅ کومه لاره نه ده جوړه کړې.»

**د اولياوو ترتيب**

۱- زوی، د زوی زوی، همداسې ښکته.

۲- پلار، نيکه، همداسې پورته.

۳- سکه ورور، دهغه زامن، همداسې ښکته.

---

۱ - صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- سکه تره، د هغه زامن.

۵- د پلار تره، دهغه زامن، بیا د نیکه تره بیا د هغه زامن، همداسې.

له دې وروسته بیا سببي عصبې ته ولایت او واک دی، که دا هم نه وي بیا امام او چارواکي ولي جوړیږي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي او په نکاح کې د ولي د اختیار، د پیغلې له خوښې پرته په اجبار سره د نکاح د حکم او د اولیاوو د ترتیب په هکله خبرې اترې وکړي.

## پوښتني

۱. ولایت څه ته وایي؟ تعریف یې کړئ

۲. ولي څوک دی؟

۳. د ولایت ډولونه کوم دي؟

٤. د نفس د ولائت ډولونه بیان کړئ.

٥. په نکاح کې د ولي اختیار بیان کړئ.

٦. آیا پیغله د هغې د خوښې پر خلاف نکاح ته مجبوره کېدای شي؟

۷. د ولي شرطونه کوم دي؟

۸. د اولیاوو ترتیب بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کفاءت

**د کفاءت تعریف**

کفاءت په لغت کې مساوات او برابرۍ ته وايي او د فقهاوو په اصطلاح کې د سړي او ښځې برابروالی په هغه څه کې چې په نکاح کې معتبر دی کفاءت بلل کيږي.

**۲ – د چا کفاءت معتبر دی؟**

په نکاح کې د سړو د لوري کفاءت معتبر دی او د ښځو له لوري اعتبار نلري، معنا دا چې خاوند بايد د ښځې سيال وي او ترينه ټيټ نه وي.

**۳ – دکفاءت د غوښتنې حق**

د کفاءت حق د ښځې او د هغې د اولياوو حق دی، نو ښځه په خپلو وليانو حق لري چې سيال ته يې ورکړي او وليان هم حق لري څو د دوی خور يا لور سيال سړی په نکاح واخلئ يعنې د ديني التزام، ټولنيز حالت او دود له پلوه بايد دواړه سره برابر وي او که غير سيال يې وکړ، نو دوی د نکاح د فسخې غوښتنه کولای شي.

**په نکاح کې د کفاءت د شرط گرځولو دليل**

د کفاءت د شرط کيدلو او مراعات کولو دليل عرف د مېړه او ښځې تر منځ مصلحتونو ته پاملرنه ده، ځکه شريفه ښځه نه غواړي چې له خسيس سړي سره خپل ژوند تېر کړي، عادت ثابته کړې چې که چيرې خاوند د خپلې مانديني سيال نه وي د هغوی ژوند دوامدراه نه وي، ضروري ده چې د خاوند په لوري کې کفاءت مراعات شي، نه د ښځې په لوري کې او که دا مراعات ونه شي، نو د نکاح عقد به د اولياوو له خوا له فسخې کولو سره مخ شي، تر څو له ځان څخه د شرم زيان ليرې کړي.

**د کفاءت اوصاف**

کفاءت يا د ښځې او مېړه ترمنځ برابر والی په پام کې نيول، د ژوند د نظام او قانون په توگه د اسلامي شريعت يوه ځانگړتيا ده؛ ځکه د واده د دوام او د اړيکو د پياوړتيا لپاره د دين، کلتور، ټولنيز او اقتصادي حالت او دود له پلوه د ښځې او مېړه نژديوالی ډېر مهم او ارزښتمن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کفاءت احکام**

۱. که بالغه او عاقله نجلۍ ځانته غیر سیال سړی غوره کړي، نو ولي د نکاح د فسخې حق لري، یعنې قاضي ته به یې د جلا کېدو دعوی وړاندې کړي او قاضي به ددوی تر منځ بېلتون راولي.

۲. او که یې له غیر سیال سړي سره د ولي په اجازه نکاح وکړه بیا نکاح لازمېږي، ځکه واده او نکاح کول د ښځې خپل حق دی، خو اولیاء یوازې د کفاءت دنه شتون په صورت کې د اعتراض حق لري، کله چې دوی خپل حق په پخواني رضایت ساقط کړ، نو نکاح لازمه ګڼل کیږي.

۳. که چیرې زوج خپل نسب خلاف ښکاره کړی و، په داسې حال کې چې د ښځې کف نه و، نو د نکاح د عقد د فسخې حق هم ښځې او هم د هغې ولي ته حاصل دی.

۴- کله چې عاقله او بالغه نجلۍ د خپلې نکاح لپاره وکیل و نیسي او بیا یې دا وکیل غیر سیال سړي ته ورکړي دا نکاح ددې نجلۍ په اجازې پورې تړلې ده.

**فعالیت**

په اسلام کې ولې کفاءت معتبر ګرځول شوی دی؟ زده کوونکې دې د کفاءت په اهمیت، حکمت او اغیز په هکله په تفصیل ځواب ورکړي.

**پوښتنې**

۱. کفاءت تعریف کړئ.
۲. د چا کفاءت معتبر ګڼل کیږي؟
۳. دکفاءت د غوښتنې حق د چا دی؟
٤. په نکاح کې دکفاءت د شرط ګرځولو دلیل بیان کړئ.
۵. دکفاءت اوصاف بیان کړئ.
٦. که بالغې او عاقلې نجلۍ غیر سیال سړی غوره کړی وي، آیا ولي یې د فسخې حق لري؟
۷. که د نجلۍ وکیل هغه غیر سیال ته په نکاح ورکړي، آیا نجلۍ د فسخې حق لري؟

**کورنۍ دنده**

شریعت په کفاءت کې کوم اوصاف غوره ګڼلي، په دې هکله د جومات د ملا امام په مرسته یوه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نکاح محرمات

له محرماتو سره نکاح کول حرام دي او د نکاح د عقد د صحت لپاره دا شرط ده چې ښځه به نکاح غوښتونکي سړي ته روا وي.

**د محرّماتو تعریف**

**په لغت کې:** محرّمات د محرّم جمعه ده او محرّم، حرام (منعه) گرځول شوې ته ویل کیږي.

**په اصطلاح کې:** هغه ښځینه او نارینه ته ویل کیږي چې د قرابت او خپلوۍ په وجه ورسره نکاح کول ناروا وي.

**د محرماتو ډولونه**

محرمات په دوه ډوله دي:

۱ – ابدي محرمات.

۲ – موقتي محرمات.

**ابدي محرمات:** ابدي محرمات هغه دي چې د تل لپاره د سړي نکاح ورسره حرامه وي.

**ابدي محرمات په درې ډوله دي**

**لومړی: نسبي محرمات**

نسبي محرمات هغه دي چې د نسبي خپلوۍ له امله په سړي حراميږي او هغه اووه دي:

أ- مورگانې او تر هغوی پورته(دمور مور او د پلار مور) چې د انسان اصول ورته وايي.

ب- لورگانې او تر هغوی ښکته (د لور لور، د زوی لور همداسې ښکته) چې د انسان فروع دي.

ج- د مور او پلار اولاده لکه خویندې او د هغوی اولاد.

د- د نیا او نیکه زامن او لوڼه، لکه الف: تریندی او ترونه. ب: توړۍ گانې او ماما گان

ه- وریرې او د هغوی اولاد.

ز- خورزې او د هغوی اولاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعـالىﷻ فرمـايي: ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالاَتُكُمْ وَبَنَاتُ الأَخِ وَبَنَاتُ الأُخْتِ﴾ [النساء: ٢٣] پر تاسې حرامې کړای شـوې ستاسـې مېنـدې، لـوڼې، خوينـدې، ترينده‌ې، توړۍ ګانې، وريرې او خورزې".

**دويم: د مصاهرت حرمت**

د مصاهرت حرمت هغه دی چې د خسر والي او زوم والي له امله په سړي حرامېږي او دا محرمات په څلور ډوله دي:

**أ- د ښځې مور:** په مجرد عقد تړلو سره د خپلې ښـځې مـور او ددې نياګـانې پـه سـړي باندې د تـل لپـاره حرامېږي او نکـاح ورسـره نـشي کـولای. الله تعـالي فرمـايي: ﴿وَأُمَّهَاتُ نِسَآئِكُمْ﴾ [النساء: ٢٣] {او(پر تاسې حرامې کړای شوې) ستاسې د ښځو مېندې}.

**ب- د ښځې لوڼې** (پرکتۍ): د پرکتيو، د دوی لوڼې او تـر هغـو ښـکته، پـدې شـرط چـې خاوند له ښځې سره کوروالی کړی وي د ابدي محرماتو له ډلې څخه دي، که چيرې يـې کوروالی ورسره نه وي کړی يوازې دده په نامه شـوې وه اولـه عقـد وروسـته ورڅخـه پـه طلاق يا وفات جلا شوه، بيا ورته روا ده چې ددې ښـځې لورګـانې او لمـسيانې پـه نکـاح کړي.الله تعالی فرمـايي: ﴿وَرَبَائِبُكُمُ اللاَّتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ اللاَّتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ﴾ [النـساء: ٢٣] "او (پر تاسې حرامې کړای شوې ستاسې د ښځو هغه لوڼې چې ستاسې په غيږو کې پالـل شـوې وي البته د هغو مېرمنو لوڼې چې تاسې ورسره مباشرت او کوروالی کړی وي "

**ج- د زامنو ښځې يا نګيندې:** (د اولادونو او لمسو ښځې) همداسې تر ښکته، برابره خبـره ده چې زوی او لمسي له خپلو ښځو سره کوروالی کړی وي او يانه، بلکـه پـه نـوم کيـدل ورته کافي دي، همدا راز له طلاق څخه يې وروسته هم نشي په نکـاح کـولای، يعنـې يـو سړی د خپلې اولادې له ښځو سره په هېڅ صورت نکـاح نـشي کـولای ؛ ځکـه چـې دا د ابـدي محرمـاتو لـه ډلـې څخـه دي. الله تعـالی ﷻ فرمـايي: ﴿وَحَلاَئِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلاَبِكُم﴾ [النساء: ٢٣] او (پر تاسې حرامې کړای شوې) ستاسې د هغو زامنو مېرمنې چې ستاسې له پښت څخه دي".

**په زنا کولو د مصاهرت حرمت**

په زنا کولو د مصاهرت حرمت واجبيږي، که يو څوك له کومې ښځې سره زنا وکـړي، نو دهغې ښځې اصول او فروع يعنې مور، نيا همداسې پورته، لـور او د لـور لـور همداسـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکته وربانديٍ حراميږي او په نکاح يې نه شي اخيستلای، همدا شان همدغه ښځه د زانـي سړي اصولو او فروعو ته هم حرامه ده.

**فعاليت:**

زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي، نسبي او د مـصاهرت د حرمـت پـه ډولونـو دې خبرې وکړي.

**پوښتنې:**

۱. محرمات تعريف کړئ.

۲. د محرماتو ډولونه په ګوته کړئ.

۳. نسبي محرمات کوم دي؟ په تفصيل يې بيان کړئ.

٤. له نسبي محرماتو سره د نکاح د حرمت حکمت څه دی؟

٥. د مصاهرت حرمت څه ته وايي؟ ډولونه يې بيان کړئ.

٦. آيا په زنا کولو سره د مصاهرت حرمت ثابتيږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رضاعي محرمات

په مخکيني لوست کې مو د ابدي محرماتو له دريو ډولونو څخه دوه ډوله چې لومړی يې نسبي او دويم يې د مصاهرت و، بيان کړل، اوس غواړو چې دريم ډول يې چې رضاعي محرمات دي، بيان کړو.

**رضاعي محرمات**

رضاعي محرمات هغه دي چې د رضاع (د شودو خوړلو) په سبب په تي خوړونکي باندې حراميږي، نو هغه ښځې چې د نسب او مصاهرت په سبب په سړي ناروا کيږي، هم هغه ښځې د رضاع په سبب هم ورباندې حراميږي.

څکه شيدې خوړونكى داسې شي لكه د شيدې وركوونكې نسبي زوی، نو كوم محرمات چې يې په نسبي اولاد حراميږي هم هغه په شيدې خوړونكي هم حرامېږي، الله تعالی ﷻ فرمايي: ﴿وَأُمَّهَاتُكُمُ اللاَّتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ﴾[النساء: ٢٣] او (پر تاسې حرامې كړای شوې) ستاسې هغه مېندې چې تاسې ته يې شيدې دركړې وي او ستاسې دتې شريكې خويندې "

**په يوه حديث شريف کې** رسول الله ﷺ فرمايي: «يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ»[١].

څه چې په نسب حراميږي هغه په رضاع(تي خوړلو) حراميږي.

**د شيدې وركوونكي او خوړونكي تر منځ د حرمت د حكم توپير**

د شيدې وركوونكې خواته ټول خپلوان شي، نو رضاعي مور او نيا همداسې پورته، رضاعي لور همداسې ښكته، رضاعي خور، توړی، ترور، رضاعي وريرې او خورزې، دا ټول په شيدې خوړونكي حرامې دي.

دا حرمت شيدې خوړونكي او دده اولادونو ته ورشامل دی، خو دده قريبانو او خپلوانو ته بيا دا حرمت نه شامليږي نو د شيدې خوړونكي رضاعي پلار ته دا روا ده چې دده نسبي مور يا خور په نكاح كړي او همدا شان دده نسبي پلار ته دا روا ده چې دده رضاعي مور او يا خور په نكاح كړي، څكه خپلوي يوازې له ده سره ده. د بېلګې په توګه احمد رضاعي مور لري، د هغه حيثيت په رضاعي كورنۍ كښې داسې دی لكه چې خپل نسبي كورنۍ لري، نو د ده محارم په رضاعي كورنۍ كې د نسبي كورنۍ په څېر دي خو احمد

[١] الراوي: عبدالله بن عباس المحدث: مسلم المصدر: صحيح مسلم الجزء أو الصفحة: ١٤٤٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کورنۍ له خوا رضاعي کورنۍ ته يوازې د ده ښځه او اولادونه محرم گڼل کېږي نور پاتي کورنۍ يې اجانب دي.

يو فارسي شعر ددې خبرې ښه وضاحت په لنډ ډول داسې کوي:

(از جانب شير ده همه خويش شوند - و از جانب شير خواره زوجان وفروع).

" د شيدې ورکونکې خواته ټول خپلوان شي او د شيدو خوړونکې خواته يوازې زوجان(د رضاعي زوی ښځه يا د رضاعي لور خاوند) او د هغوی اولادونه، لمسيان همداسې ښکته حراميږي"

**هغه شيدې چې حرمت ورباندې ثابتيږي**

دشودو خوړلو په سبب حرمت هغه وخت ثابتيږي چې ماشوم شيدې د تي رودلو په زمانه کې وخوري او د تي رودلو موده تر ديرشو (۳۰) مياشتو ده او د ماشوم عمر چې له ديرشو مياشتو زيات شو په شيدو رودلو يې حرمت نه ثابتيږي.

**لږ او ډيرې شيدې**

د حرمت په ثابتيدلو کې د لږ شيدو او د ډيرو شيدو فرق نشته، نو که ماشوم لږې شيدې وخوري او يا ډيرې حرمت ورباندې ثابتيږي.

**فعاليت:**

دغه لاندې فارسي شعر چې په لوست کې مو ولوست شرحه کړئ:

(از جانب شيرده همه خويش شوند - و از جانب شير خواره زوجان و فروع)

**پوښتني**

۱. رضاعي محرمات کوم دي؟

۲. د شيدې ورکوونکي او خوړونکي ترمنځ د حرمت د حکم توپير په دقت بيان کړئ.

۳. هغه شيدې چې حرمت ورباندې ثابتيږي، کومې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موقتي محرمات

دا هغه ښځې دي چې د موقت وخت لپاره د يوه ټاکلي سبب له امله ورسره نکاح کول ناروا دي او کله چې سبب له منځه ولاړ شي بيا ورسره واده کول جواز لري.

**موقت محرمات په لاندې ډول دي**

**(۱)**ــ له ښځې سره د هغې د خور په نکاح کې يو ځای کول حرام دي، الله تعالى ﷻ فرمايي: ﴿وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ الأُخْتَيْنِ﴾ [النساء: ۲۳] او دا هم پر تاسې حرامه ده چې په يوه نکاح کې دوه خويندې يو ځای کړئ.

**(۲)**ــ له ښځې سره تورې، يا ترور، همدا شان بله داسې ښځه يوځای کول چې يوه ورته نر فرض کړای شي له دويمې سره يې نکاح جواز ونه لري، حرامه ده.

روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «لاَ يُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا وَلاَ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَخَالَتِهَا»[۱] " په نکاح کې د ښځې او د هغې د تورې او د ښځې او د هغې د ترور يو ځای کول نه کيږي ".

(۳)ــ **پنځمه ښځه کول:** سړي ته په اسلام کې دا جواز نه لري چې په يو وخت کې له څلورو ښځو څخه زياتې په نکاح کړي، نو که يو څوك پنځمه ښځه په نکاح کول وغواړي، تر څو چې يوه طلاقه نه کړي او د هغې عدت تېر نه شي تر هغو د پنځمې د نکاح عقد صحت نه پيدا کوي.

له ابن عمر رضى الله عنهما څخه روايت دی چې غيلان بن سلمه الثقفي مسلمان شو او لس ښځې يې درلودې چې هغوی هم مسلمانې شوې، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: څلور وساته او نورې ټولې جلا کړه (طلاقې کړه).[۲]

**له يوې څخه زياتې ښځې**

الله تعالى ﷻ له يوې څخه زياتې ښځې رواکړې دي، الله تعالى ﷻ فرمايي:

---

۱ - صحيح مسلم

۲ - سنن ترمذی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿وَ إِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تُقْسِطُواْ فِي الْيَتَامَى فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلاَّ تَعُولُواْ﴾ [النساء: ٣] كه تاسې وېرېږئ چې له يتيمو (نجونو) سره به عدالت ونه شئ كړاى، نو كومې (نورې) ښځې چې ستاسې خوښېږي د هغو له دوو دوو، دريو دريو، څلورو څلورو سره نكاح وكړئ، خو كه له تاسې سره دا اندېښنه وي چې له هغو سره به عدالت ونه شئ كړاى، نو يوه ښځه وكړئ، يا له هغو (وينځو) نه كار واخلئ چې تاسې يې مالكان ياست په دې توګه له بې عدالتۍ نه په ښه شان ژغورل كيداى شئ).

سره له دې چې په عام ډول له يوې ښځې سره واده كيږي او په اسلامي نړۍ كې مسلمانان په يوه واده اكتفا كوي، د متعددو ودونو فيصدي دومره زياته نه ده، خو د فردي او ټولنيزو اړتياوو لپاره له يوې څخه زياتې ښځې كه په نكاح اخلئ نو ددوو خبرو رعايت بايد په پام كې ولرئ:

**لومړى:** سړى به دا وړتيا لري چې د خپلو ښځو تر منځ مادي او اخلاقي عدالت مراعات كړي، الله تعالى ﷻ فرمايي: ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً﴾ [النساء: ٣] خو كه له تاسې سره دا اندېښنه وي چې له هغو سره به عدالت ونه شئ كړاى، نو يوه ښځه وكړئ.

كه چيرې له كومې يوې سره د زړه مينه ولرئ هغه باك نه لري، ځكه هغه دده په اختيار كې نه ده، رسول كريم ﷺ له عايشې بي بي سره مينه لرله او دعاء به يې كوله: اې الله! ته ما په هغه څه مه نيسه چې زما په واك كې نه دي.

اسلام په ښځو ظلم او د هغو تر منځ عدالت نه كول حرام كړي دي، رسول الله ﷺ فرمايي: څوك چې دوه ښځې ولري او د هغو ترمنځ عدالت نه كوي او يوې خواته يې ميلان وي، نو د قيامت په ورځ به يې يو اړخ فلج او له كاره لويدلى وي.[1]

**دويم:** سړى به د نفقې د برابرولو مالي وس لري، تر څو د نفقې د نه شتون له كبله پر ښځه ظلم ونشي.

**(٤)_ د بل چا ښځه او له طلاقه او يا مرګه وروسته په عدت كې ښځه:** له هغې ښځې سره نكاح كول حرام دي چې د بل چا په نكاح كې وي، الله تعالى ﷻ فرمايي: ﴿وَالْمُحْصَنَاتُ

١ - مسند احمد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿مِنَ النِّسَاء﴾ [النساء: ۲۴] او هغه ښځې هم پر تاسې حرامې دي چې د کوم بل چا په نکاح کې وي.

همدا شان له هغو ښځو سره نکاح جواز نه لري چې هغوی له طلاقه او یا د مېړه له مرگ څخه وروسته د عدت په موده کې وي، خو که چیرې د خاوند له طلاقه وروسته او یا د خاوند له مرگه وروسته عدت یې تېر شو، بیا بل چا ته روا ده چې نکاح ور سره وکړي.

الله تعالي ﷻ فرمايي: ﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوَءٍ وَلاَ يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ﴾ [البقره: ۲۲۸] «کومو ښځو ته چې طلاق ورکړای شوی وي، هغوی دې د درېو حیضونو موده پر انتظار تېره کړي او دا ورته روا نه ده کوم څه چې الله ﷻ د دوی په رحم کې پیدا کړي وي هغه پټ کړي هغوی ته هېڅکله نه ښایي چې داسې وکړي که پر خدای او د آخرت په ورځ ایمان لري».

### له هغو ښځو سره نکاح چې په کوم آسماني دین باور نه لري

د مسلمان سړي لپاره دا روا نه ده چې له مشرکې او بت پرستې ښځې سره نکاح وکړي، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلاَ تَنكِحُواْ الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ وَلأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ﴾[البقره: ۲۲۸] «تاسې له مشرکو ښځو سره هېڅکله نکاح مه کوئ، ترڅو یې چې ایمان نه وي راوړی، یوه مسلمانه وینځه له مشرکې نه ډېره ښه ده، که څه هم چې ستاسې هغه ډېره خوښه وي».

### له کتابیاتو سره نکاح

هغه پاک لمنې ښځې چې په آسماني کتاب ایمان لري لکه یهودي او نصراني ښځې نکاح ورسره جواز لري، الله تعالی ﷻ فرمايي: ﴿وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ وَلاَ مُتَّخِذِي أَخْدَانٍ﴾ [المائدة: ۵] «او پاک لمنې ښځې هم ستاسې لپاره حلالې دي، که هغوی له هغو قومونو څخه چې هغو ته له تاسې نه مخکې کتاب ورکړ شوی و، په دې شرط چې تاسې د هغو مهر ورکړئ په نکاح کې د هغوی ساتونکي اوسئ، نه دا چې په آزادې شهوت رانی لاس پورې کړئ یا په پټه په غلا یاراني وکړئ.»

سره له دې چې له کتابیاتو سره نکاح جواز لري، خو له تنزیهي کراهیت څخه خالي نه ده، او په هغه وخت کې خو تحریمي کراهیت ته رسیږي که همدا کتابي ښځه په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوم پورې اړه ولري چې له مسلمانانو سره يې جګړه روانه وي، يا له هغې سره واده کول ددې باعث وګرځي چې په کفري وطن کې استوګن شي او اولادونه يې د کافرانو په خويونو اخته شي.

### د مسلمانې ښځې نکاح له کافر سره

د مسلمانې ښځې نکاح کول له کافر سړي سره په مطلق ډول حرام دي که هغه يهودي، نصراني، ملحد او يا بل کافر وي، الله تعالی ﷻ فرمايي: ﴿فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ﴾ [الممتحنة: ۱۰] {بيا کله چې تاسې ته معلومه شي چې هغوی مومنې دي، نو هغوی بېرته کافرانو ته مه ليږئ، نه هغوی د کافرانو لپاره روا دي او نه کافران د هغو لپاره روا دي}.

**فعاليت**

ښوونکی دې زده کوونکي په دريو ډلو ووېشي، له يوې څخه د زياتو، د کتابياتو، او کافرو ښځو د نکاح په اړوند دې خبرې وکړي.

### پوښتنې:

۱. موقت محرمات کوم دي؟
۲. له يوې ښځې څخه د زياتو ښځو په نکاح کولو کې کومې خبرې ضروري دي؟
۳. په عدت کې د ښځې نکاح څه حکم لري؟
٤. ايا له هغو ښځو سره چې په آسماني دين باور نه لري نکاح جواز لري؟
٥. له کتابياتو سره د نکاح کولو حکم څه دی؟
٦. ايا له کافر سره د مسلمانې ښځې نکاح جواز لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مُتعه

اسلامي شريعت د انسان د عزت خوندي ساتلو ته ډيره پاملرنه کړې ده، له همدې امله يې صحيحه نکاح چې ارکان او شرطونه يې پوره وي روا ګرځولې او له مؤقتي نکاح څخه چې له زنا سره ورته والی لري منعه کړې ده.

### موقته يا دمُتْعې نکاح

**مُتعه په لغت کې:** اسم مصدر دی چې له تمتع څخه اخيستل شوی او متاع هر هغه شي ته ويل کيږي چې د هغې نه ګټه اخيستله کيږي.

**په اصطلاح کې:** د څه وخت لپاره له ښځې سره واده کولو ته وايي او د نکاح مقاصد په کې مراد نه وي چې هغه اولادونه او د هغوی تربيه ده، بلکې د يوې معلومې مودې لپاره د ګټې اخيستلو او شهوت پوره کولو لپاره وي، هغه داسې چې سړی له ښځې سره د يوې ورځې، يا يوې اونۍ، يا يوې مياشتې او يا يوه کال او يا دې ته ورته وخت لپاره نکاح وتړي.

### د متعې نکاح حکم

د متعې نکاح باطله او حرامه ده، څکه په يوه حديث کې حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي: (نبي کريم ﷺ د مُتعې له نکاح څخه منعه کړيده[1]) او منعه کول د حرمت او بطلان مقتضي ده.

د متعې نکاح د اسلام په اول کې د محدود وخت لپاره روا شوې وه، وروسته بيا باطله او د تل لپاره حرامه وګرځيده، څکه دا له زنا سره ورته والی لري چې بې له شهوت پوره کولو بل مقصد ورڅخه نه اخيستل کيږي، نه د کورنۍ ثبات او ټينګښت، نه د اولادونو راوړل او نه دهغوی ساتنه او دا يوازې د دوامدارې نکاح په صورت کې په لاس راتلای شي.

### د موقتې نکاح او متعې توپير

د موقتې نکاح او متعې تر منځ توپير يوازې په الفاظو کې دی، که يې د متعې لفظ استعمال کړ متعه ده او که يې د معين وخت لپاره د تزويج يا نکاح لفظ وکاراوه موقته ده.

---

[1] (رواه البخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شِغار (بدل) نکاح

### د شغار تعریف

**په لغت کې:** شغار د شَاغَرَ مصدر دی او خالي والي ته وايي، د شغار نکاح هم له عوض څخه چې مهر دی خالي وي.

**او شرعاً:** د شغار نکاح هغه ده چې ولي خپله لور یا خور بل چا ته په دې شرط په نکاح ورکړي چې هغه خپله لور یا خور ده ته د هغې په بدل کې په نکاح ورکړي بې له دې چې مهر یاد کړي، یعني چې یوه نجلۍ د بلې مهر وګرځوي.

### ددې نکاح حکم

په حنفي مذهب کې د غه ډول نکاح تړل له کراهیت سره سره صحت لري او مهر مثل ورباندې لازمیږي.

په حدیث شریف کې چې له شغار څخه منعه شوې، له هغې منعې څخه مطلب تحریمي کراهیت دی، ځکه چې مهر پکې نه دی ایښودل شوی او په کراهیت باندې فساد نه مرتب کیږي.

**فعالیت:**
زده کوونکې دې د خپلو سیمو په هکله معلومات وړاندې کړي چې هلته د شغار نکاح رواج ده که نه او که وي کیفیت یې څه دی؟

## پوښتنې

۱. د متعې نکاح تعریف کړئ.
۲. د متعې نکاح حکم څه دی؟
۳. د مخطوبې د نه غوښتلو حکمت څه دی؟
٤. د شغار نکاح تعریف او حکم یې بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

د مُتعې نکاح د حرمت په هکله د استاد او علماوو په مرسته یوه مدلـلــــه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مهر

کله چې یوه ښځه د چا په نکاح کې راځي، نو د نکاح د عقد له کېدلو سره سم په مېړه مهر لازمېږي چې خپلې ښځې ته به يې ورکوي.

**دمهر تعريف**

مهر هغه مال ته ويل کېږي چې ښځې ته د هغه ورکړه د نکاح د عقد په اساس په سړي واجب ګرځي.

**د مهر مشروعيت**

مهر په قرآن کريم او سنتو سره ثابت دی.

**۱- قرآن کريم:** الله ﷻ فرمايي: ﴿وَآتُواْ النَّسَاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً﴾ [النساء: ٤] «ښځو ته د هغو مهرونه په خوښۍ ورکړئ»

**۲- حديث:** نبي اکرمﷺ يو سړي ته چې د نکاح اراده يې درلوده وفرمايل:

«الْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ»[۱] "مهر ورکړه ولو که يوه اوسپنيزه ګوته هم وي". معنا دا چې د مهر ورکړه حتمي کار دی.

**په نکاح کې د مهر د وجوب حکمت**

له مهر څخه مقصد د نکاح د عقد د اهميت او غوره والي، د ښځې شخصيت ته د عزت او احترام او د نارينه لخوا هغې ته د واده کولو له امله د حسن نيت او صداقت ښکاره کول دي، د نکاح د مصلحتونو او مقاصدو د لاس ته راوړلو لپاره د ښې زمينې برابرول دي، دا مادي تړاو ددوی تر منځ معنوي تړاو ټينګوي.

**مهر د ښځې خپل حق دی**

له ذکر شويو خبرو څخه دا معلومه شوه چې مهر د ښځې خپل حق دی، څه ډول تصرف چې پکې وغواړي کولای يې شي، د هغې ولي ته شرعاً جواز نه لري چې هغه ددې له

۱ - صحيح البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښې پرته ورڅخه واخلي، لکه چې په دې زمانه کې يې پلرونه، اولياء او خپلوان مهر د ځان حق بولي او د هغې حق تلف کوي، الله تعالی ﷻ مېړونو ته په خطاب کې فرمايي: ﴿وَآتُواْ النَّسَاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا﴾ [النساء: ٤] «او د ښځو مهر په ښه زړه (فرض ګڼلی) ورکړئ، البته که هغوی يې په خپله خوښه يو څه تاسې ته وبخښي، نو تاسې هغه په خوند سره خوړلای شئ چې حلال او بې ضرره دی».

### د مهر حکم

د خاوند له لوري ښځې ته مهر ورکول واجب دي.

په نکاح کې مهر نه رکن او نه هم شرط دی، که چا د مهر له يادولو پرته نکاح وکړه نکاح سمه ده او مهر مثل ورکول واجبيږي.

### د مهر اندازه

د مهر کمه اندازه لس شرعي درهمه (چې ۲۹.۷۵ ګرامه سپين زر کيږي) ده او ډېره يې حد نلري، په څومره چې سره راضي شول همغومره خپلی ښځې ته ورکولای شي.

يو شرعي درهم ۲،۹۷۵ ګرامه سره مساوي دي چې ۱۰ درهم په ۲،۹۷۵ ضرب کړای شي ۲۹،۷۵ ګرامه وزن کيږي دغه مجموعي وزن د ورځني قيمت پر اساس معلوميږي.

### څه شی مهر واقع کيدای شي ؟

هر ارزښت لرونکی معلوم شی چې سپارل يې د سړي په واک کې وي د ښځې مهر کيدای شي، که هغه سره زر، سپين زر، بانك نوټونه او دې ته ورته نور شيان وي، ښځې ته يې په مهر کې ورکولای شي.

### کله مهر کامل لازميږي؟

کله چې مهر کيښودل شي، نو په دوو صورتونو کې هغه کامل لازميږي:

۱. يو چې سړی له خپلې ښځې سره يوځای شي.

۲.او بل چې سړی مړ شي.

### د مهر ډولونه

د فقهاوو کرامو په نظر مهر په دوه ډوله دی:

۱- مهر مسمی.

۲- مهر مثل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- مسمی مهر: هغه مهر ته وايي چې په عقد او يا له عقد څخه وروسته د ښځې او خاوند په خوښه وټاکل شي.

۲- مهر مثل: هغه مهر دی چې له دې څخه مخکې د دې واده شوې خور يا تورۍ اخيستی وي، يعنی د پلار په خپلوانو کې چې د دې هم عصروسيالو څومره مهر اخيستی يا ورته ټاکل شوی وي مهر مثل بلل کيږي.

## د مهر مثل د وجوب حالات

په لاندې حالاتو کې مهر مثل واجبيږي.

۱- کله چې په نکاح کې د مهر ذکر نه وي شوی.

۲- کله چې داسې شی مهر ټاکل شوی وي چې هغه شرعاً مال نه وي لکه شراب.

۳- کله چې ښځې او خاوند په عدم مهر باندې اتفاق کړی وي.

## د لږ مهر مستحب والی

مخکې مو وويل د مهر زياته اندازه حد نه لري، په څومره چې د جانبينو موافقه راغله هومره ورکولای شي، دا يو مادي رمز دی چې د ښځې د عزت لپاره ورکول کيږي، همدا شان د ښځو تر منځ هم د صفاتو او درجاتو له مخې توپيرونه وي، خو اسراف کول جواز نه لري او دا مستحب ده چې کم مهر کېښودل شي، رسول الله ﷺ په مهر کې آساني کول د برکت سبب بللی دی فرمايي: «خَيْرُ الصَّدَاقِ أَيْسَرُهُ»[۱] "ښه مهر هغه دی چې کم او آسانه وي". او فرمايي: «أعظم النساء بركة أيسرهن مؤنة»[۲] "هغه ښځې ډيرې برکتي وي چې د واده لګښت يې کم وي.

عام مصلحت هم د مهر د کم والي غوښتنه کوي، په هغه کې هم زوجينو او هم ټولنې ته ډيرې ښېګڼې دي. ډيرې داسې ښځې شته چې د مهر د زيات والي په سبب په کورونو کې ناستې دي او ډير داسې ځوانان شته چې له همدې امله واده نه شي کولای او د ښځې او نر د واده په مخ کې دغه ستونزې کله کله ددې لامل ګرځي چې منکراتو او ناروا کارونو ته مخه کړي.

---

۱ - سنن بيهقی.

۲ - مسند احمد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شریعت روح دا غوښتنه کوي چې باید واده آسانه شـي او ټـول هغـه موانـع لکـه د مهـر زیاتوالی له منځه ولاړ شي، ترڅو ځوانانو ته د واده کولو لار برابره شي.

**فعالیت**

ښوونکی دې زده کوونکې په دريو ډلو ووېشي، څو په خپل منځ کې د مهر د مشروعيت، حکمت، مهر د ښځې حق دی که د ولي او د مهر د ډولونو او د وجوب پـه حـالاتو سـره ځانونه پوه کړي.

## پوښتني

۱. مهرڅه ته وايي؟
۲. د مهر د مشروعيت دليل څه دی؟
۳. په نکاح کې د مهر د وجوب حکمت څه دی؟
٤. آیا مهر د ښځې خپل حق دی.؟
۵. د مهر حکم څه دی؟
٦. د مهر اندازه باید څومره وي؟
۷. څه شی مهر واقع کیدای شي؟
۸. د مهر ډولونه کوم دي؟
۹. مهر مثل کله واجبیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وليمه

لکه چې په مخکې درسونو کې مو ولوستل اسلامي شريعت نکاح رواکړې ده، نو د هغې د اعلانولو لپاره يې وليمه سنت کړې، په دې لوست کې په وليمه غږېږو.

**د وليمې تعريف**

**په لغت کې:** وليمه له ولمه څخه اخيستل شوې چې د يوه شي يو ځای کېدلو او بشپړېدلو ته وايي.

**په شريعت کې:** هغو خوړو ته وايي چې د واده لپاره برابر شي.

**د نکاح د وليمې حکمت**

د وليمې د مشروعيت حکمت دا دی چې له يوه پلوه دوستان په خوښۍ کې راګډ او د الله ﷻ ددې ستر نعمت شکر اداء شي او له بل پلوه ټول خلک په نکاح خبر شي، تر څو د روا نکاح او ناروا او پټو يارانو تر منځ بيلتون راشي.

**د وليمې حکم**

وليمه سنت مؤکد ده، ځکه رسول الله ﷺ عبد الرحمن بن عوف ته چې کله يې واده وکړ وفرمايل: «أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ»[1] "د واده ډوډۍ ورکړه ولو که يو پسه وي هم".

**د وليمې دعوت منل**

د وليمې دعوت منل سنت دي، مسلمان ته پکار دي چې ګډون پکې وکړي، په خپل ګډون سره خپل مسلمان ورور ته خوښي وروښيي او که ورنه شي ګنهګارېږي، په يوه حديث کې رسول الله ﷺ فرمايي: «وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ»[2]

" څوک چې بلنه ونه مني، نو د الله او د هغه د رسول نا فرماني يې وکړه.

«إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى وَلِيمَةِ عُرْسٍ فَلْيُجِبْ»[3] "څوک چې د واده خوړې ته وبلل شي، نو پکار ده چې هغه بلنه ومني او ګډون دې پکې وکړي".

---

١ – صحيح البخاری.

٢ – صحيح مسلم.

٣ – صحيح مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه ولیمه چې منکرات پکې وي**

که د ولیمې په مجلس کې منکرات او ناروا کارونه (لکه ناروا سازونه، ګډا او نڅاوې ترسره کیدل) وي بیا د دعوت قبلول پکار نه دي، ځکه د دعوت قبلول او په کې ګډون کول پداسې حال کې سنت دي چې په هغې کې منکرات نه وي.

که چیرې له منکراتو او ناروا کارونو څخه خبر نه وي او ګډون پکې وکړ، نو که یې د هغو مخه نیولای شوای مخه دې ونیسي او ګډون دې وکړي او که یې مخه نشوای نیولای بیا دې په دسترخوان ورسره نه کیني.

**دواده او ولیمې په وخت کې باید دا لاندې ځینې آداب رعایت شي:**

۱. له اسراف څخه دې ډډه وشي، ځکه مال د الله تعالی نعمت دی باید په مناسب ځای کې ولګول شي، د تفاخر، ریا او لویي ښکاره کولو لپاره د مال لګول د ګناه لامل جوړیږي.

۲. په واده کې د نامحرمو نارینه او ښځینه وو ترمنځ اختلاط او ګډ وډ کیدل ناروا دي، اسلامي حجاب ته پاملرنه په هر وخت کې لازمه ده، که پاملرنه ونشي، کیدای شي چې ډول ډول فسادونه رامنځ ته شي.

۳. واده د خوښۍ ځای دی، خو دا خوښي باید په ناروا چارو سره ونه لمانځل شي.

۴. ولیمې ته که مالداره خلک غوښتل کیږي، باک نه لري، خو فقیران هم باید له خوراک څخه بې برخې نه شي. په یوه حدیث کې چې له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی رسول اللهﷺ فرمایي

«شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ يُدْعَى لَهَا الأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ»[۱] "په خوړو کې بد خواړه د هغې ولیمې دي چې بډای او مالداره خلك ورته غوښتل کیږي او فقیران پرېښودل کیږي".

۵. په مسجد کې د نکاح تړل سنت دي په دې هکله رسول الله ﷺ فرمایي: «أَعْلِنُوا هَذَا النِّكَاحَ وَاجْعَلُوهُ فِي الْمَسَاجِدِ»[۲]

تاسو دغه نکاح په ښکاره ډول او په مساجدو کې تر سره کړئ.

---

۱ – صحیح البخاري

۲ – السنن الکبری للبیهقي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فعالیت**

زده کوونکې دې په خپل منځ کې وڅېړي چې ددوی په سیمو کې دودیزه ولیمه څومره له شریعت سره برابره ده؟

## پوښتنې

۱. ولیمه تعریف کړئ.

۲. د نکاح د ولیمې حکمت بیان کړئ.

۳. د ولیمې حکم څه دی؟

٤. آیا د ولیمې دعوت منل پکار دي او که وي ولې؟

٥. آیا هغې ولیمې ته چې منکرات پکې وي ورتگ پکار دی؟

٦. د ولېمې په وخت کې کوم آداب پکار دي؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د ودونو د هغه دودونو په هکله چې د شریعت سره مخالف دي، یوه مقاله ولیکي چې د پنځلسو کرښو څخه کمه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښځې او خاوند حقوق

اسلامي شريعت د واده په ترسره کیدلو د ښځې او د هغې د خاوند ترمنځ ځينې حقـوق او واجبات ټاکلي دي چې د هغو په پام کې نیول لازمي دي چې په دې لوست کې وړانـدې کيږي.

## د ښځې حقوق په خاوند باندې

ښځه په خاوند باندې دا لاندې حقوق لري:

۱- مهر ورکـول: کلـه چـې د نکـاح عقـد تـر سـره شـو پـه خاونـد بانـدې مهـر لازمېږي، الله تعالی ﷻ فرمايي: ﴿وَآتُواْ النَّسَاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً﴾ [النساء: ۴] "او د ښـځو مهـر پـه ښـه زړه (فرض ګڼلی) ورکړئ".

۲- نفقه: چې کله ښځه د سړي په نکاح کې راشي، نو په خاوند دا حق لري چې د هغې نفقه برابره کړي. نفقه خوراک، جامې او د اوسیدو ځای تـه وايـي، الله تعـالی ﷻ فرمـايي: ﴿أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ﴾ [الطـلاق: ٦] "هغـو تـه (دعدت په زمانه کې) په هماغه ځای کې استوګنه ورکړئ چیرته چې تاسې اوسيږئ، هر راز ځای چې تاسې ته میسر وي او د هغو د تنګولو لپاره هغوی مه ځوروئ، نـو چـې لـه طلاقـه وروسته په عدت کې وربانـدې نفقـه لازمـه ده، د نکـاح پـه حالـت کـې پـه طریقـه اولـی وربانډې لازمه ده، ځکه ښځه د خاوند د اړتیاوو لپاره خپل ژوند ځـانګړی کـړی دی، نـو نفقه يې هم وربانډې لازميږي.

الله تعالی فرمايي: ﴿لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا﴾ [الطلاق: ۷] «شتمن دې لـه خپلـې شـتمنۍ سـره سمه نفقه ورکړي او چاته چې روزي کمه ورکړه شوې وي هغه دې له هماغـه مـال څخـه لګښت وکړي چې الله ﷻ هغه ته ورکړی دی، الله ﷻ چې چاته څومره څه ورکړي دي له هغې نه په زیاتو هغه نه مکلفوي، ليرې نده چې الله له تنګلاسی نه وروسته پراخي هم ورپه برخه کړي».

او د نفقې اندازه د کفايت او د خاوند د مالي قدرت او توان مطابق ده چې اسراف پکې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د هغې ښځې نفقه چې کار کوي**

اسلام ښځه په دې نه ده مکلفه کړې چې کار وکړي، ځکه هغه د نفقې په پیدا کولو مکلفه نه ده، بلکې د هغې نفقه په بل چا ده، که لور وي پلار یې په نفقه مکلف دی، که خور وي ورور یې په نفقه مکلف دی چې وس یې ولري، که مور وي، نو اولادونه یې په نفقه مکلف دي چې د نفقې وس ولري او که ښځه وي نو خاوند یې په نفقه مکلف دی، خو سره له دې هم اسلام ښځې ته کار کول روا کړي دي، **خو په لاندې شرطونو مقید:**

**أ-** که واده شوې ښځه وي د مېړه لخوا به ورته د کار کولو اجازه شوې وي.

**ب-** له پردیو نارینه وو سره به یې اختلاط او خلوت نه راځي.

**ج-** کار به د ښځیتوب له طبیعت سره برابر وي، لکه خیاطي، تعلیم، ډاکتري او دې ته ورته، دولت او ټولنه مکلف ده څو ښځې په شاقه کارونو ونه ګماري.

نو داسې کارونه ورته جواز نه لري چې هغه د سړیو له سخت طبیعت سره مناسب وي، تر څو یې له هغو سره مشابهت را نشي.

او هغه مال چې ښځه یې پیدا کوي هغه د هغې مال دی، یوازې همدا یې د تصرف حق لري، مېړه او نور حق نه لري چې هغه ددې له رضا پرته یې ورڅخه واخلي.

**۳- احسان او په نیکی سره ژوند کول:** ښځه له سړي سره د الله تعالی امانت دی، دده په سترګو دده کورته راغلې ده، نو په خاوند واجب ده چې له خپلې ښځې سره ښه سلوک او ښه چلند وکړي، ترڅو په محبت او نیکمرغی سره ګډ ژوند تېر کړي، الله تعالیﷻ فرمایي: ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا﴾ [النساء: ١٩]

«له هغو سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ که ستاسې هغوی نه خوښیږي، نو کېدای شي چې ستاسې به یو شی نه خوښیږي، خو اللهﷻ به په هغه کې ډېرې ښېګڼې ایښې وي».

په یوه حدیث شریف کې رسول اللهﷺ فرمایي:

«أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا، وَخَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لأَهْلِهِ»[1] ″د کامل ایمان څښتن هغه دی چې اخلاق یې ښه وي او ښه تاسو کې هغه دی چې له خپل اهل سره ښه وي″.

١ - متفق علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د حسن معاشرت ځینې موارد په لاندې ډول دي:**

• سړی دې دښځې په خطا ګانو باندې صبر کوي، په حدیث کې راغلي چې رسول اللهﷺ وفرمایل: «لاَ يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِىَ مِنْهَا آخَرَ»[1] "مؤمن سړی دې له خپلې مؤمنې ښځې څخه بد نه وړي، کینه دې نه ورسره کوي، که یې دهغې کوم خوی خوښ نه وي بل به یې ورڅخه خوښ شي".

• د ښځې په نفقې کې دې وسعت کوي او د سوغاتونو په وړاندې کولو دې یې کله کله نازوي، په حدیث کې راغلي چې سوغات د زړه کینه له منځه وړي.

• له خپلې ښځې سره دې خوش طبعي او خوش کلامې کوي، د احادیثو له مخې دا ثابته ده چې رسول الله ﷺ به له خپلو مېرمنو مطهراتو سره خوش طبعي کوله.

• خپلې ښځې ته ددیني امورو ورښودل، ترڅو ښځې له ضروري مسایلو څخه خبرې شي او د هغو په رڼا کې د ژوند چارې په شرعي توګه پر مخ بوځي، الله تعالیﷻ فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ﴾ [التحریم: ٦]

"اې مؤمنانو! خپل ځانونه او خپل اولاد او کورنۍ له هغه اور نه وژغورئ چې د هغه د سون مواد به انسانان او تیږې وي".

• د کور په کارونو کې دې ورسره مرسته کوي، له عایشې رضی الله عنها څخه روایت راغلی چې نبي کریمﷺ به دکور په کارونو کې ورسره مرسته کوله.[2]

• د شریعت د لارښوونو مطابق د ښځو تر منځ عدالت کول، که یې له یوې څخه زیاتې ښځې درلودې.

که سړی موجه عذر ونه لري، نو تر ځلور میاشتې زیات دې له خپلې ښځې څخه نه جلا کیږي، حضرت عمر رضي الله عنه یوه شپه په مدینه منوره کې د حالاتو دڅارنې لپاره ګرځېده، چې دیوې ښځې غږ یې واورید، د کومې چې مېړه جهاد ته تللی و، ښځې یې د مېړه د فراق له کبله شعرونه ویل او شکایت یې کاوه.

نو حضرت عمر رضی الله عنه له خپلې لور بي بي حفصې رضی الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې یوه ښځه څومره صبر کولای شي؟ هغې مبارکې ورته وویل: څلور میاشتې، نو حضرت عمر رضی الله عنه خپلو لښکرو ته امر وکړ چې له څلورو میاشتو څخه زیات دې له کوره نه لېرې کیږي او که تر څلورو میاشتو زیاته موده مضره نه وای، نو الله تعالی به په ایلاء کې د ښځې او خاوند تر منځ جلا والی روا نه ګرځاوه.

---

١ - صحيح مسلم.

٢ - صحيح البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امام مالك رحمه الله او امام احمد رحمه الله په وړاندې په څلورو مياشتو کې بايد سړی کور والاته راشي. دا راتګ هلته لازم دی چې په سفر کې عذر ونه لري، نو که عذر ولري لکه دعلم زده کړه، جهاد، فرضي حج او يا د رزق پيدا کول، نو بياپې راتګ لازمي نه دی.

**فعاليت**

زده کوونکې دې دا واضح کړي چې ددوی په سيمو کې د ښځو خاوندان له خپلو ښځو سره تر کومې کچې حسن معاشرت مراعاتوي؟

## پوښتنې

۱. لاندې حقوق چې ښځه يې په خاوند لري په تفصيل بيان کړئ:

أ- ښځې ته مهر ورکول.

ب-ښځې ته نفقه برابرول.

ت-له ښځې سره احسان او نيکي کول.

۲- نفقه برابرول د سړي مکلفيت دی، خو که ښځه کار کول وغواړي کولای يې شي که څنګه؟

۳- که ښځه څه وګټي خاوند يې له نفقې خلاصيدای شي؟

۴- په حسن معاشرت کې کومې خبرې شامليږي؟

## کورنی دنده

د ښځې د حقوقو په هکله يوه مقاله وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خاوند حقوق په ښځې باندې

**خاوند په خپلې ښځې باندې دا لاندې حقونه لري**

**١ – د خاوند تابعداري:** اسلام پـه ښـځې بانـدې دمېږه اطاعـت پـه هغـو چـارو کـې چـې شريعت رواکړي او ګناه په کې نه وي واجب ګرځولی دی. ځکه کورنی د انساني ټـولنې يوه برخه ده او د وګړو مجموعه چې په هره سطحه وي، لکـه ښـوونځی، دفتـر، کارخانـه، شرکت او حکومت يو مشر او سرپرست ته اړتيا لري، نو سړی چې له يوه پلوه له جسمي او ذهني پياوړتيا څخه برخمن دی او له بل لوري د ژوند په عملي ډګر کې تل پـه تمـرين او تجربو کې قرار لري، د الله تعالی له لوري د کورنۍ مشر ټاکل شوی. همدا راز نارينـه د کورنۍ تمويل کوونکی دی. د ټولو د نفقې بار دده په اوږو پروت دی، ځکه بايد ښځه او اولادونه د هغه اطاعت وکړي. الله تعالیﷻ فرمايي: ﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ﴾ [النساء: ٣٤ ] «نارينـه پـر ښـځو واکمـن، اداره چيـان دي، له دې امله چې اللهﷻ د هغو ځينو (نارينه وو) ته پر ځينو نورو (ښځو) لوړتيا وربښلې ده او له دې کبله چې نارينه خپل مالونه لګوي».

په يوه حديث کې رسـول الله ﷺ فرمـايي: «إِذَا صَلَّتْ الْمَرْأَةُ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَحَفِظَتْ فَرْجَهَا وَأَطَاعَتْ زَوْجَهَا قِيلَ لَهَا ادْخُلِي الْجَنَّةَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شِئْتِ» [١]

" کومه ښځه چې خپل پنځه لمونځونه په خپل وخت اداء کړي، د روژې د مياشتې فـرض روژه ونيسي، خپل د شرم ځای وسـاتي (لـه زنـا څخـه ځـان وژغـوري) او د خپـل خاونـد اطاعت وکړي، نو دې ته به وويل شي: له هـرې دروازې د جنـت چـې غـواړې جنـت تـه ورداخله شه".

په يوه بل حديث کې حضرت عايشې رضی الله عنها له رسـول اللهﷺ څخـه پوښـتنه وکـړه چې په ښځو باندې تر ټولو زيات حق کوم خلـک لـري؟ دوی ﷺ وفرمايـل: دهغـې مېـړه، بيايې پوښتنه وکړه: کوم خلک په نارينه ډېر حقدار دي، ويې فرمايل: د هغه مور. [٢]

---

١ – مسند أحمد.

٢ – السنن الكبرى للنسائي – (٨ / ٢٥٤)– فتح الباري – ابن حجر – (١٠ / ٤٠٢).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲- په کورکې پاتې کيدل او بې ضرورته د خاوند له اجازې پرته له کور ځخه نه وتل:**

خاوند په ښځې باندې دا حق لري چې دده له اجازې پرته له کور څخه بهر ولاړه نه شي، تر څو هغه دکور کار او د اولادونو تربيې ته فارغه او په فتنو کې له لويدلو څخه محفوظه وي، الله تعالی ﷻ فرمايي: ﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى﴾ "په خپلو کورونو کې مېشتې اوسئ او د تېرو جاهلي دورو غوندې سينگار کړې بې ستره مه گرځئ".

د سرپرستې دا معنا نه لري چې دوی به استبداد کوي، بلکې په گډو چارو کې به مشوره کيږي، د هر نظر خاوند به په کور کې پوښتل کيږي، له تصميم نيولو وروسته به ټول د کور د مشر اطاعت کوي.

**۳- د خاوند د عزت، کور، مال او اولادونو حفاظت او پالنه**

خاوند په خپلې مېرمنې باندې دا حق لري چې دده د کور، مال او اولادونو ساتنه او پالنه وکړي، نبي کريم ﷺ فرمايي: (ښځه د خاوند د کور او اولادونو پالونکې او مسؤوله ده)[۱]

او الله تعالی ﷻ د صالحو ښځو په هکله فرمايي: ﴿فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ﴾ [النساء: ۳٤] "نو کومې ښځې چې صالحې دي هغوی د فرمان منونې خوی لري او د نارينه وو په غياب کې د الله ﷻ تر ساتنې او څارنې لاندې د هغو د حقوقو ساتنه کوي".

په يوه حديث کې رسول الله ﷺ فرمايي: «المرأة الصالحة، إذا نظر إليها سرَّته، وإذا أمرها أطاعته، وإذا غاب عنها حفظتْه»[۲] "نيکه ښځه هغه ده چې کله (يې خاوند) ورته وگوري خوښ يې کړي چې امر ورته وکړي وېې مني او چې ورځخه پناه شي، نو (په هر څه کې) دده ساتنه کوي".

په ښځه د ديانت له مخې دا لازمه ده چې په ځان اعتماد ولري، د کور کار په خپله وکړي او د دې کوښښ وکړي چې خادمه ځان ته ونه نيسي، ځکه په کور کې ددې له خاوند او اولادونو سره د خادمې يوځای اوسېدل کله کله د مصيبتونو سبب گرځي، رسول کريم ﷺ د خپلې لور فاطمې بي بي او د هغې دخاوند حضرت علي کرم الله وجهه

---

۱ - صحيح مسلم.

۲ - سنن أبی داود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر منځ دکار وېش داسې وکړ چې فاطمي رضی الله عنها ته يې وفرمايل: ته به د کور دننه کار او حضرت علي کرم الله وجهه به دکور د باندې کارونه کوي.[1]

**٤- د سړي لپاره زينت کول:** د مېړه په ښځه دا حق دی چې ښځه يې، په ښايسته او ښه بڼه چې دده د خوښۍ سبب شي ورته ښکاره شي، تر څو د دوی ترمنځ مينه پيدا شي. رسول کريم ﷺ فرمايي: «الدُّنْيَا مَتَاع، وخَيْرُ مَتَاعِهَا المرْأةُ الصَّالحةُ، إنْ نَظَرَ إلَيْها سَرَّتْهُ، وإنْ أَمَرَهَا أَطَاعَتْه، وإنْ غَابَ عَنْها حَفِظَتْه في نَفْسهَا وَمَالِهِ»[2]. "دنيا متاع(ناچيزه شی) ده چې ګټه ورڅخه اخيستل کيږي او د دنيا ښه متاع او ښه شی صالحه او نېکه ښځه ده چې سړی ورته وګوري خوشحاله شي او چې ورته امر وکړي، نو اطاعت يې کوي او چې کله ورڅخه چيرته ولاړ شي، نو د خپل ځان او دده د مال ساتنه کوي".

**د ښځې او خاوند ګډ حقوق**

**١- دواړه به له يو بل** سره په نيکۍ کې ژوند کوي، يعنې ښه او خوښ ژوند به تېروي، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾ [النساء: ١٩]

**ژباړه:** له هغو سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ.

او فرمايي: ﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾ [البقرة: ٢٢٨] "د ښځو لپاره هم په معروفه توګه هماغسې حقوق دي لکه څنګه چې د نارينه وو پر هغو حقوق دي".

**٢- چې څه شرعي مانع** لکه حيض، نفاس او مرض نه وي د بشري طبيعت د غوښتنې مطابق له يو بل څخه مشروع خوند او ګټه اخيستل.

**٣- د کور دننه کارونه کول،** د ماشومانو پالل، يو له بل سره مرسته کول او يو بل ته په نيکۍ او تقوی نصيحت کول، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ [المائدة: ٢]

ژباړه: کوم کارونه چې د نيکۍ او خدای پالنې دي په هغو کې له ټولو سره مرسته وکړئ او کوم کارونه چې د ګناه او تېري وي په هغو کې د چا ملاتړ مه کوئ.

**٤- د وراثت حق:** زوجينو ته شرعاً د وراثت حق ثابت دی، کله چې يو له دوی څخه مړشي بل ورڅخه ميراث وړي.

---

١ – مشكاة المصابيح.

٢ – سنن ابن ماجه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فعالیت**

زده کوونکي دې په دریو ډلو وویشل شي او په خپلو منځونو کې دې په لاندې موضوعاتو بحث وکړي:

۱. په ښځه تر کومه حده د خاوند تابعداري لازمه ده او دلیل یې څه دی؟
۲. په حدیث کې د نیکې ښځې صفت څه ښودل شوی دی؟
۳. د ښځې او خاوند ګډ حقوق کوم دي؟

**پوښتنې**

۱.هغه کومې چارې دي چې ښځه به پکې د خپل خاوند اطاعت کوي؟
۲.آیا ښځه پرته له اړتیا او د خاوند له اجازې پرته له کوره د باندې وتلای شي؟
۳.آیا خاوند په ښځې دا حق لري چې د هغه دکور، مال او اولادونو ساتنه او پالنه وکړي؟
٤.آیا خاوند په ښځې دا حق لري چې د هغه لپاره زینت وکړي؟
٥.د ښځې او خاوند ګډ حقوق کوم دي؟

**کورنۍ دنده**

د خاوند د حقوقو په هکله یوه مقاله له دلایلو سره ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حجاب

اسلام د فطرت دين دى او په خپلو احکامو او لارښوونو کې يې د انسان جسمي او روحي سلامتيا ته پاملرنه کړې، جامې او پرده يو له هغو موضوعاتو څخه ده چې اسلامي شريعت ورته پام اړولی. اسلامي شريعت نارينه او ښځينه مسلمانانو ته په ټولو حالتونو کې په ځانګړي ډول بهر ته د وتلو او عامو ځايونو ته د ورتګ په وخت کې په پردې کولو او د حياء په ساتلو امر کړی.

لکه څنګه چې نارينه نشي کولای د عورت د پټولو پرته يا هم د حياء او عفت څخه مخالف په کاليو په عامو ځايونو کې څرګند شي، ښځې هم مکلفي دي چې له کور څخه د وتلو، په عامو ځايونو کې د څرګندېدو او د نامحرمو خلکو سره د مخامخ کيدو په مهال شرعي حجاب او پرده مراعت کړي.

**دحجاب تعريف**

**حجاب په لغت کې:** ستر او پټوالي ته وايي.

**په شريعت کې:** دې ته وايي چې ښځه خپل عورت پټ کړي، د خپل نظر حفاظت وکړي، له نارينه وو سره له بې ځايه اختلاط او له پرديو سره له خلوت څخه ځان وساتي.

**د حجاب حکم**

قران کريم او نبوي سنت د حجاب په هکله ځانګړې لارښوونې لري: الله تعالی فرمايي:

**﴿وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاء وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾** [النور: ٣١]

" او اې پيغمبره! مؤمنو ښځو ته هم ووايه چې خپل نظرونه ښکته ساتي او د خپلو شرمځايونو ساتنه کوي او خپل ښايست او سينګار دې نه ښکاره کوي، مګر هغه چې ښکاره وي (مخ او دلاسونو او پښو پنجې) او پر خپلو سينو دې خپل پړوني واچوي او خپل سينګار دې نه ښکاره کوي هېچاته، خو خپلو مېړونو ته، پلرونو ته، دمېړونو پلرونو ته، زامنو ته، دمېړونو زامنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(بنزيانو) ته، ورونو ته، وريرونو ته، خوريونو ته، خپلو اصيلو ښځو ته، خپلو مرييانو ته، خپل هغه لاس لاندې نارينه وو ته چې شهوت والا نه وي او هغو ماشومانو ته چې لاتر اوسه پورې د ښځو له پټو خبرو سره آشنا شوي نه وي او هغوی دې خپلې پښې دومره په زوره نه وهي چې دهغوی پټې کړې سينګار خلکو ته ښکاره شي او اې مؤمنانو! تاسې ټول په ګډه سره الله ﷻ ته توبه وباسئ، ښايي چې برى درپه برخه شي"

**بل ځای فرمايي**

﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾ [الأحزاب: ٥٩]

{اې پيغمبره ! خپلو مېرمنو او لوڼو او د مؤمنانو ښځوته ووايه چې پر خپل ځان باندې د خپلوټکريو پلوونه خواره کړي. دا ډېر مناسب کار دی، ترڅو چې هغوی وپېژندلی شي او ونه ځورول شي او الله تعالی غفور او رحيم دی}.

**د سنت نبوي دليل:**

حضرت عايشه رضي الله عنها وايي چې: «لَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يُصَلِّي الْفَجْرَ, فَيَشْهَدُ مَعَهُ نِسَاءٌ مِنْ الْمُؤْمِنَاتِ , مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ ثُمَّ يَرْجِعْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ , مِنْ الْغَلَسِ»[١]

"د سهار په لمانځه کې به له رسول الله ﷺ سره مؤمنو ښځو هم ګډون کاوه، په داسې ډول چې په خپلو حجابونو کې به سر تر پايه پټې وې، بيا به بېرته کورونو ته ستنېدلې، د جامې ديټ والي او د سهار د اول وخت د تيارې له امله به چا نه پېژندلې چې نارينه دي که ښځينه".

په يوه بل حديث شريف کې رسول الله ﷺ بي بي اسماء رضی الله عنها ته چې باريکې جامې يې اغوستې وي وفرمايل: «يَا أَسْمَاءُ إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ لَمْ يَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلاَّ هَذَا وَهَذَا وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وَكَفَّيْهِ»[٢].

" اې اسماء! ښځه چې حيض ته ورسيږي (بالغه شي)هغې ته پکار نه دي چې دبدن کومه برخه يې ښکاره شي، له دې او له دې څخه پرته، مخ او دواړو لاسونو ته يې اشاره وکړه".

---

١ – صحيح البخاری.

٢ – سنن الكبری للبيهقی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پورته قرآني او نبوي لارښوونو څخه په ډاګه څرګندیږي چې حجاب ته پاملرنه د هرې مسلمانې ښځې لازمي دنده ده، همدغه راز په سړیو واجب ده چې پردیو ښځو ته له ضرورت پرته ونه ګوري او د تهمت له ځایونو څخه لیرې وګرځي.

**د حجاب د مشروعیت حکمت**

د محمدي شریعت د اخلاقو له مکارمو څخه یو هم حیاء ده، رسول الله ﷺ هغه د ایمان جز او یوه برخه بللې ده او هغه حیاء چې شرعاً او عرفاً یې په کولو امر شوی دی هغه داده چې ښځه باید دداسې اخلاقو خاونده وي چې هغه یې له فتنو او د شك له ځایونو څخه لیرې وساتي، په دې خبره کې کوم شك نشته چې د حجاب مراعاتول او د محجب لباس اغوستل هغه اخلاق او ګاڼه ده چې د بې حیا خلکو له تېري او نورو فتنو څخه یې خوندي ساتي، نو حجاب د ښځې مصؤنیت دی نه محرومیت.

د حجاب مراعاتول یوازې په مېړه او ښځه پورې د جنسي اړیکو او د هغو د مقدماتو محدودولو لاره ده او د ټولنې له نفسیاتي سلامتیٔ سره ډیره مرسته کوي، د مېړه او ښځې تر منځ د بشپړ صمیمیت د پیدا کیدلو سبب کیږي او یو د بل په وړاندې د ارزښت د لوړیدو باعث جوړیږي.

د حجاب رعایت په ښځو باندې لازم کړای شوی دی، نه په سړو باندې، دا پدې خاطر چې ښځه نظر په بدني جوړښت سره تل د سړي مرغوبه او د مینې د غوښتلو مورد ده.

په ښځه کې همدا فطري زړه راښکون او کششددې سبب کیږي، ترڅو سړی د ښځې طلب کوونکی او غوښتونکی شي، ددې علمي او فطري حقیقت په نظر کې نیولو سره، اسلام د واقعي او فطري دین په حیث ښځې په دې مکلفې کړې دي چې خپل بدنونه د پردو نامحرمو سړو څخه پټ کړي، ترڅو د ناپاکو نظرونو مخ څخه محفوظې او امن کې وي، له همدې امله حجاب د ښځو په حق کې یو درناوی او عزت دی نه تبعیض او محدودیت.

**دحجاب د احکامو شرحه**

**د شرم د ځایونو د ساتنې امر**

الله تعالیٰ ﷻ ښځو ته د خپلو شرم ځایونو د ساتنې امر کړی دی، حجاب او ځان پټول د هغو د ساتنې وسیله ګرځي، ځکه د عورت لوڅول ددې سبب کیږي چې سړي ورته وګوري په هغو کې فکر وکړي او خوند ورڅخه واخلي، بالاخره له دې لارې انسان زنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

او فحشاء ته لار پیدا کوي. رسول الله ﷺ فرمايي: "سترګې هم زنا کوي او د هغو زنا کتل دي، تر دې چې فرمايي: "او فرج بیا یا د هغو تصدیق او یا تکذیب کوي".
په تېر شويو آيتونو کې سړي په دې مامور شوي دي چې خپلې سترګې ښکته، ځان له فواحشو لیرې وساتي او ښځې هم د سړيو په شان همداسې ماموري دي.

**د سترګو ښکته ساتل**

نر او ښځې ته لومړنی امر د سترګو د ښکته ساتلو شوی دی او له ښکته ساتلو څخه مقصد د زنا له مقدماتو څخه د سترګو ساتل دي چې په احاديثو کې يې بيان راغلی دی، لکه چې د ښځو له لوري سړو ته کتل ښځو ته د فتنې لامل دی، همدا شان د سړيو له لوري ښځو ته کتل او د هغو له جمال څخه خوند اخيستل د سړيو لپاره د فتنې او فساد منبع ده، نو د شريعت حکم دا دی چې که نظر تصادفي وي هغه ګناه نه لري، خو د دويم ځل او خوند لپاره کتل منعه دي.
په يوه حديث کې رسول اللهﷺ فرمايي: «څوک چې د ښځو محاسنو او ښايست ته ګوري، الله تعالی به د قيامت په ورځ د هغه په سترګو کې سرپ واچوي»[1]
نو اسلامي شريعت د جمال او ښايست ذوق محوه کول نه غواړي، بلکې غواړي چې سړی دې ځان ته يوه ښځه غوره کړي چې خوښه يې وي هغه په نکاح کړي او هغه د توجه او ذوق مرکز وګرځوي او د هغې له ښايست څخه دې خوند واخلي، او له نورو خواوو څخه دې ځانونه وساتي چې د خپلې ښځې په ځای په بل لوري وانه وړي او په فحشا او نارواوو کې ونه لوېږي.

**د زينت له ښکاره کولو څخه منعه**

د سترګو د ښکته ساتلو حکم هم نارينه وو او هم ښځو ته شوی دی، خو اجنبي ته د ښکلا ښکاره کول ښځې ته حرام ګرځول شوي دي، ځکه د ښځې بدن پرته له مخ او لاسونو ټول عورت دی چې پرديو سړيو ته يې ښکاره کول جواز نه لري.

**هغه زينت چې ښکاره کولای شي**

هغه زينت چې ښکاره کولای يې شي، هغه په معين چوکاټ کې دی چې هغه د جامو، لاسونو، مخ، سترګو رنجو، نکريزو، زيوراتو لکه د لاس د ګوتو زينت دی او ددې زينت

---

۱ - سنن ابی داود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکارول هغو کسانو ته جواز لري چې له هغو سره يې نکاح د ابد لپاره حرامه وي، او يا هغه ماشومان او لاس لاندې چې له جنسي مسايلو سره مينه نه لري.[۱]

له نومړو سړو پرته هېڅوک ددې حق نه لري چې د ښځې زينت ته وګوري، حتى ښځو ته د دې ممانعت دی چې د تګ په وخت کې خپلې پښې په داسې زور سره ووهي چې د هغوی د زيوراتو غږ څرګند شي او د خلکو د پاملرنې سبب شي لکه چې مو وويل د زينت ښکاره کول په يوه محدود او کوچني چوکاټ کې دي او هغه دا دی چې له ارادې پرته ښکاره شي.

ښځه خپل ظاهري زينت خپلو هم جنسو ښځو ته ښکاره کولای شي، خو که ښځه ناپيژندل شوې وي او يا د بد شهرت خاونده او يا شک منه وي هغو ته هم د ذکر شوي زينت ښکاره کول پکار نه دي چې د روايتونو له مخې د فتنې سبب کېږي.

### د عورت پټوالی

د عورت پټول که هغه په لمانځه کې وي او که له لمانځه څخه بهر وي له ديني فرايضو څخه دي، حتى که هېڅوک هم نه وي بايد چې عورت يې پټ وي، په يوه حديث کې يوه صحابي له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله که موږ يوازې يو څه به کوو؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: الله تعالى تر ټولو ددې حق دار دی چې خلک ورڅخه حيا وکړي.[۲]

### د عورت پټولو مسايل

۱. د ښځو او سړيو يو بل ته بې ضرورته بيا بيا کتل جواز نه لري، بلکې يوازې لومړی کتل روا دي، خوکه ضرورت و لکه د ګواهۍ په وخت کې، يا د مرض ځای ته د ډاکټر کتل روا دي.

۲. نا محرمو سړيو ته د ښځې له مخ، لاسونو او پښو څخه پرته ټول بدن عورت دی.

---

۱ - تفسير ابن کثير.

۲ - سنن الترمذی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. محرمو سړیو ته یې له نامه تر ځنګنو، خیټه او شا عورت دی. یعنې مخ، سر او وېښتانو ته یې کتل جواز لري. د مخ، سر، سینې (ګرېوان) لینګو، مټو او وېښتانو ته د نارینه محارمو کتل، ځکه جواز لري چې دغه ځایونه د ګاڼو د ځړولو ځایونه دي.[۱]

٤. سړی د خپلې ښځې ټول بدن ته کتلای شي او هم یې مسه کول ورته جواز لري.

٥. یوه ښځه د بلې ښځې له عورت څخه پرته ټول بدن ته کتلای شي او له نامه تر زنګنونو(خیټه او شا هم پکې شامل دي) عورت دی چې کتل ورته جواز نه لري. خو ډاکتره ښځه د ښځې فرج ته د ضرورت له مخې کتلای شي.

٦. د سړیو عورت د ښځو او نارینه وو په حق کې له نامه څخه تر ځنګنونو پورې دی.

٧. د ښځو لپاره د چسپو جامو کارول چې د بدن لوړ او ټیټ ځایونه یې ورڅخه څرګند شي جواز نه لري، که څه هم لمونځ ورسره کیږي، ځکه حجاب ته پاملرنه په پراخو جامو سره کیږي.

باید په پام کې ولرو چې د اسلام مبارک دین د پردې حکمونه د ټولنې د سلامتیا او خوندیتوب لپاره ایښي او موخه یې له هر ډول اخلاقي او ټولنیزو مفاسدو مخنیوی او د یوې پاکې او سالمې ټولنې رامنځ ته کول دي، د ښځو له خوا د پردې مراعاتول، د سړو له خوا په جامو او ناسته ولاړه کې د حیاء او ټولنیزو ادابو مراعاتول هېڅکله په انسانانو کې د محدودیت او بندیز لګولو په معنا نه وي.

دا حکمونه نه یوازې دا چې د ټولنې د پرمختګ مخه نه نیسي، بلکې د ټولنې د روحي او جسمي آرامۍ او ډاډ لامل کیږي او د ټولنې ودې او پرمختګ ته لاره هواروي.

## پوښتني

۱. حجاب تعریف کړئ.

۲. حجاب مراعاتول څه حکم لري؟

۳. د حجاب د مشروعیت حکمت څه دی؟

٤. د حجاب په احکامو کې کومې خبرې ضروري دي؟

٥. ښځه کوم زینت ښکاره کولای شي؟

---

[۱] _ الاختیار لتعلیل المختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښځې او مېړه د ستونزو د حل لارې

د انساني طبیعت له مخې کله کله د ښځې او خاوند تر منځ ستونزې او غلط فهمي پیدا کیږي، اسلام د هغو د حل لارې موږ ته ښودلې دي.

**د نېکمرغه مسلمانې کورنۍ اصلي انځور**

د اسلام دین له مسلمانانو څخه په کلکه غوښتنه کوي، چې په خپلو منځونو کې ښه چلند وکړي او دې ته یې هڅوي چې یو په بل ښې لورینې ولري او خاص ډول ښځه او خاوند یې متقابل احترام او خلوص ته هڅولي دي. یو بل ته د زیان نه رسولو حکم کوي، سړي ته له ټولو نژدې شخص د هغه ښځه او ښځې ته تر ټولو نژدې کس د هغې خاوند دی، نو ددې لپاره چې دوی په نېکمرغۍ کې ژوند تېر کړي، یو بل ته نه یوازې داچې د ستونزو لامل نه شي، بلکې د یو بل لپاره سرښندنه او تېریدنه وکړي، نو ځکه د اسلام شریعت ښځې او خاوند دواړو ته ځانګړې لارښوونې کړي، مېړه ته امر دی(**وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ**)[1] په ښه توګه ژوند ورسره وکړئ. په حدیث کې راغلي: د الله ﷻ په نزد په تاسو کې ډېر ښه هغه څوک دی چې خپلې کورنۍ ته ډېر ښه وي او زه په تاسو ټولو کې خپلې کورنۍ ته غوره یم.(۲)

له عایشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ له جهاد څخه علاوه په هیڅا هم ګذار ندی کړی او نه یې څوک وهلي دي.

همدا راز ښځو ته د اطاعت امر شوی، په حدیث شریف کې راغلي که له الله تعالی څخه پرته بل چاته سجده کیدلای، نو ښځې به خاوندانو ته په سجده کولو مامورې شوې وای.(۳)

دا ټول د ښیرازه ګډ ژوند لپاره دي، ځکه چې نېکمرغي په مینه، محبت، زړه سوي او اطاعت کې ده، په تاوتریخوالي او سختۍ کې بدمرغي پرته ده او د کورنۍ د ړنګیدو سبب جوړیږي.

خو څرنګه چې د طبیعي او محیطي لاملونو له کبله، کله نا کله په ځینو کورنیو کې دا غوره اصلي حالت بدلون مومي او په کورنیو اړیکو کې ستونزې راولاړیږي، نو اسلامي شریعت ددې غیر مطلوب حالت لپاره هم د حل لارې وړاندې کړي چې په لاندې توګه بیانیږي:

---

[1] سورة النساء آیت: ۱۹.

۲ – شرح صحیح البخاری.

۳ – سنن أبي داود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ښځې او خاوند تر مينځ د ستونزو د حل لارې**

که چيرې په ازدواجي ژوند کې ستونزې پيدا شي او ښځه په ناحقه ډول نافرماني او سرغړونې کوي نو شريعت د هغو د حل لاره ښکاره شودلې ده چې په نصيحت، ځاى جلا کولو پيلېږي او بيا په طلا ق پاى ته رسېږي. الله تعالى ﷻ فرمايي:

﴿وَاللاَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلاَ تَبْغُواْ عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا﴾ [النساء: ۳۴] ″ او تاسې چې د کومو ښځو له سر غړونې څخه انديښمن ياست: هغوى پوه کړئ، د خوب ځايونه ورڅخه جلا کړئ او ويې وهئ، (آسانه وهل، داسې سخت وهل نه چې په بدن اثر پريږدي يا يې څه مات شي)، نو که هغوى ستاسې فرمان بردارې شي، نو هغو ته د لاس غځونې له پاره بيځايه پلمې مه جوړوئ، يقينا الله تعالى ډير لوړ او لوى ذات دى.

د حل ددغو لارو د روا کيدلو يواځينى مقصد د کورنۍ دساتنې هڅه ده، دا دنفوسو او د حالاتو د اصلاح لپاره يو وقايوي عمل دى، نه داچې زړونه له فساد، بغض او کينې څخه ډک کړي.

**د ميړه او ښځې د کورنۍ مينځګړتوب**

که له ذکر شويو لارو د ښځې او ميړه تر مينځ ستونزې حل او محبت پيدا شو، خو ښه او که نه نو بيا اسلام ددې امر کوي چې د دواړو خپلوان دې مداخله وکړي، الله تعالى ﷻ فرمايي: ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلاَحًا يُوَفِّقِ اللّهُ بَيْنَهُمَا﴾ [النساء: ۳۵] ″او که تاسې د ميړه او مېرمنې د اړيکو د خرابيدو په باب انديښمن ياست؛ نو يو منځګړى د مېړه له خپلوانو څخه او يو د مېرمنې له خپلوانو څخه وټاکئ، که هغوى دواړه روغه جوړه کول وغواړي نو الله به د هغو دواړو تر مينځ د توافق لاره برابره کړي″.

او په دې کې شک نشته چې ددغو دواړو اړخونو له مينځګړو څخه خيرخواه او د ښه نيت او ارادې لرونکي کسان غوره کول، له هغو مهمو اسبابو څخه دي چې دواړه لوري په خپل ورسپارل شوي کار کې بريالیتوب ته رسولاى شي، چې هغه د اختلاف او ستونزو د اسبابو ليرې کول او د زوجيت د ژوندانه بيرته راګرځول دي.

**د حل وروستى لاره**

که دا ټولې هڅې ناکامې شوې او د اصلاحي کوششونو څخه هم نا اميدي راغله، نو بيا د ستونزو د ليرې کولو لپاره طلاق يواځينۍ لاره پاتې کېږي چې اسلام روا کړې ده، الله تعالى ﷻ فرمايي: ﴿وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّهُ كُلاًّ مِّن سَعَتِهِ وَكَانَ اللّهُ وَاسِعًا حَكِيمًا﴾ [النساء: ۱۳۰]

(c) ketabton.com: The Digital Library

{خو که مېړه او ښځه يو له بله بېل هم شي، نو الله به په خپل پراخ قدرت سره هر يو بل ته له محتاجۍ نه بې نيازه کړي. د الله ﷻ د لورينې لمن ډېره ارته ده او هغه د حکمت خاوند دی}.

په دې آيت کې مېره او ښځې دواړو ته وروسته له دې چې له لوی نعمت (زوجيت) څخه چې الله تعالیﷻ ورپه برخه کړی و محروم شول تسليت او ډاډگيرنه ورکړل شوې ده.

﴿وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النَّسَاء فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَلاَ تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لَّتَعْتَدُواْ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ﴾ [البقرة: ٢٣١] « او کله چې تاسې ښځو ته طلاق ورکړئ او د هغو عدت په پوره کېدو شي، نو يا يې په ښه توگه وساتئ يا يې په ښه شان رخصت کړئ محض د ربړولو لپاره يې مه ايساروئ چې دا به تېری زياتي وي او څوک چې دا کار وکړي هغه به په حقيقت کې خپله پر خپل ځان ظلم وکړي».

### که ستونزې د سړي له خوا وي

که چيرې ښځه ووينې چې مېړه يې رغبت ورسره نه لري، مخ ورڅخه اړوي او ستونزې ورته پيدا کوي، په دې صورت کې ښځې ته په کار دي چې د ستونزو په سبب ځان پوه کړي او د هغو د ليرې کولو او علاج لپاره هڅه وکړي، نو که چيرې دا ستونزه په دې حل کيده چې د سړي د خوښی لپاره ښځه له خپلو ځينو حقوقو څخه ورتېره شي، دا ښه کار دی چې د تاوتريخوالي د ډېريدو مخه ورباندې ونيسي، الله تعالیﷻ فرمايي: ﴿وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِن بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلاَ جُنَاْحَ عَلَيْهِمَا أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ﴾ [النساء : ١٢٨] «کله چې کومه ښځه د خپل مېړه له ناوړه چلند يا مخ اړونې څخه په وېره کې وي، نو هېڅ باك نشته، که مېړه او مېرمن (د څه حقوقو پر کمولو زياتولو) په خپلو مينځو کې روغه جوړه وکړي. روغه جوړه په هر حال ډېره ښه ده».

او که مېړه د ښځې په حق کې ظلم کوي، نفقه نه ورکوي، يا بې دينه وي، ناوړه او ناروا اخلاق لري، اسلام ښځې ته دا حق ورکړی چې قاضي ته مراجعه وکړي او د خلعې غوښتنه ورڅخه وکړي. الله تعالی ﷻ فرمايي: ﴿وَلاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُواْ مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلاَّ أَن يَخَافَا أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ [البقره : ٢٢٩]

" او تاسو (مېړونو) ته روا نه دي چې له هغه څه څخه چې دوی ته مو ورکړي (مهر) ورڅخه واخلئ، مگر که دواړه د الله ﷻ پرحدودو په دريدو کې انديښمن وي په داسې حال کې که ښځه د ځان د خلاصونې لپاره (مېړه ته) څه ورکړي، نو په دوی دواړو څه گناه نشته".

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د طلاق اختیار خاوند سره دی**

الله تعالی ﷻ د طلاق اختیار یوازې د نارینه په لاس کې ورکړی او په دې کې ډېر حکمتونه دي چې ځینو ته یې په لاندې ډول اشاره کیږي:

۱.سړی تر ښځې په خپلو عواطفو او احساساتو زیات کنټرول او واکمني لري، نو که د طلاق اختیار ښځې ته ورکړ شي، نو ډیرې به په یوه معمولي ستونزه د طلاق خواته مخه کړي.

۲.نارینه د واده په مهال مهرونه اداء کوي، نور مصارف هم دوی کوي او ښځې په واده کې مصارف نه لري، بلکې مهرونه لاس ته راوړي، نو سړي د نکاح په قطع کولو کې سنجول شوی قدم پورته کوي او په آسانه طلاق نه ورکوي.

۳.د اسلام شریعت د طلاق د کمیدلو پلوی دی او له همدې کبله یې په حلالو چارو کې تر ټولو ناوړه کار شمېرلی، خو د نا چارۍ په صورت کې یې یوازې سړیو ته د هغه د کارولو حق ورکړی، که ښځو ته یې هم دا حق ورکړی وای، نو بیا به د طلاق ورکولو پدیده ډېره پېښېده او کورنۍ به د ړنګېدو له تهدید سره زیاته لاس او ګریوان وه.

**فعالیت**

ښوونکی دې زده کوونکي په دریو ډلو وویشي چې په لاندې موضوعاتو باندې یو له بل سره خبرې اترې کړي:

۱. د ښځې او خاوند تر منځ د ستونزو د حل لارې کومې دي؟

۲. که ستونزې د سړي له خوا وي، څه کول پکار دي؟

۳. د طلاق اختیار خاوند ته ولې ورکړ شوی دی؟

**پوښتنې**

**۱.** د نېکمرغي مسلماني کورنۍ انځور بیان کړئ.

**۲.** د ښځې او خاوند تر منځ د ستونزو د حل لارې څه دي؟

**۳.** د ښځې او خاوند د ستونزو د حل وروستنۍ لاره کومه ده؟

**٤.** که ستونزې د سړي له خوا وي، نو حل څه دی؟

**۵.** د طلاق اختیار خاوند ته ورکړ شوی دی، په دې کې څه حکمتونه دي؟

**کورنۍ دنده**

د مسلماني کورنۍ اصلي انځور څه دی؟ په دې هکله یوه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طلاق

د الله ﷻ په وړاندې په حلالو کې ناخوښ حلال طلاق دی او شریعت د مېړه او ښځې تر منځ د ستونزو د وروستي حل په توګه روا کړی دی.

**د طلاق تعریف**

**طلاق په لغت کې:** د قید لېرې کولو ته وایي

**په اصطلاح کې:** په ځانګړو الفاظو سره د نکاح د قید لېرې کولو او پای ته رسولو ته طلاق ویل کیږي.

**د طلاق د مشروعیت حکمت**

طلاق له هغو حلالو شیانو څخه دی چې الله تعالی ﷻ ته خوښ نه دی، لیکن دا د هغې مریضې کورنۍ علاج دی چې نورې ټولې دواوې یې کارولې وي او یوازې همدغه دوا ورته پاتې وي، د طلاق مثال داسې طبیب او ډاکټر ته ورته دی چې په بدن کې د خراب شوي غړي پرېکیدو ته اړ کیږي، تر څو نور بدن ته سرایت ونه کړي.

کله چې د مېړه او ښځې حالت دې حد ته ورسیږي چې کرکه او کینه د مینې او محبت ځای ونیسي، د ژوند پر مخ بیول ورته ګران او ناشوني شي، نو بیا غوره دا ده چې په خوشحالۍ سره بیل شي او د خپلې خوښې نوی ژوند پیل کړي، د کرکې له شتون سره سره د زوجینو یو ځای اوسېدل او د طلاق لاره بندول لکه په کفري ټولنو کې چې معمول دي، ددې باعث ګرځي چې ناروغي د کورنۍ نورو غړو ته سرایت وکړي، طبیعتونه یې فاسد او له کینو څخه ډکیږي، انساني پاک احساسات یې بدلون پیدا کوي، د ماشوم ژوند بیا د مور پلار له داسې ګډ ژوند څخه چې هغه له اختلافه او نفرتونو ډک وي په جلا والي کې ډېر ښه او یا کم ضرره وي، له کرکجنو او متخاصمو والدینو سره به څنګه ماشوم صالحه تربیه تر لاسه کړي؟ او له کومه به د ماشوم د مینې، شفقت او مهربانۍ عاطفې ته ځواب وویل شي، په داسې حال کې چې هغه ورته په دې عمر کې ډېره اړتیا لري. ناروغه کورنۍ د ټولنې د فساد سبب جوړیږي، نو هغه سړی به څه کوي چې له خپلې ښځې نه یې کرکه وي بې له دې چې ځان ته به بله ملګرې پیدا کوي او د شهوت غریزه به ورباندې سړوي، ښځه به بیا خامخا دې ته ورته کار کوي او په دې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

به د همدي کورنۍ ناروغي د ټولنې نورو وګړو ته سرايت کوي او ټولنه به په فساد اخته کيږي، نو ددي قاعدې له مخې چې: له دوو زيانونو څخه کم او خفيف زيان غوره کيږي، اسلام طلاق رواکړی دی.

**اسلام صبر او زغم ته ترغيب ورکوي**

اسلام د ستونزو با وجود هم مېړه او ښځه دواړه دي ته هڅولي دي چې له صبراو زغم څخه کار واخلي، نارينه يې هڅولي چې د ښځو په طبائعو دې صبر وکړي او د زوجيت دا ژمنه دې نه ماتوي، الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا﴾ [النساء: ١٩]

«له هغو (خپلو ښځو) سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ که ستاسې هغوی نه خوښېږئ، نو کېدای شي چې تاسې به يو شی نه خوښوئ، خو الله ﷻ به په هغه کې ډېرې ښېګڼې ايښې وي».

همدا شان اسلام ښځه هم دي ته ترغيب کړې چې له مېړه سره په ژوند کولو کې د صبر او زغم څخه کار واخلي، په آسانۍ دې داسې حالات نه جوړوي چې د کورنۍ جوړښت ته يې زيان ورسيږي، په يوه حديث کې رسول الله ﷺ فرمايي:

«أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا الطَّلَاقَ فِي غَيْرِ مَا بَأْسٍ فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ» "کومه ښځه چې بې موجبه له مېړه څخه طلاق غواړي، نو په هغې د جنت بوی حرام دی".

**د طلاق حُکم**

په طلاق کې اصل منعه او نه کول دي، خو د اړتيا لپاره روا شوی دی چې له امله يې د ښځې او مېړه تر منځ بېلتون راځي.

**د طلاق شرطونه**

په طلاق کې مهم شرطونه په لاندې ډول دي:

١. طلاق ورکوونکی به زوج وي، يعني په صحيح نکاح به دښځې خاوند وي.
٢. طلاق ورکوونکی به بالغ وي، نو د هلک طلاق نه واقع کيږي.
٣. طلاق ورکوونکی به عاقل وي، نو د لېوني طلاق نه صحيح کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤. طلاق به په داسې الفاظو ورکوي چې صراحتاً یا کنایتاًورباندې دلالت وکړي
٥. د کنایی الفاظو په صورت کې به سړی د طلاق نیت لري.

**فعالیت**

زده کوونکي دې ووایي چې ددوی په سیمو کې سړي خپلو ښځو ته کوم الفاظ استعمالوي چې له ورایه د طلاق معنا ورکوي؟

**پوښتنې**

١. طلاق تعریف کړئ.
٢. د طلاق د مشروعیت حکمت بیان کړئ.
٣. اسلام مېړه صبر او زغم ته رابولي دلیل یې بیان کړئ.
٤. د طلاق حکم څه دی؟
٥. د طلاق شرطونه بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طلاق ډولونه

له ابراهيم النخعي رحمه الله څخه روايت شوی دی چې صحابه کرامو به د سنت مطابق دا غوره ګڼل چې ښځې ته له يوه څخه زيات طلاق ورنه کړي (په يو ځل بايد درې طلاقه ورنکړل شي) يو طلاق به يې ورکاوه اوعدت به يې تېريده.

**د طلاق ډولونه**

طلاق په مختلفو اعتبارونو وېشل شوی چې په لاندې توګه بيانيږي:

**طلاق د لفظ له مخې:** طلاق د صيغې او لفظ له مخې په دوه ډوله دی: صريح او کنايه.

۱. **صريح:** هغه لفظ دی چې د طلاق مراد ورڅخه په واضح ډول معلوميږي، په عرف او رواج کې هغه په طلاق دلالت کوي، لکه چې ښځې ته ووايي: ته طلاقه، يا ته په ما حرامه يې.

د صريح طلاق حکم: د صريح لفظ په ويلو سره بې له نيت کولو طلاق واقع کېږي، نو که ښځې ته وويل شي چې ته طلاقه يې او بيا دعوه وکړي چې مطلب مې طلاق نه و، دده دغې دعوې ته اعتبار نه ورکول کيږي.

۲- **کنايه:** په طلاق ورکولو کې داسې لفظونو ته وايي چې هم د طلاق او هم د بل شي معنا ولري، خو خلک يې د صريح طلاق په معنا نه پېژني، لکه چې ووايي: له خپلې پلارګنۍ سره دې يو ځای شه، يا له کوره ووځه.

**دکنايي طلاق حکم:** د کنايي لفظ په ويلو سره طلاق هلته واقع کېږي چې نيت يې د طلاق وي او که يې نيت د طلاق نه وي طلاق نه واقع کيږي.

**طلاق د بدعت او سنت له مخې:** د سنت او بدعت له مخې طلاق په دوه ډوله دی: سني او بدعي.

۱.**سني طلاق:** سني هغه طلاق دی چې د سنت موافق وي او هغه داسې چې سړی خپله ښځه د ريښتيني عذر د لرلو په اساس په يوه طلاق په داسې طهر کې طلاقه کړي چې ورسره يو ځای شوی نه وي او حامله هم نه وي، له يوه طلاق اچولو وروسته يې پريږدي چې عدت يې تېر شي او ورڅخه بيله شي دا غوره لاره ده. خو که د سړي د جلا کيدو قصد د دلايلو پر بنسټ پوخ وي د دې لپاره چې خپله او د ښځې طمعه قطعه کړي او په يوه طهر کې يو په بل طهر کې دويم او په دريم طهر کې دريم طلاق ورواچوي، دا هم سني طلاق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. **بدعي طلاق:** هغه طلاق دی چې د سنت طریقې خلاف ورکړ شي هغه داسې چې خاوند خپلې مېرمنې ته په یو ځل دوه یا درې طلاقه، یا د حیض او یا دحمل په دوران کې ورته طلاق ورکړي یا په داسې طهر کې طلاق ورکړي چې په هغه کې یې جماع کړې وي، دا طلاق واقع کېږي، خو ورکوونکی یې ګنهګار دی.

**دریم**– د رجعیت او بینونت له مخې طلاق په درې ډوله دی:

۱. **رجعي طلاق:** هغه دی چې زوج له طلاق څخه وروسته ددې واك او اختیار ولري چې خپله مېرمن راوګرځوي بې له دې چې نوي عقد ته اړتیا پیدا شي، د هغې خوښه وي او یا یې نه وي. دا د لومړی او دویم طلاق له ورکولو وروسته، خو په دې شرط چې د عدت وخت یې لا پاتې وي او که یې د عدت وخت تېر شو، بیا رجعي طلاق په بائن بدلیږي او د مېرمنې خاوند له نوې عقد پرته د هغې د راګرځیدو واك نه لري.

۲. **باین طلاق:** هغه طلاق ته وایي چې په کنایي الفاظو لویدلی وي، لکه چې ورته ووایي ته نوره جلا کړای شوې یې، کورته دې ولاړه شه، یا له کوره ووزه او داسې نور، خو په دې شرط چې د طلاق نیت ولري، په دې صورت کې یو باین طلاق واقع کیږي زوج کولای شي په نوي عقد او مهر طلاقه کړې ښځه بېرته په نکاح کړي.[1]

۳. **مغلظ طلاق:** هغه طلاق ته وایي چې په درې طلاقه سره خپله مېرمن طلاقه کړي، په دې صورت کې خاوند نه شي کولای چې طلاقه کړې مېرمن ځان ته راوګرځوي، خو هلته یې په نکاح کولای شي چې دا مېرمن له بل چا سره په صحیحې نکاح سره واده وکړي، هغه ورسره یو ځای شي، بیایې یا طلاقه کړي او یا ورڅخه مړ شي او عدت یې هم تېر شي، نو ده ته په دې صورت کې روا ده چې نوې نکاح ورسره وکړي.

**فعالیت:** زده کوونکې دې په خپلو منځو کې د طلاق ډولونه روښانه کړي.

## پوښتنې

۱. طلاق د لفظ له مخې په څو ډوله دی؟ بیان یې کړئ.
۲. طلاق د بدعت او سنت له مخې په څو ډوله دی؟ شرحه یې کړئ.
۳. د طلاق ډولونه د رجعیت او بینونت له مخې په ګوته کړئ.

۱ – العناية شرح الهداية – (٥ / ٢٧٢).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تفريق ډولونه (۱)

له طلاق څخه علاوه د ښځې او خاوند تر منځ د خلع، لعان، ايلاء، او ظهار په ذريعه هم بيلتون را منځ ته كيږي، غواړو په دې لوست كې په همدې موضوعاتو خبرې وكړو.

### ۱. خلع

كله كله د مېرمنې او خاوند تر منځ ژوند تريخ او ستونزمن شي، مېرمن كولاى شي د څه مال په عوض كې خپل خاوند په خلع كولو قانع او ځان ورڅخه جلا كړي.

### د خلع تعريف

خلع په لغت كې: لېرې كولو ته وايي.

د فقهاوو په اصطلاح كې: له ښځې څخه د هغې د مال په عوض كې د خلع په لفظ سره د نكاح د واك ختمولو ته ويل كيږي(۱)

### د خلع مشروعيت

كله كله د طبيعي، اخلاقي، ديني او صحي سببونو له امله د مېرمن او خاوند ترمنځ ژوند ستونزمن شي چې په نتيجه كې مېرمن، نور نه غواړي چې د خپل خاوند سره ژوند وكړي. د همدې اړتيا له مخې اسلامي شريعت خلع روا كړې، څو د مال په عوض كې وكړاى شي ځان له دې حرج او تكليف څخه خلاص كړي، تر څو د الله ﷻ د حدودو څخه د تېري او د خاوند د اطاعت په مخالفت كې ونه لوېږي.

### دخلع د مشروعيت دليل

**الله تعالى ﷻ فرمايي:** ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ [البقرة: ۲۲۹]

" نو كه تاسې ته دا وېره وي چې هغوى دواړه به د الله ﷻ پر حدودو ټينګ پاتې نشي، نو د هغو دواړو په منځ كې ددې خبرې باك نشته چې مېرمن خپل مېړه ته يو څه بدل وركړي (او ځان ورڅخه بېل كړي.) "

**نبوي حديث:** له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چې د حضرت ثابت بن قيس الانصاري رضي الله عنه مېرمن (**جميلة** بنت أبي بن سلول) رسول الله ﷺ ته راغله ويې ويل: اې د الله رسوله ! زه د ثابت بن قيس په دين او اخلاقو نيوكه نه لرم، خو نه غواړم

۱ - العناية شرح الهداية - (٥ / ٤٦٥).

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د تريخ ژوند له امله په ناروا کار او د کفر په اسبابو کې ولويږم، رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: (ته غواړې چې خپل باغ بېرته ورکړې) هغې وويل: هو، نو ده ته يې باغ بېرته ورکړه او رسول الله ﷺ ثابت رضی الله عنه ته د منلو امر وکړ، نو يې پرېښوده.[١]

## د خلع حکم

د خلع په تر سره کيدلو باين طلاق واقع کيږي او په ښځې د ټاکلي مال ورکول لازميږي.

## د خلع او طلاق تر منځ توپير

طلاق د سړي له لوري ورکول کيږي او خلع د مېرمنې له خوا د يوه څه مال په ورکولو غوښتل کيږي. کله چې د دواړو اړخونو موافقه راغله، خلع تر سره کيږي او په ښځې باندې د ټاکلي مال ورکول لازميږي.

## بې سببه د خلع د غوښتنې کراهيت

له کوم موجه سبب څخه پرته د خلع غوښتنه مکروه کار دی، په يوه حديث کې له رسول الله ﷺ څخه روايت شوی چې فرمايي: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ اخْتَلَعَتْ مِنْ زَوْجِهَا مِنْ غَيْرِ بَأْسٍ لَمْ تَرِحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ»[٢] "هره ښځه چې له اړتيا پرته له خاوند سره خلع وکړي د جنت بوی به يې تر سپږمو نه شي".

او په بل حديث کې فرمايي: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلاَقًا فِي غَيْرِ مَا بَأْسٍ فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ»[٣] "هره ښځه چې له شديدې اړتيا پرته له خاوند څخه د طلاق غوښتنه وکړي په هغې د جنت بوی حرام دی.

## د خلع احکام

- که چيرې جفا، نافرماني او بده کړنه د خاوند له خوا وي، نو سړي ته دا مکروه ده چې له مېرمنې څخه بدل واخلي، خو که نافرماني د مېرمنې له خوا وي بيا د خلع په مقابل کې د عوض او مال اخيستل روا دي.
- هر هغه شی چې مهر او د نکاح بدل جوړېدلای شي، هغه د خلع عوض او بدل هم کېدای شي.

---

١ – السنن الکبری للبيهقي.

٢ – مسند الصحابة في الکتب الستة.

٣ – السنن الکبری للبيهقي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خلع د زوج له موافقې پرته صحت نه پیدا کوي، ځکه طلاق ورکول د سړي حق دی، نو که خاوند یې ونه مني خلع نه واقع کیږي.

**۲- لعان**

**د لعان تعریف**

لعان په لغت کې: له لعن څخه اخیستل شوی چې لیرې کولو ته وایي.

په شرعي اصطلاح کې: د میرمنې او خاوند تر منځ له لعن او غضب سره شهادت ورکولو ته وایي چې د زنا د شهادت په څیر د څلورو شاهدانو ځای نیسي، سړی په دې ډول شاهدي ورکولو سره د قذف له حد څخه خلاصیږي او قسمونه یې د څلورو شاهدانو حکم پیدا کوي او ښځه په دې ډول شاهدي ورکولو سره د زنا حد له ځان څخه دفع کوي او له حد څخه ژغورل کیږي.

**د لعان مشروعیت**

د لعان مشروعیت په قرآن کریم ثابت دی، الله تعالی ﷻ فرمایي:

**﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاء إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ۞ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ۞ وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ۞ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِن كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ﴾** [النور: ٦ – ٩]

«او کوم کسان چې پر خپلو میرمنو باندې تور لګوي او له هغو سره په خپله د هغو له خپل ځان نه پرته نور شاهدان نه وي، نو له هغو نه د یوه تن شاهدي (دا ده چې هغه) څلور ځله په الله ﷻ باندې په قسم خوړلو سره شاهدي ووایي چې هغه (په خپل تور ویلو کې) رېښتونی دی او پنځم ځل ووایي چې پر هغه باندې دې د الله ﷻ لعنت وي که هغه (په خپل تور ویلو کې) دروغجن وي او له ښځې نه د سزا مخنیوی په دې ډول سره کېدای شي چې هغه څلور ځله په الله ﷻ باندې په قسم خوړلو سره شاهدي ووایي چې دغه سړی (په خپل تور ویلو کې) دروغجن دی او په پنځم ځل کې ووایي چې پر هغې باندې دې د الله ﷻ غضب وي که هغه (په خپل تور ویلو کې) رېښتونی وي.»

له ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د انصارو د یوه سړي او دده د ښځې تر منځ لعان تر سره کړ او دوی یې سره جلا کړل.[1]

**د لعان د مشروعیت حکمت**

لعان ددې لپاره روا شوی دی چې د تور لګولو په صورت کې سړیو ته د خپل حریم څخه د دفاع وروستۍ لاره جوړه شي، څو سړی وکولای شي دنورو شاهدانو د نه شتون

---

١ – صحیح البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په صورت کې د وروستی وسیلې په توګه له خپلو مؤکدو ګواهیو څخه کار واخلي او مېرمنې ته دده د حریم د پایمالولو سزا ورکړي. خو څرنګه چې د اسلامي شریعت بنسټ په عدل ایښودل شوی، ښځې ته هم له ځان څخه ددفاع او د خاوند د تور د لیرې کولو حق ورکړ شوی، څو په خپلو مؤکدو ګواهیو دا عذاب او پیغور له ځان څخه لیرې کړي.

### د لعان کیفیت

کله چې خاوند خپله مېرمن په زنا تورنه کړي او یا د هغې د ماشوم له نسب څخه منکر شي (چې دا هم د صریح زنا کولو په معنا ده) او په دې خبره کوم ښکاره دلیل هم ونه لري، ښځه دده تور ونه مني او د قذف د حد د اقامت غوښتنه وکړي، نو قاضي به د دوی تر منځ د لعان پرېکړه کوي او دواړه به هغه مخصوص الفاظ چې قرآن کریم د لعان لپاره ټاکلي د قاضي په وړاندې وایي، له دې څخه وروسته قاضي ښځه او خاوند سره جلا کوي چې بیا دا مېرمن په دې سړي باندې حرامیږي.

### د لعان حکم

د لعان د شاهدۍ په ویلو د مېرمن او خاوند تر منځ جلا کیدل واجبیږي، قاضي به د دوی د جلا والي حکم کوي، په دې سره باین طلاق واقع کیږي او له مېرمنې سره جماع او د جماع دواعي حرام ګرځي، که څه هم سره جلا شوي لا هم نه وي.

## پوښتنې

۱. خلع تعریف کړئ.
۲. د خلع د مشروعیت حکمت څه دی؟
۳. د خلع د مشروعیت دلیل څه دی؟
٤. د خلع حکم څه دی؟
۵. آیا د خلع او طلاق توپیر شته؟
٦. بې سببه د خلع کول څه حکم لري؟
۷. لعان تعریف کړئ.
۸. د لعان د مشروعیت حکمت او دلیل روښانه کړئ.
۹. د لعان کیفیت څه دی؟ بیان یې کړئ.
۱۰. د لعان حکم وښیئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تفريق پاتې ډولونه (۲)

**۳- ايلاء**

**ايلاء په لغت کې:** قسم ته وايي.

**په شرعي اصطلاح کې:** په تاکيد سره داسې قسم کولو ته وايي چې خپلې منکوحې ته به تر څلورو مياشتو يا له هغه زيات وخت پورې نه ورنږدې کېږي (جماع به ورسره نه کوي).

**د ايلاء کفاره:**

کله چې خاوند د څلورو مياشتو څخه مخکې خپلې مېرمنې ته رجوع وکړي کفاره پرې لازمېږي، دغه کفاره د قسم کفاره ده.

**د ايلاء مشروعيت**

د ايلاء مشروعيت د الله تعالیﷻ په دې قول ثابت دی: ﴿لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَآؤُوا فَإِنَّ اللهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۞ وَإِنْ عَزَمُواْ الطَّلاَقَ فَإِنَّ اللّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ [البقرة: ۲۲۶ – ۲۲۷]

"کوم خلک چې له خپلو مېرمنو سره د نا اړوندی لوړې کوي، هغوی ته څلور مياشتې وخت دی، که يې ورته رجوع وکړه، نو الله ښښونکی او رحيم دی او که هغوی د طلاق هوډ کړی وي، نو ودې پوهېږي چې اللهﷻ هر څه اوري او په هر څه پوهېږي."

**په حنفي مذهب کې ايلا مکروه تحريمي ده؟**

د جاهليت په زمانه کې به عربو د خپلو ښځو د ځورولو لپاره د اکار کاوه چې تر يوه کاله يا له يوه کال څخه زيات هغه به خپلو ښځو ته نه ورنږدې کېدل، اسلامي شريعت ايلاء داسې قسم وګرځاوه چې په څلورو مياشتو کې بايد پای ته ورسېږي، قسم کوونکی په دې کې مخير دی چې قسم مات کړي او خپلې مېرمنې ته رجوع کوي او يا په قسم وفا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي او ښځه له ځان څخه بیلوي، نو که یې بېرته رجوع وکړه د قسم کفـاره بـه ورکـوي او که نه نو مېرمن یې ورباندې د وخت په پوره کېدو سره په باین طلاق طلاقیږي.

**د ایلاء حکم**

که چیرې څلور میاشتې تېرې شي، نو مېرمنې یې په باین طلاق وربانديې طلاقیږي، که یـې خپلې مېرمنې ته رجوع وکړه اوقسم یې مات کړ، نو د قسم کفاره به ورکوي.

**۴- ظهار**

**د ظهار تعریف:** د خاوند لخوا د خپلې مېرمنې تشبیه کولو ته وایي، له داسې مېرمنـې سـره چې هغه په ده د ابد لپاره محرمه وي، لکه چې ورته ووایي ته په مـا لکـه زمـا مـور داسـې یې، یا ته په ما لکه زما د مور د شا په څېر یې.

**د ظهار حکم**

ظهار ناروا او حرام کار دی او ظهار کوونکی وربانديې گناهگاریږي، الله تعالی ﷻ فرمایي: ﴿الَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَائِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ﴾ [المجادلة: ٢] "له تاسې نه چې کوم کسان لـه خپلـو ښځونه ظهار کوي (مور ورته وایي)، د دوی مېرمنې د دوی میندې نه دي، د هغو مینـدې، خو همغه دي چې هغوی یې زېږولي دي. دوی یـوه ډېـره نـاوړه او درواغ خبـره کـوي او حقیقت دادی چې الله ﷻ ډېر معافي کوونکی او ښنونکی دی."

**د ظهار حکم**

د ظهار په ترسره کولو خاوند ته له ښځې سره جماع او یا د جماع مقدمات لکه مسه کـول ښکلول تر هغو حرامیږي، څو چې کفاره ورنکړي.

**د ظهار کفاره**

د کفارې په نیت د یوې رقبې (غلام) آزادول او که یې نه درلوده بیا، نو ددوو پرلـه پسـې میاشتو روژه نیول دي او که د روژو د نیولو قدرت نـه و، بیـا شـپیتو مـسکینانو تـه پـه مـړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګېډه خواړه ورکول، یا د خوړو قیمت ورکول دي چې سهار او بېګا ورباندې ځان موړ کړای شي. الله تعالی فرمایي:

﴿وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۞ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

**[المجادلة: ۲ – ۳]**

"کوم کسان چې له خپلو مېرمنو نه ظهار وکړي بیا له خپلې هغې خبرې نه راواوړي چې کړې یې وه، نو مخکې له دې نه چې دواړه یوبل ته لاس ور وړي، یو غلام آزادول به وي، پدې (کفارې) سره تاسې ته نصیحت کیږي او تاسې چې څه کوئ الله جل جلاله ترینه ښه خبر دی او څوک چې غلام ونه مومي هغه دې دوه میاشتې پرله پسې روژه ونیسي. مخکې له دې نه چې دواړه یوبل ته لاس وروړي او څوک چې په دې هم قادرنه وي هغه دې شپیتو مسکینانو ته خواړه ورکړي د (کفارې) دغه حکم د دې لپاره درکول کیږي چې تاسې پر الله جل جلاله او د هغه پر پیغمبر ﷺ ایمان راوړئ. دا د الله جل جلاله ټاکلي حدود دي او د کافرانو لپاره دردناکه سزا ده".

## پوښتني

۱. ایلاء لغتاً او اصطلاحاً تعریف کړئ.

۲. د ایلاء د مشروعیت دلیل څه دی؟

۳. د ایلاء حکم بیان کړئ.

٤. ظهار تعریف کړئ.

٥. د ظهار حکم له دلیل سره بیان کړئ.

٦. د ظهار کفاره څه ده؟ تفصیل ورکړئ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**